اوسکارفون نیدرمایر

دافغانستان دخپلواکۍ دبېرته
گټلو دیواتیایمې کلیزې په ویاړ

# افغانستان

# دهندستره دروازه



ژباړن

خوشال انځور

Ketabton.com



## اوسکارفون نیدرمایر

(Oskar Von Niedermayer)

پر ۱۸۸۵ع کال دجرمني دفرایزینګ په ښارګوټي کې زېږېدلی.له لومړنیو او منځنیو زده کړو وروسته یې لوړې پوځي زده کړې ترسره کړې. په ستراتیژیکو اوجیوپولیتیکو څانګو کې یې تخصص درلود او په دې اړه یې زیات آثار لیکلي دي.

په لومړۍ او دویمه نړېواله جګړه کې یې ونډه لرله، په علمي برخه کې ترپروفیسرۍ اوپه پوځي برخه کې ترجنرالۍ رسېدلی و.

ددویمي نړېوالې جګړې په پای کې په جرمني کې دروسانو له خوا ونیول شو اود ۱۹۴۸ع کال دسپتمبر پر۲۵ نېټه یې دروسانو په زندان کې له نړۍ سترګې پټې کړې.

دڅونورو آثارو نومونه یې دادي:

- دشوروي روسیې جیوبولیتیکي ستونزې.
- پوځي سیاست.
- پوځي جغرافیه اوځیني نور.

ACKU

Ketabton.com

اوسکارفون نیدرمایر

# افغانستان

# دهندستره دروازه

(دلومړۍ نړیوالې جګړې په بهیرکې پارس او افغانستان ته
دجرمني پوځي ډلې یونلیک)

PROPERTY OF ARIC Established 1989

ژباړن
خوشال انځور

PROPERTY OF ACKU ۹۱۱۹
AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00009119 8
Ketabton.com

کتاب پېژندنه

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | افغانستان د هند ستره دروازه |
| لیکوال | : | اوسکارفون نیدرمایر |
| ژباړن | : | خوشال انځور |
| مهتمم | : | عزت الله ځواب |
| کمپوز | : | نعمت الله رسولي (د ختیځ د بیارغونې اداره) |
| خپروندوی | : | د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه - جرمني |
| د خپرونو لړ | : | (۱۴) |
| چاپشمېر | : | ۱۰۰۰ ټوکه |
| چاپنېټه | : | ۱۳۷۹ ل - ۲۰۰۰ م کال |

حلیمي پرنتنگ ایجنس گل حاجي پلازه اتاق (۱۲۵) تلفون: ۸٤۰۲۷۲

---

د یو ټوك بیه : په افغانستان کې (۳۰۰۰۰) افغانی
په پاکستان کې : (۵۰) کلداري
په نورو هېوادونو کې: (۵) امریکایي ډالر او یا د هغو انډول.
یادونه: د کتاب ټول حقوق د افغانستان کلتوري ودې ټولنې سره خوندي دي.

ACKU
Ketabton.com

بسم الله الرحمن الرحیم

Ketabton.com

# ډالۍ

خپله دغه ژباړه
خپل نیکه (الحاج عبدالطیف ګردیوال)
ته ډالۍ کوم چې هم مې "بابا" دی او
هم زما په څېر د وطن د ډېرو بچو
ښوونکی

خوشال انځور



Ketabton.com

# نیو لیک

یو تاریخي یو نلیک
یو تاریخي سند (د تږلنۍ یادښت) ........ ۱
د ژباړونکي سریزه ........ ۴
د لیکوال سریزه ........ ۶
له لویدیځې جبهې څخه د برلین پر لور ........ ۸
برلین - بغداد ........ ۱۲
د ترکانو له خوا ونیول شول ........ ۲۰
د ترکیې او پارس په جنګي سیمه کې ........ ۳۳
په پارس کې مخکې تګ ........ ۳۵
د ایران په دوزخ کې ........ ۳۷
د دښمنانو د لیکو له لارې ........ ۳۸
د هر کلك ښارل ........ ۴۲
د هند په دروازه کې ........ ۴۹
د تاڼو په هېواد کې ........ ۵۷
د نا هیلۍ ورځې ........ ۶۶
د امیر په ماڼۍ کې ........ ۷۳
جرمني لمسونونه ........ ۸۲
د سکندر پر پلونو ........ ۹۲
د روسیې پر پوله ........ ۹۹
په سوزنده لمر کې ........ ۱۰۳
د یون پای او دسفر د پلونو نښې ........ ۱۱۵
نښلونې او یو شمېر لاسوندونه (اسناد) ........ ۱۱۸

ACKU



Ketabton.com

د تولنې یادښت

# یو تاریخي یو نلیک
# یو تاریخي سند

د افغانستان د اوسني (معاصر) تاریخ په هکله له لټون، څېړنو او یو زیات شمېر مهمو لیکنو سره سره، تر اوسه پورې د دې تاریخ ډېر اړخونه لا په تیاره کې دي او په بشپړه توګه نه دي روښانه شوي. له همدې امله هر هغه ګام، هره هغه څېړنه او د لټو هر هغه څوك د پوره ستاینې وړ دی چې زموږ د هېواد د تاریخ ددغه پړاو د تیارو اړخونو د روښانه کېدلو لپاره تر سره کېږي.

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې د خپلو علمي او تاریخي څېړنیو هلو ځلو په لړ کې تر اوسه پورې په دې برخه کې یو شمېر ګامونه اخیستي دي او د خوښۍ ځای دی چې ددغه اوسني کتاب له ژباړې او خپرېدو سره، دغه لړۍ دوام مومي.

په جرمني ژبه د اوسکار فون نیدر مایر (Oskar von Niedermayer) ددغه یونلیك ارزښت یوازې په دې کې نه دی پروت چې په لومړۍ نړیواله جګړه کې ددغې جګړې د اصلي ښښلونکي او دوخت د لوی زبرځواك (جرمني) یوه پوځي – سیاسي ډله د یو شمېر مهمو تکو د مطرح کولو او افغاني چارواکو ته د هغې سیمې د حالاتو په اړه د یو شمېر مهمو وړاندیزونو لپاره سفر کوي، ددغه ارزښت په څنګ، دغه یونلیك یو بل ارزښت هم لري او هغه دادی چې د لومړۍ نړیوالې جګړې په بهیر کې په سیمه کې د افغانستان پرستراتیژیك ارزښت خبرې لري، د سیمې د هېوادونو په منځ کې یې د هغه وخت دریځ تر یو خایه جوتېږي او تردې هم مهمه داده چې د افغانستان د هغه وخت د حالات په اړه د لومړي ځل لپاره ځینې ټکي په کې روښانه کېږي او دوخت د واکمنو او چارواکو پر دریځونو ځینې په زړه پورې خبرې لري.

د دې یونلیك لیکوال اوسکارفون نیدر مایر په (۱۸۸۵) ع کال کې د جرمني د فرایزینګ (Freising) په ښارګوټي کې زېږېدلی او له لومړنیو زده کړو وروسته یې لوړې پوځي زده کړې تر سره کړې دي. نو موړی د پوځي، ستراتیژیکو او جیوپولیتیکو څېړنو د یو خانګړ پوه (متخصص) په توګه پوره شهرت لري. د جرمني د هغه وخت د پتو پوځي ماموریتو او ځارګریزو پوځي هلو ځلو په پرمخ



Ketabton.com

بیولوکې یې هم ونډه لرله او له دې امله یې څو ځله ختیځ ته هم ستړي کوونکې سفرونه لرل. نوموړي د نړۍ د جغرافیې په هکله هم یو شمېر مهم اثار کښلي دي او د افغانستان په اړه نوري لیکنې هم لري. نیدر مایر د ستراتیژیکو څېړنو او سیاسي ـ جغرافیایي پلټنو په تر سره کولو کې استاذۍ ته رسېدلی و او د "پروفیسرۍ" درجه یې تر لاسه کړې وه. دغه راز په پوځي رتبو کې تر جنرالۍ رسېدلی و. په دویمه نړیواله جګړه کې چې جرمنانو ماتې وخوړه او روسان جرمنی ته ورننوتل نو جنرال نیدر مایر یې سمدلاسه زنداني او په (۲۵) کالو بند یې محکوم کړ. هغه د روسانو په زندان کې د (۱۹۴۸) میلادي کال د سپتمبر په (۲۵) نېټه له نړۍ سترګې پټې کړې.

افغانستان ته یې د لومړۍ نړیوالې جګړې په بهیر کې سفر درلود او په دغه وخت کې په افغانستان کې د امیرحبیب الله خان واکمني وه. په دغه اثر کې د لومړي ځل لپاره د امیر حبیب الله خان او د هغه د واکمنۍ د حالاتو د ښې روښانتیا لپاره داسې موضوعګانې هم مطرح کېږي چې زمونږ لپاره بیخي نوې دي. سره له دې چې نیدرمایر ددغه یونلیك په وخت کې ځینې خبرې (او مهمې خبرې) نه دي ځرګندې کړې، خو بیا هم دغه ځرګندې شوې خبرې یې هم پوره ارزښت لري هغه په خپله سریزه کې لیکلي چې: "تر اوسه پورې لا ددغو پېښو ډېر برخه وال ژوندي دي او پرماتینګار کوي چې ځینې پټې خبرې تر یوه حده پټې وساتم او زیاتې یې ځرګندې نه کړم. پر دغه هم د اصلي پېښو د لړۍ اړیکي او ترون نه تاواني کېږي"

د افغانستان د خلکو د افغاني ځانګړنو په اړه ځای ځای په زړه پورې تکې لري او ان دپارس له خلکو سره یې په پرتله لیکي:... مونږ په دې زیات خوشاله شو چې هغوی مونږ ته د افغانستان د حکومت د مېلمنو په توګه هرکلې ووایه. مونږ له دې ځخه نه وو خبر چې د ختیځ خلك دومره مهربانه دي. سره له دې چې له مونږ سره یې توپیر درلود خو بیا هم مونږ دغو خواخوږو، ساده او د پښتنو خلکو له زړه خوشاله کړلو. د پارس له خلکو سره چې مونږ څو تېرې میاشتې ورسره یو ځای وو، دوی توپیر درلود" د لومړۍ نړیوالې جګړې په بهیر کې، افغانستان ته د یو ګډ پلاوي د تګ وړاندیز د ترکې د هغه وخت دحکومت له خوا شوی و، لکه ینډرمایر چې ځای ځای اشاره ورته کوي، ترکانو د ځینو ځرګندو او ناځرګندو لاملونو له کبله وروسته ځان له دغه ګډ سفر ځخه څنګ ته کړ او له همدې امله دغه پوځي سیاسي ډله له دې وروسته تقریباً یوازې د جرمنیانو د ډلې په توګه او یا د هغوی په لارښودنه خپل سفر ته پاېښت ورکوي. له دې سره سره افغانستان ته له ور رسېدلو



Ketabton.com

سره دغه ډله د جرمني – ترکي (او د هندي ازادي غوښتونکو) د يوې ګډې ډلې په توګه ځان ځرګندوي. ځکه چې څو ترکي استازي هم له خانه سره ملګري کوي او دغه راز يې په ډله کې د هغه وخت د هندوستان د خپلواکۍ غوښتونکو له ډلې څخه راجا مهنداس پرتاب او مولوي برکت الله هم ملګري وو. دا هماغه کسان وو چې ددې ډلې له وتلو وروسته هم تر يو وخته په افغانستان کې پاتې شول او په افغانستان کې يې د هند لومړنۍ خپلواک (جلاوطنه) حکومت جوړ کړ. د هغه وخت د افغان واکمن (اميرحبيب الله خان) او له انګرېزانو سره د هغه د اړيکو د حدودو په باب سړی ددې يونليك له ځينو ځرګندونو څخه ښه خبرېدای شي، همدارنګه د هغه وخت د ځينو نورو مهمو چارواکو د اندونو په باب هم، لکه چې يو ځای لولو... زما د ډلې له هندي او ترکي ملګرو سره مو مخالفت پيدا شو. ځکه هغوی د تېرخل د دښتو اوږده سفر ډېر ستړي کړي وو، خو زموږ جرمني پرېکړه ډېره کلکه وه. سره له دې چې افغانانو او په تېره بيا امير او ورور يې نصرالله په هر ډول زموږ د تګ مخالفت کاوه. ددغه ستر سړي له خوا له ګڼو ډاليو سره، زموږ سره مخه ښه وشوه. دده هغه کلمې پر ماښې ولګېدې چې د جرمني د لېږې ملګرتيا هيله يې ځرګنده کړه. زموږ ددښمنانو خبرې چې هغه ګوندې موږ په زور سره له خپل هېواده شړلو، بېخي ناسمې دي. امير زه د کړکۍ پر لور بوتلم او هلته يوې ويجاړې ماڼۍ ته يې ګوته ونيوله او وې ويل "تاسو ما د انګرېزانو د يو ملګري په توګه ګڼئ. هغه اولس چې داسې يوه ښه ښه يې موږ ته راپرېښې ده، د هيڅ يو افغان لپاره نه شي دوست کېدای. دغه پرېکړه چې ماکړې ده، باور وکړئ چې په بل ډول مې نه شوای کولای. ښايي چې تاريخ به زما دغو پرېکړو ته په ښه نظر ونه ګوري." ما له نصرالله خان سره په زړه پورې ښه مخه ښه وکړه. هغه ماته خپل زړه راتش کړ او راته ځرګنده يې کړه چې دخپل ورور له سياسي چلند سره په هيڅ ډول موافق نه دی..."

ددې کتاب زلمی ژباړونکی ګران خوشال اتځور د ستاينې وړ دی چې يو داسې مهم تاريخي اثر يې له جرمني څخه پښتو کړی دی، موږ به دعا کوو چې هغه او د هېواد نور زلمي همداسې خپلې ژبې، خپل هېواد، خپل تاريخ او خپل کلتور ته پام واړوي او خدمت ته يې ملې را ونغاړي.

**په همدې هيله**

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه

جرمني، د کولن ښار

۱۲ / ۵ / ۲۰۰۰ع

۲۲ / ۲ / ۱۳۷۹ ل



Ketabton.com

# د ژباړونکي سريزه

له څه وخت راهيسې راسره دا هيله وه چې د شل کلنۍ عمر تـه لـه رسېدو دمخه که مې کوم کتاب چاپ شي. نو د ژوند يوه په زړه پورې غوښتنه به مې تر سره شوې وي. لومړی مې داسې فکر کاوه چې ښايي د خپل شعر کومه ټولګه او ياد کيسو کومه ژباړلې ټولګه به خپره کړای شم، خو اوس چې مې د اوسکار فون نيدر ماير ددغه په زړه پورې يونليك ژباړه پای ته رسولې ده نو خوشاله يم چې خپله هغه لومړنۍ هيله مې هم په کې تر سره کېږي د نيدرماير ددغه کتاب د پښتو ژباړې په باب بايد ووايم چې څو ټکو ته مخکې له مخکې پاملرنه په کار ده:

۱ دغه کتاب د لومړي ځل لپاره په (۱۹۲۵) ميلادي کال کې "د ايران تر سوزنده لمر لاندې" په نوم چاپ شوی دی. په (۱۹۳۶) ميلادي کال کې بيا همدغه اثر (له بدلونونو پرته) د هند د دروازو مخې ته نړيواله جګړه) په نوم چاپ شوی دی. ښايي نور چاپونه هم ولري. ما دغه ژباړه له لومړني چاپ څخه تر سره کړه، خو د کتاب په نوم کې مو څه بدلون راوست او "افغانستان- د هند ستره دروازه" مې ورته وټاکه يو لامل يې دا و چې ما د کتاب نورې برخې لنډې کړې او يوازې د افغانستان برخه مې بشپړه ژباړلې ده او بله دا چې د افغانستان په برخه کې د ليکوال بيا بيا ټينګار د موضوع له پلوه له همداسې يو نوم سره راته غوره وبرېښېده ددې يونليك د افغانستان برخه هم هداسې يو سرليك لري.

۲ له يوې خوا ددې يونليك ژبه يوڅه کرکېچنه ده او کولای شو چې يو ډول زړه جرمني (الماني) يې وبولو او له بله پلوه د ژباړې په برخه کې دا زما لومړنی ګام و، له همدې امله ښايي زما ژباړه ډېرې نيمګړتياوې ولري او زه به په ځينو برخو کې تېروتلی يم. له درنو پوهانو څخه هيله کوم چې دغه ټکي په پام کې ونيسي او ما خپلو تېروتنو او نيمګړتياوو ته متوجه کړي.

۳ مادغه کتاب له پيل څخه تر پای پورې ټکی په ټکی نه دی ژباړلی د يون د پيل او له افغانستان له راګرځېدو وروسته برخې مې لنډې کړې دي، خو د افغانستان برخه مې بيا په بشپړ توګه را ژباړلې ده ما هڅه کړې چې د جرمني ډلې د يون بهير (تسلسل) ته کوم تاوان ونه رسېږي خو هغه برخې چې يې زموږ لوستونکي اوڅېړونکي ته ډېرې ضروري نه وي، له لنډيز څخه مو ګټه اخستې ده ښايي زه د ځينو سيمو د نومونو د سمې بڼې په ليکلو


Ketabton.com

کې هم تېروتې یم ځکه چې په الماني متن کې دغه د نومونو ثبت خامخا تېروتنې لري

۴ دغه یونلیك د یو په زړه پورې ناول په بڼه هم کمبل شوی دی ما هڅه کړې ده چې د ژباړې په نثر کې د یونلیك دغو داستاني ځانګړنو ته هم پاملرنه وکړم خو داچې په دې کار کې به څومره بریالی شوی یم. خپله څه نه شم ویلې له ښاغلي پېښوري شینواري څخه مننه کوم چې نږدې دوه کاله پخوا یې په یوه کتابتون کې ددې کتاب د لومړي چاپ یوه (کم پیدا) نسخه راته پیدا کړه باید دا خبره هم وکړم چې ددې کتاب د ژباړې کار مې د خپل پلار (محترم زرین انځور) په سپارښتنه شروع کړی او د همده په بیابیا ټینګار (او زور) مې دوام ورکړی او پای ته رسولې دی. که دغه زور او ټینګار نه وای ښايي ددې کتاب ژباړه مې نه وای بشپړه کړې. دغه رنګه زه له خپل پلار نه مننه کوم چې په ډېرو برخو کې یې زما ژباړه (او د ژباړې جملې) سمې کړې او ایډیټ کړې دي. په دې کتاب کې یو شمېر انځورونه هم راغلي دي، څرنګه چې دغه انځورونه اوسکار فون نیدرمایر په هماغه وخت کې په افغانستان کې اخیستي او په هماغه وخت کې په کتاب کې چاپ شوې دي، له همدې کبله یې کیفیت دومره ښه نه دی خو څرنګه چې له تاریخي ارزښت څخه خالي نه دي یو څو یې د بېلګې په توګه په دغه ژباړه کې هم خپرېږي عکسونو ته به د ډېر پخواني چاپ په سترګه ګورئ. نور نو زه خپله د کتاب په هکله ډېر څه نه وایم او هیله کوم چې ستاسو لپاره په زړه پورې وي.

په درناوي

خوشال انځور

۲۰۰۰/۵/۹



Ketabton.com

# د ليکوال

## سريزه

لس کاله تېر شول چې زما پوځي ډلې منځنۍ پارس خپل کړی و او د اروپا تر واك لاندې افغانستان ته يې هم لاره کړې وه. په دغو لسو کلونو کې، دغې پوځي ډلې د مخالفينو له خوا هر ډول سپکې سپورې او تورونه وزغمل. خو د مخالفينو دغو ويناووو ددې پر ځای چې ددې ډلې د سفر ارزښت ته تاوان ورواړوي، ګټه يې ور واړوله. په ۱۹۱۵ - ۱۹۱۶ کلونو کې خلکو ته د ايران او افغانستان د حالاتو په باب ډېر لږ معلومات ورسېدل. د خپلو سياسي او ځانګړيو بوختياوو له امله ما ونه شو کولای چې ددغه سفر ريښتينې بڼه تشريح کړم او خلك ددې ډلې د يون له پېښو په سمه او ځرګنده توګه خبر کړم. کله چې نن زه په څه ليکلو پيل کوم او په نړيواله جګړه کې د خپلې پوځي ډلې، د سياسي او پوځي کړو وړو په باب او د ايران په غرنيو سيمو کې ددې ډلې د خطرناك سرنوشت په اړه څه ليکم، نو غواړم ټول هغه ناسم نظرونه رد او سم کړم چې زياتره يې د انګرېزانو لـه خوا ځرګند شوي او خپاره شوي دي دغه راز غواړم خپلو هېواد والو ته د منځنۍ ختيځ د هېوادونو پر ارزښت رڼا واچوم او هغه ټکي په سمه توګه وڅېړم چې حقيقت يې په ناسمه او غولوونکې توګه ځرګند کړی دی. همدارنګه لـه خپلو هغو ټولو سپېڅلو ملګرو څخه د زړه له کومې مننه کوم چې په ډېرو سختو حالاتو کې يې له ماسره ريښتينې مرسته کړې او په دې لاره کې هر ډول سربښندنې او سرتېرۍ ته چمتو شوي دي. زه د خاطراتو داسې کوم کتاب نه ليکم چې په دې وروستيو کلونو کې يې د جرمني په مارکېټ کې رونق موندلی دی. دا د شاعرۍ کوم کتاب هم نه دی کوم داستاني او فانتيزي ايجاد هم نه دی. د خپلو ناسميو د سمون کوم کتاب هم نه دی زه غواړم چې د خپل ورځني پېښليك له مخې د تېرو پېښو او د خپلو شاوخوا خلکو په هلکه ريښتينې حالات ځرګند کړم. ماخپل دغه د ورځني پېښليك کتاب (روزنامچه) په ډېر زيار جرمني ته راورساوه او محفوظ مې کړ تراوسه پورې لاددغو پېښو ډېر برخه وال ژوندي دي او پر ما نيوکه کولای شي چې ځينې پټې پټې خبرې تر يو حده پټې وساتم او زياتې يې راځرګندې نه کړم پردغه کار هم د اصلي پېښو د لړۍ اړيکي او تړون نه تاواني کېږي. که چېرې زه له نيمګړتياوو کرکه ځرګندوم موخه مې دانه ده چې څوك ملامته کړم او خپلې نيمګړتياوې پرې پټې کړم داسې هم نه کوم چې خپلې نيمګړتياوې د ختيځ په سياست کې زموږ په نيمګړتياوو کې ونغاړم او پټې يې کړم؛ هغه ډېرې ژورې مسئلې دي چې يوازې په يو کتاب کې يې سره راوړل او څېړل شوني نه دي چې وکولای شي د لوستونکيو د يوې پراخې کړۍ د علاقې وړوګرځي. په علمي توګه ځينو اندېښنو دې ته اړ کړم چې دغه کتاب يوڅه رالنډ



Ketabton.com

کړم. له همدې امله دا کار ناشونې و چې زه وکولای شم، د ټولو هغو پوځي ډلو کړه وړه له نیږدې څخه روښانه کړم چې پارس او افغانستان ته د دوو کلونو په موده کې تللي - راغلي دي. ددغه پېښو پر بشپړ بیان ځو کتابونه لیکل کېدای شول. زه به ډېر خوشاله شم که وکولای شم د خپلو هلو ځلو او تودو سړو ځینې ارزښتناکې ځانګړتیاوې، خپل لوستونکي ته وړاندې کړای شم او د افغانستان او پارس ته د خپل پوځي ټولي د راجوړېدو او لېږد په باب معلومات ورکړم. غواړم دلته یا دونه وکړم چې ما ددې کتاب په کښلو کې د پارس د ډلې د پخواني مشر ښاغلي ف. زایلو او زما د ورور ډاکټر فریځ نیدرمایر (چې زموږ د پوځي ډلې ډاکټر و)، له ځانګړیو ورځنیو پېښنلیکونو څخه ګټه اخیستې ده. ددې لپاره چې دغه کتاب د هر ډول استفادې وړ وګرځي زه اړوم چې پېښې یو څه په لنډیز سره راوړم. له همدې کبله ما په بلوچستان کې د پخوانۍ ډلې د مشر "ځوګمایر" او په دغه سیمه کې د هغه پر هلوځلو او ددغو هلو ځلو پر پایلو پوره رڼا نه ده اچولې. په دې کتاب کې راغلي انځورونه، زیاتره یې زما له خوا اخیستل شوي دي. ځیني یې زما د سولې د هیئت د وخت (۱۹۱۲ - ۱۹۱۴) عکسونه دي. لکه څنګه چې څرګنده ده، سړی نه شي کولای ډېرې په زړه پورې شېبې، په عکسونو کې ځای کړای شي، ځکه چې په داسې حالاتو کې د عکسونو پر ځای، سړی پر نورو مسایلو سوچ کوي خو بیا هم دغه عکسونه لوستونکیو ته د هغه په ځای او هغو خلکو په هکله یو لنډ شانته تصور وړاندې کولای شي چې دغه کتاب پرې کښل شوی دی. که څوک له افغانستان سره مینه لري، کولای شي زما هغه انځوریز کتاب و ګوري چې د "افغانستان" په نوم لیکل شوی او د ك و. هیرزمن د خپرنۍ موسسې له خوا په (۱۹۲۴) کال کې چاپ شوی دی. له خپلو ملګریو هر یو: فویګټ، واګنر، ریبیچکا او باروليميك څخه مننه کوم چې ځیني عکسونه یې په دې کتاب کې د استفادې لپاره ماته راکړل. ښاغلي پروفیسر سوین هیدین د چاردهي د چمن یو ښکلی عکس راوسپاره. د انګلیسي ادبیاتو د ستونزو د حل په برخه کې د مونشن ښار د مرکزي کتابتون د ښاغلي ډاکټر ی. ګراځل او جګتورن ډاکټر ګ. فویګټ له خوا را سره پوره مرسته شوې ده.

اوسکارفون نیدر مایر

برلین

خزان - ۱۹۲۵



Ketabton.com

(۱)

# له لویدیځې جبهې څخه د برلین پر لور

- دغمپینو کس په ځنګل کې
- یعقوب
- تلګرام
- ستونزمنه پرېکړه
- خوښي او لومړني شکونه
- نژدې یې نیولی وم

ښه شوه چې یعقوب بېرته راغې کارابین (ټوپک) په لاس کې، له ځنګله څخه زموږ پر لور راروان و او د فرانسویانو پر لوریې په کرکجن نظر کتل.

د نانسي* په جګړو کې د "ګرانت مونټ" لښکرې داسې په ځواکمنې جنګېدې چې موږ یې یو شېبه هم ارام ته نه پرېښودلو. تر هغه چې موږ له درنو توپونو څخه ګټه نه وه اخیستې، نو موږ ددښمن پر لور د برید فکر هم نه شو کولای.

ما دخپل لښکر د پلي ټولي د برید لومړۍ کرښه لیدله چې په ځنګل کې مخ په وړاندې روانه ده، خو کله چې زه پر خپل آس باندې په ګڼ ځنګله کې، ددښمن سیمې ته ورننوتم، نو بیا مې د خپل پلي ټولي څه نښه ونه لیدله. کله چې زه د یوې پناه ځنګ ته د غلیم د پوځ د معلومولو لپاره، د هغوې لیکو ته نږدې شوم، نو په دوه سوه مترو کې یو ناڅاپه د غلیم پوځ موږ ته رادمخه شو او موږ ته له دې پرته هیڅ نه وو راپاتې چې برید پیل کړو. کله چې زه او زما ځینې نور سپاره ملګري، د هغوې له لورې، له هرې خوا، په ګولو کې را ایسار شولو، نو ما د شاته تګ امر ورکړ، خو یوازې یعقوب پاتې شو. هغه مخامخ پر غلیم ډزې کولې او موږ د هغه د ډزو په بهیر کې شاته تګ کاوه او په دې توګه د یعقوب د ډزو په مرسته موږ شاته لاړو. هغه چې په دې وروستیو وختونو کې زما کلک جنګیالی ملاتړی و، نه مې غوښتل چې له لاسه یې ورکړم. په دغه وخت کې زموږ پلي پوځ له غلیم سره ډېره سخته جګړه کړې وه او هغوې یې په ځنګل کې بېرته شاتګ ته اړ کړي وو. یعقوب لارارسېدلی نه و چې د دښمنانو ګولیو پر موږ ملك سور تنور کړ. زما سره په خوا

*نانسي د المان پولې ته نږدې د فرانسې په خاوره کې د یو ښار نوم دی (ژ)



Ketabton.com

کې یو توپچي وویل چې موږ باید همدا اوس له خپلو آسونو سره له دې ځایه لاړشو. زه او زما ملګري په داسې یو نا امنه ځای کې ناست وو چې دښمنان مو شاته په نږدې واټن کې تېر شول. ځکه چې د غلیم ډزې ودرېدې، زه پر خپل آس سپور شوم او د جګړې د لومړۍ کرښې پر لور روان شوم چې د خپلو ورکو شویو سپرو لټه وکړم. یو ناڅاپه مې شاته د آس د پښو غږ واورېد. یعقوب و ما ورته وویل:

- ولې هماغلته شاته نه پاتې کېږې، دلته زما نه یاست پکار

یعقوب راته وویل:

- زه کله تا یوازې پرېږدم!

په همدغه ورځ زه له خپلې نقشې سره قوماندانۍ ته لاړم او هغه وخت چې له خپلو ملګرو سره ددښمن د ګولیو د رارسېدو له سېمې لیرې، هر یو سګرټ پر خوله روان وو، د خوشالۍ هیلو پر شا کړو، په هغه وخت کې موږ په دې فکر کاوه چې بېرته مو ژوند وګاټه. د سندرو لـه غـږ سـره مـوږ د قوماندانـۍ دفـتر تـه ورولېږدیدو. هغوی فکر کاوه چې موږ ورک شوي یاستو. قوماندان جنرال ګ. فون شوبش موږ ته په زړه پورې هر کلی وواېه. هغه په غم او ښادۍ دواړو کې د ګرم زړه څښتن و دغه راز هغه ددفتر امر جګړن فون رایښرد هم هر کلی راته وواېه چې کولای شول په خپلو خوږو خبرو سره له سرې غم او تشویش هېر کړې.

اوس نو ددې ځای د پرېښودلو امر وشو ځکه چې دلته د پرویشیا یوه فرقه راغلله او د پوځي مشرانو له خوا موږ ته دښا ته تګ او ارام کولو امر وشو. کله چې زه راتلونکي استوګنځي ته لاړم چې د میتڅ * د ښار سهیلي اړخ تـه پـه یو کلي کې و، زما په فکر چې نوم یې "پونتویس" و. ماته له ورایه یو قوماندان چې په موټر کې ناست و، لاس وخوځاوه او کله چې زه ورغلم نو یو ټلګرام یې راکړ زه په دغه ټلګرام کې پوښتل شوی وم چې ایا زه په یوه بهرنۍ پوځي ډله کې برخې اخیستو ته چمتو یم کنه؟ ماته ډول ډول پوښتنې او هیلې راپېدا شوې. جنرال دغه ټلګرام ولید او ماته یې وویل:

- داسې څه وکړه چې خپل پلرني هېواد ته زیات مرستندوی شې. زه تاته د دوو ساعتونو لپاره د سوچ کولو وخت درکوم. د مشرتابه څانګې ماته د تلفوني پوښتنو په ځواب کې ډېر معلومات نه شول راکولی. هغوی زه د بایرن د جنګ وزارت ته معرفي کړم دا ټلګرام له هماغه ځایه راغلی و. ما په دې

* میتڅ (Metz) د المان پولې نېږدې د فرانسې په خاوره کې د یو ښار نوم دی چې له "نانسی" ښار سره یې فاصله لږه ده (ژ)



Ketabton.com

باب پوره سوچ وکړ او هغوی ته مې د "هو" ځواب ورکړ که چېرې دغې نوې دندې له ځانه سره بریالیتوب ولازه، نو زه پوهېږم چې ماته به خپله پخوانۍ فرقه په ډېرې خوشالۍ سره بېرته خپله غېږه خلاصه کړي. دمخه بنې د ډالۍ لپاره ما کولای شول چې خپل یو سپېځلی او تکړه سپور له ځانه سره مل کړم. زه په نږدې پردو کوټو کې ګرځېدم نیمه شپه وه او ویده کسان مې د لاسي څراغ په وسیله ځانته معلومول له پاس کټ نه مې یعقوب راکوز کړ او پوښتنه مې ترې وکړه چې ایا غواړې له ما سره یو ځای لاړ شې؟ هغه ځواب راکړ: له "پاهنا *" سره هر ځای ته ځم او له دې خبرې سره ماته مخه اسانه شوه.

بله ورځ زه د فرقې موټر خپل پخوانې کنډك ته ورسولم. ددې کنډك نوم "د بایرن د لسم نمبر زمکنې پوځ کنډك" و چې د میتخ په جنوب کې پروت و. ماله خپلو ملګرو او همکارانو او له خپل درېیم نمبر توپچي یونټ سره چې لس کاله ورسره ترلې وم. مخه ښه وکړه هغوی بیا مانه شول لیدلی. د "میتخ" په مرکزي تم ځای کې و یعقوب له خپل کارابین ټوپك او برچې سره، چې نه یې غوښتل ترې جلا شي، ولاړ و. په مونښن کې زه مرکزي دفتر برلین ته ور وپېژندلم ایله هلته پوه شوم چې دا افغانستان ته د جرمنې - ترکیې ګډه پوځي تلونکي ډله ده چې باید انګرېزان په هندوستان کې ناارام کړي. نور معلومات باید ما د بهرنیو چارو له دفتر څخه تر لاسه کړي وای. په دې ځای کې ما بیلا بېل کسان ولیدل چې ددغې ډلې د سفر پلان یې راته په هر اړخیزه ډول تشریح کړ. دا مفکوره بې شکه چې ښه وه خو د تېرو معلوماتو پر بنسټ ماته ځینې شکونه راپېدا شول. پنځه ویشت تنه تر اوسه پورې قسطنطنیې ** ته لېږل شوي وو. په هغو کې یوازې یو تن داسې و چې د پارس یوه کوچنۍ برخه یې لېدلې وه چې یو وخت د ترکیې او افغانستان ترمنځ واقع وه. دغه نور کسان هېڅکله ختیځ ته نه وو تللي. هغوی زیاترو ځانونه زاړه افریقایان ګڼل او ځینې په کې د شخصي او تجارتي موسسو استازي وو زه خبر شوم چې سمندري ځواکونو هم له دغه سفر سره مینه لرله او خپل استازي یې رالېږلي وو. د بهرنیو چارو په دوسیو کې چې ما په ژوره توګه لوستي وې، ومې لیدل چې د هندوستان په باره کې تر ټولو غوره ځرګندونې د یو افسر له خوا کېښل شوې وې چې ډېره موده یې هلته تېره کړې وه، خو دغه افسر نه و راغوښتل شوی. زما دوراندیز له مخې هغه ته تلفون وشو، خو ځرګنده شوه چې هغه څو ورځې مخکې له نړۍ نه سترګې پټې کړې دي. اوس نو زه په ریښتیا یوازینې سړی وم چې پارس او هندوستان مې په سمه توګه پېژندل. دغه راز په قسطنطنیه کې هم

* یعقوب سکارفون او نیدرمایر په همدغه نوم ما یادوي. (ژ)

** قسطنطنیه اوس د استانبول په نوم د ترکیې پلازمېنه ده (ژ)



Ketabton.com

پاملرنه زما خواته وه. دغه ټول پروګرام ماته ډپلوماتيک او سوداګريز ښکارېده. په دغه پوځي ترکيب کې ماته يولړنيمګړتياوې هم راتر سترګو کېدې، لکه د بهرنيو چارو په دفتر او د ستر درستيز په دفتر پورې يو ډول تړښت، د ټولو غړيو سره برابروالی، د يوې عمومي مشرۍ نشتوالی چې هم په انسجام کوونکو کې او هم په پوځي هيئت کې په پام کې نه ونيول شوی. دغه راز ددغې پوځي ډلې او دغه سفر لپاره کومه ځانګړې تګلاره نه وه ټاکل شوې. ددغو ټکو په پام کې ساتلو سره، زه دې پايلې ته ورسېدم چې دغه ډله يو ځانګړې مشرتوب ته اړتيا لري چې پوځي او جګړييزې چارې په خپل واک کې ولري. تر دې وروسته چې زما د راضي کېدلو هڅه وشوه او په قسطنطينه کې زما وړانديزونه ومنل شول. نو ځان مې په دغه ډله کې ګډون او برخې اخيستو ته چمتو کړ. مخکې له دې چې پروفيسر ځو ګماير د بلوچستان او تبت له مهشور سفر څخه دغه سفر ته د رادخلېدو لپاره نومول شوی وي. دا چې سړی څنګه افغانستان ته لاړ شي او د پارس د شګلنو بيديااوو پر کنډوکپرو څنګه تېر شي؟ په دې هکله هيڅا هم فکر نه وکړی ما ددې لپاره ددغې ډلې له مشرۍ ځان بچ کړ چې دغسې يو لوی بار مې پر اوږو نه شو وړای، زه د ډلې له ځوانو برخه والو څخه وم. زه دې ته تيار شوم چې په قسطنطنيه کې زموږ د سفارت دوه تکړه کسان ددې ډلې مشرۍ ته راوبلم. په هندوستان کې د تا راميو په هکله او په ټوله نړۍ کې د هندوانو د پاڅون د سوچ په اړه، زه يو څه بې باوره وم، ځکه چې زه د (۱۹۱۴) کال په پسرلي کې له هندوستانه راګرځېدلی وم او هلته زه په دې خبره باوري شوی وم چې د انګلستان د واکمنۍ په وړاندې کوم ګواښ نه تر سترګو کېږي او د هند اولس دومره خواک نه لري چې په خپل زور ځان خپلواک کړي. هو! دا خبره د پاملرنې وړ ده چې که چېرې د هندوستان پولو ته غليم ځواکونه هم ورورسېږي نو بيا د پاڅون امکانات ليدل کېدای شي. زه په دې خبره پوهېدم چې په پارس او افغانستان کې د داسې څه کېدلو امکانات شته دي. په دغه ډله کې زما د ونډې اخيستلو يو بنسټيز لامل (علت) همدغه ټکی و. زه غواړم په رينښتيني توګه ځرګنده کړم چې زما په سرګذشت کې د بدلون هنګامه را ولاړه شوې وه، که چېرې زه مخکې په دې پوهېدای چې د ترکيې په خاوره کې دغې ډېرې نامنظمې ډلې ته به په راتلونکيو مياشتو کې دومره کړکيچونه رادمخه کېږي، نو مابه د غربي جبهې پر لور تلونکي ګاډي ته ېېرته ځان ور رسولې وای خو نن زه په هغه پرېکړه نه يم خواشينی.



Ketabton.com

## (۲)

# برلین – بغداد

- ګرخنده سرکس، جګړې ته د ترکیې ورداخلېدل.
- یوه سپېڅلې جګړه، د تنظیم غلطي، یو اوږد زغم.
- د بغداد په ګاډي کې پوستانی ته د کرکېچنو لارو تېرېدنه
- په حلب کې مشورې، څو ګنداموونه نشته
- د بغداد پر لور یو بېړنی یون.

دوین (ویانا) او ژر بدلېدونکې رومانیې پر لاره زه او یعقوب قسطنطینې ته لاړو. هلته مو یوازې ښاغلی کونسټن تاو ویلهیلم پاشین ولیدل. هغوی هر کلی راته ووایه او د وړاندې تګ د کارونو د سمبالولو لپاره موږ ته تم وو. هغه نوره ډله د واس موس په مشرۍ، حلب ته تللې وه. په هغوی کې څېنو د زیاتې ځان ساتنې له امله خپل پخوانی شهرت له لاسه ورکړی و. دا خبره ما ته په سفارت کې وشوه. دا چې په راتلونکي وخت کې موږ ته ډېرې سیاسي پېښې رادمخه کېدونکې وې او دې موضوع پوره دقت غوښت. همدارنګه ددې له کبله چې زموږ د پوځي ډلې د ترکیې د برخې د تنظیم خبره لاته وه حل شوې او ددې ترڅنګه زموږ د پوځي ډلې د لارې هغه سامان او اکمالات چې له برلینه لاپخوا رالېږل شوې وو، تر اوسه پورې نه وو رارسېدلي، نو له همدې کبله باید زه یو څه موده په قسطنطینیه کې پاتې شوی وای. کارونه په هغه ډول مخ پر وړاندې نه تلل، لکه څنګه چې یې موږ هیله لرله، له همدې امله باید موږ اوږد انتظار زغملې وای او دې کار موږ بې حوصلې کولو موږ ته لومړنی د حیرانتیا وړ پېښه هغه وخت را دمخه شوه چې خبر شولو، رومانیې زموږ له سامان الاتو ډکه ډبه (واګون) نیولې او ضبط کړې وه. په دې کار کې له برلین څخه ددغو شیانو د رالېږونکیو ملامتیا هم د هېرولو نه ده، څکه چې هغوی دغه سامان الات د "ګرخنده سرکس" د سامان په نوم رالېږلي وو خو څرنګه چې ښه یې نه وو تړلي او ځای پر ځای کړي، په نیمه لاره کې یې پوځي توسلې او نور سامانونه ښکاره شوي وو. رومانیانو چې دغه شیان ولیدل. نو فکر یې کړی و چې دغو مره زیاتې ماشینګنې او یو ملیون مرمۍ خو د یوې "اورلوبې" لپاره نه پکارېږي! موږ د بخارست په ورځپاڼو کې زموږ ددغه "ګرخنده سرکس" د سامانونو

عکسونه او خبرونه ولیدل له دغو عکسونو پرته نور نو موږ له دغو وسلو او سامانونو څخه هیڅ شی ونه لیدل اوس نو باید له جرمني څخه نور سامان الات رالیږل شوی وای ددې لپاره چې دغه سامانونه د غلیمې رومانیې له لیارې په خوندي توګه راتېر شي. دا خل ښاغلي کونستن خپله بخارست ته لاړ او هلته یې د جرمني د استازیو له تولنې سره ددغو سامانونود خوندي راتیرېدنې او ترانسپورت په باب خبرې وکړې، لکه څنګه چې اوس د رومانیې په څېر هېوادونو کې دود دی، دغه کار هم باید هلته د پیسو په زور شوی وای

په قسطنطنیه کې په دغه وخت کې یو څپاند سیاسي او پوځي حالت رامنځته شوی و اوس نو ددې وخت رارسېدلی و چې د ترکیې حکومت هم د یو متوسط څواك په څېر رامیدان ته شي. دغه وخت د روسیې او انګلستان لمسونونو، عثماني امپراتوري دغه کار ته اړ کړه له دې سره سره عثماني امپراتوري دې ته نه وه چمتو چې د هغوی په وړاندې په اغېزمنه توګه راجګه شي خکه چې د هغې امپراتوری چارواکي او خپله انور داسې یوې پرېکړې صحیح لیکل شوی ته نه وو برابر او له بله پلوه کورني کړکېچونه او مقاومتونه هم ددې کار د خنډ سبب کېدل. خو جرمنیانوو عثماني امپراتورۍ د یو پرېکړ نده درېځ لپاره بیابیا هڅوله د "متفقو" هېوادونو استازي زیاتره یې د ترکیې له پلازمینې وتلي وو او یا د وتلو په حال کې وو. د ترکیې عام اولس، د ارمنیانو او یونانیانو پر ضد و

ترکیې خان رامېدان ته کړ او د خپل نوي سیاست په رڼا کې یې د جګړې لپاره پرېکړه وکړه سره له دې چې دوی لا د اروپایې څواکونو په وړاندې د یوې بلې رینښتیني جګړې لپاره پوره نه وو سمبال او د تېرو اوږدو جګړو زخمونه یې لاته وو روغ شوي. د ترکیې مشران اوس دې ته متوجه وو چې نه یوازې د ترکیې د اولس ملاتړ باید ور خپل کړي، بلکې د ټولې اسلامي نړۍ ملاتړ هم تر لاسه کړي په دې توګه د جرمني د ختیځ په باب نا څرګند سیاست سره سره دآسیا له دوو لویو سمبالوونکیو هېوادونو - روسیې او انګلستان سره په کړکېچ کې ورګډ شو

انور پاشا داسې وړاندیز درلود چې افغانستان ته یو پلاوی (هیئت) ولېږي او د هغه هېواد امیر دې ته وهڅوي چې د هند پر لور برید وکړي انورپاشا له جرمني حکومت څخه وغوښتل چې یو څو تنه افسران ددې کار لپاره راولېږي چې په دې برخه کې یې ملاتړ وکړي او د هغوی روحیه (مورال) پرې پیاوړې شي په دغو کړکېچنو حالاتو کې د ترکیې حکومت هر ډول مرستې ته اړتیا لرله جرمني د هغه غوښتنه ومنله او د یو څو تنو افسرانو پر خای یې پنځه ویشت تنه افسران



Ketabton.com

قسطنطني ته ور ولېږل چې بوه خانګړې جرمني پوځي ډله يې جوړ وله. دغې ډلې باید خپل ځان ددغې سپېڅلې جګړې بهير ته ورداخل کړی وای او د ترکيې مشرتوب يې منلی وای. لباس يې باید ترکي - اسلامي وای خو دې کار د يوې داسې لويې جرمني ډلې لپاره چې زیاترو يې ځانونه افریقا پېژندونکي ګڼل خو د ختيځ په هکله يې هيڅ معلومات نه لرل يو څه سخت و دلته په ترکيه کې د استوګنې په وخت کې دغه ستونزه بنه ترا څرګنده شوه د جرمنانو دومره ګڼ شمېر ترکانو ته چندان خوند نه ورکاوه. دوی ته دابنه نه برېښېدله چې په ډله کې ورسره په ختيځ کې د مشهد هېواد جرمني عیسویان هم ملګري وي. دا خبره ماته په لومړني ميلمستيا کې انور هم په ناخبره توګه وکړه له همدې امله په ترکيه کې ددغې پوځي ډلې له جوړېدو سره سم اختلافونه هم وزېږېدل دغه اختلافونه او مقاومتونه ددغې ډلې د هر غړي د بېباکو کړو او چلندونو له امله نور هم زيات شول په پای کې د اختلافونو دغه زېږدونکي کسان له ډلې څخه بهر کړای شول او يو شمېر نور چې يې بې حوصلې شول نو د سويز کانال د ضمانت کوونکو برخې ته لاړل د ډلې د غړيو کمښت ډېر ناسم کار نه و. ما په قسطنطنيه کې تکره سپور ګريزنيګر او د پوځي ډلې مشر ډاکټر زما ورور فريتځ له ځان سره مله کړل د هغو کسانو له خوا زيات ټينګار ونه شو چې د کړو وړو څپلواکي يې غوښتله. دغه کسان مې د جرمني د سفارت په مرسته له ډلې ګوښه کړل موږ غوښتل چې زموږ ډله پوځي بڼه غوره کړي موږ ته له برلين څخه لارښوونه راورسېدله چې باید د ترکيې له ډلې سره يوځای ګډ کار وکړو.

موږ انتظار کاوه خو له روماني‌يې څخه زموږ سامانونه بيا هم راونه رسېدل. موږ ته يو نوي پلان نوې هيلې راپيدا کړې په اباډان * شط العرب کې د انګرېزانو د تېلو ډېر ټانکونه او مهمات ځای پر ځای شوي وو. له بصرې ** څخه يو څه وړاندې د جرمني يوه مستعمره پرته وه. هلته د ترکانو د وسلو يوه بېړۍ او د جرمني يولوی ترانسپورتي ډګر (ايګبتانا) موجود وو. دا چې زه نه پوهېدم ښه مياشتي مخکې هلته تللې وم نو په دې خبره مې فکر کړې و چې که سرې ځان ژر وخوځوي نو هلته انګرېزانو ته پوره ستونزې ور پيدا کولې شي له همدې کبله ما وړانديز وکړ چې د اباډان په څنګ کې کوچنې سيند بند کړو او ټول ابدان ته اور ورته کړو. کله چې زما زغم پای ته ورسېد نو ماته خبر راورسېد چې زه باید بصرې ته روان شم. د

---

* اباډان: له عراق سره په سرحد کې په اوسني ایران کې. (ژ)

** بصره: د کويت له پولې سره نږدې په اوسني عراق کې. (ژ)



Ketabton.com

ښاري په نسبت د حېدر پاشا نم خاى ته روانېدم چې ماته له برلينه يو تلګرام راورسېد. په دغه تلګرام کې ماته ليکل شوي وو چې ابادان مه ويجاړوئ بلکه پر حيله بنه يې راولئ د دغو او ځينو نورو چارو له پاره يوه نوې پوځي ډله جوړه شوې وه چې د هغو تر رارسېدلو پورې بايد ما ځند کړاى واى. زما پخوانى وړانديز تر سره نه شو پس همدومره وشول چې يو ترکيې قوماندان په بصره کې زموږ (ايګبنانا) په غلط ځاى کې ډوبېدو ته پرېښې وه او د وسلو هغه بېړۍ لاهلته پاتې وه چې انګرېزانو کولاى شول په ډېرې اسانۍ سره يې تر لاسه کړي. دغه راز په ابادان کې دهغه ځاى ځايي اوسېدونکيو د تيلو پايپ لاينونه ويجاړ کړل چې انګرېزانو ته يې زيانات تاوان ور واړاوه خو د ابادان تر هغه مهم مرکز (ستېشنه) پورې د چا لاس ورونه رسېد.

ډېبي ايله اوس راورسېدې. په لږ وخت کې د ډېبو سامان الات د اسيا سمندر د حېدرپاشا بندر ته ورسېدل. څو ورځې وخت يې واخيست چې ما له ټولو ځايونو او ارونو څخه ځان را خلاص کړ. د ترکانو ډله هم چې له څلورو افسرانو او اووه ويشتو غړيو څخه جوړه وه خپل ځان سفر ته چمتو کړ په پاى کې موږ له جرمني بانک څخه د سرو زرو صندوقونه راوړل دا د يو داسې مهم کار لپاره ډېرې لږې پيسې وې غواړم انګرېز لوستونکي ته ووايم چې د جنګ په وخت کې او له جګړې وروسته په خپلو ورځپاڼو او کتابونو کې ښودل شوې پيسې په سلو او پنځوسو ويشلى شي چې رښتينې شمېر تر لاسه کړي. بيخي به هك پك شي او وبه خاندي چې په څومره لږو پيسو، څومره ستر کارونه شوي دي. سړى بايد په يو څه لاپو شاپو هم پوه شي چې زموږ په حالاتو کې ورته اجازه وه او موږ ته لاړښوونه شوې وه چې کله کله يې په پام کې ولرو.

موږ ډېر خوشاله وو چې (۱۹۱۴) کال د ډسمبر په پنځمه له قسطنطنيې څخه وتلو د راتلونکو پروګرامونو او د سفر د لارو چارو په هکله موږ دومره نه پوهېدلو. لکه څومره چې له موږ څخه مخکې تللې ډله پرې پوهېدله چې موږ ته يې په بې صبرۍ سره په حلب کې انتظار لاره موږ ته ويل شوي وو چې په راتلونکي کې به موصل * ته څو چې د هليل بيس تر مشرۍ لاندې مو بايد د پرس پر لور خپل يون پيل کړى واى له ترکې څخه چې څه موده مخکې د عبيدالله افندي پر مشرۍ يو ډپلوماټيك پلاوى (هيئت) افغانستان ته لېږل شوې و، موږ د هغه پلاوي په هکله يو

* موصل له سوريې او ترکيې سره پولې ته نږدې، د عراق په خاوره کې دى. (ژ)



Ketabton.com

څه وروسته خبر شولو دلته باید زه ځرګنده کړم چې هغوی هېڅکله خپل منزل ته ونه رسېدل

د ترکانو د اورګاډو کارکونکیو موږ ته په ټـه زړه د ګاډي یـو ځو ډبـې (واګونونه) راو سپارلې ګاډی د زیاتې تمېدنې پرته مخامخ روان و. سبا سهار دوخته باید موږ په الیشکی شهر* *کې ګاډي بدل کړی وای. پوره زیات ساړه وو ځای پر ځای واوره پرته وه شاوخوا ته پرته غرنی، سیمه تکه سپینه ځلېدله. په لاره کې ما بوستاني***" ته ځو تلګرامه واستول چې له تاوروس **** څخه د تېرېدو لپاره ځلور بولي او یو ځو ګاډی، مخې ته راولېږي. قوینې ته له رسېدو مخکې باید زموږ د سامانونو او وسایلو لپاره ځو پوځي ګاډي چمتو ولاړ وای. د ځو کړیو صبر وروسته موږ هلته ورسېدو د راتلونکي ماسپېښین په پنځو بجو موږ بوستاني ته ور ورسېدلو دا د بغداد د ګاډي وروستي؛ تمځای و هلته لاګاډي او ځلور بولي نه وو رارسېدلي موږ د تلګرامونو له لیارې هر اړخیزې هلې ځلې پیل کړې په دې هڅه کې وو چې خپل د استوګنې ګاډي ښه وساتو او د تورکیې ملګرو د رامېلمه کولو تکل وکړو د هغو ی په لیدلو هوسا او ډاډه شولو هلته د پلې پوځ یوه لیوا پرته وه چې د ماشین ګنو ډلې یې هم لرلې موږ ته هلته په زړه پورې ښه راغلاست وویل شو. کیسې مو سره وکړې او د پوځي نڅاوو ننداره مو هم وکړه یوه بشپړه ورځ مو باید صبر کړی وای چې په څه چل مو ځو ګاډي راپېدا کړای وای د دریمې ورځې په غرمه کې موږ دومره ترانسپورتي وسایل را پېدا کړل چې موږ خپل یون پیل ولی شو دا یوه سخته لاره وه چې ځای پر ځای یې بوختېدنې لرلې او پخوا پرې د لوېدیځ او ختیځ له لوریو یرغلګر تېرېدل راتېرېدل د ګاډي پر لاره اوس په بېړه کار روان و خو هم دا اوس د ګتې اخیستو وړ نه وه موږ په لاره کې په سماوارونو کې لنډه لنډه شپېه دمه هم کوله چې خپل ګاډي په ښه توګه سفر ته چمتو کړو له پوره کړاونو وروسته موږ سکندریې * ته ورسېدلو په دغه ځای کې موږ یوه ډله ولیدله چې له دېرشو ګاډو څخه جوړه وه او پخوانې لومړی، بریدمن س. خ. واګنر یې مشري کوله او یو ځو ورځې مخکې زموږملاتړ لپاره حلب ته راغلې و دا لومړی ځل و چې ما د خپل راتلونکي اوږده سفر سپېځلی ملګرې افسر ولید. ما نومړی پر موږ پسې

---

** الیشکی شهر د ترکیې یو ولایت دی (ژ)

* سکندریه یو ترکي ښار دی چې د پارس دخلیج له څنډې سره پروت دی (ژ)

*** بو ستاني په ترکیه کې د اروپا او اسیا تر منځ یو پروت ښارګوټی دی. (ژ)

**** تاروش د اروپا او اسیا تر منځ غرنۍ لاره ده (ژ)



Ketabton.com

راتلونکي ډلې ته ولېږه هغه ماته له واس موس او څو ګمارو څخه لیکونه راوړل چې ماته یې د حلب په باب معلومات راکول او زما له دغه یون په چټک توب کې یې مرسته راسره کوله په راتلونکي ماسپښین کې موږ سکندریې ته ورسېدو هلته موږ ته جرمني قونسل هوفمن په خوشالۍ سره هر کلی ووایه او زموږ سره یې لازمه مرسته وکړه

د راتلونکي ورځې ګهیځ د وخته ما کولای شول چې مخ پر وړاندې ولاړ شم یوه ستوزمنه لاره د امانوس غرونو پر لور تلله دا د پوځي ترانسپورت لپاره یوه عمومي لاره وه د سوریې والي جمال پاشا چې څخ موده وړاندې پردغه لار تېرېده نو ددې سړك ناوړه حالت یې لېدلی وو او خپلو تر لاس لاندې ناراستو کسانو ته یې جدي امر کړی و چې د څوارلسو ورځو په موده کې باید دغه سړك ترمیم شي. کنه ټول به له بوې مخې راځوړند کړي. خلك په دې خبره پوهېدل چې جمال پاشا یوازې پټکې نه کوي په دې توګه ما پر دغه سړك په سلګونو کار ګران پر کار بوخت لیدل چې ډېری یې میده کولې او غرنی لارې یې جوړولې مخ پر وړاندې دغه سړك ورو ورو ښه کېده موږ د کاروانونو دمه ځای (کاروانسرای) ته ورسیدلو چې پوره چټل و او ما غوره ګڼله چې له سخت اوربښت سره سره په خپل موټر کې په سختۍ سره شملاستلو ته ځان جوړ کړم. د باران څاڅکو زه خوب ته نه پرېښودم او له همدې کبله مو د شپې تورتم کې حرکت پیل کړ.

تر حلب پورې دغه ټوله لاره سترې کوونکې وه او تر ماسپښینه پورې مو پای ته ورسوله دا د (۱۹۱۴) د ډسمبر د یارلسمه نېټه وه. د پوځي ډلې په استوګنځي (کازینو هوټل) کې مې ځای پیدا کړ. هلته د پوځي ډلې له ښاغلیو پیتر پاشن، وینکل من، فوکټ، فون فیرزن او فریدریښ سره معرفي شوم. سره له دې چې غوښتل یې تر یو وخته له ماته ځان ددې لپاره څنګ ته کړي چې ښه مې و پېژني خو بیا یې هم په ګرم زړه ښه راغلاست راته ووایه. ماته له هرې خوا د ګیلو بهیر پیل شو او زه دې پایلې ته ورسېدم چې دغه پوځي ډله یوه پوځي مشرتابه ته اړتیا لري دومره اوږد انتظار ټول کسان سترې او بې حوصلې کړي وو او ټولو غوښتل چې د نویو چارو لپاره مخ پر وړاندې وخوځېږي. ددغو کسانو او ترکانو ترمنځ چې کومې کیسې راجوړې شوې او ستونزې راپېدا شوي دي، دا د هغو کسانو کار و چې مخکې لا ددغې پوځي ډلې له غړیتوب څخه ګوښه کړای شوي وو. سره له دې چې له دغې پوځي ډلې څخه ښکاره کسان لا پخوا لېرې کړای شوي وو، خو بیا هم ددغې ډلې په هکله د ناسم فکر پخوانۍ هنګامه لا اوس هم خپره وه



Ketabton.com

خینو ناسمو معلوماتو او غلطو پوهېدنو او پېژندنو د واس موس ډله دې ته اړه کړه چې له دغې عمومي پوخي ډلې څخه جلا شي او خانته یوه بېله ډله جوړه کړي ما نه غوښتل چې واس موس زموږ له دغې لویې ډلې څخه جلا شي. ځکه نوموړي داسې یو څوك و چې له ما څخه سر بېره یې پارس په خپلو سترګو لیدلی و او پېژنده یې او په دې توګه ما ددې ډلې مشري، د پوځي چارو مشري او له ترکې اړخ سره د اړیکو مسئوولیت پر خپله غاړه واخیست خو د عمومي خدمتونو او نورو چارو مشري کونستلن او څوګمایر ته ورکړل شوه.

ما خپله پرېکړه وکړه چې هر څومره ژر کېدای شي د ترکي ډلې مشر رووف بای لیدو ته بغداد ته ورشم چې د راتلونکي یون په هکله ورسره خبرې وکړم او خیني لارښودنې تر لاسه کړم د ډلې د عمومي خدمتونو کسان باید د پخوانۍ لارښودنې له مخې موصل ته تللی وای چې هلته زموږ یوه ځانګه جوړه شوې وه. په "حلب" کې د ترکي ډلې مشري د رووف بای پرځای په موقت ډول اسماعیل حقي بای پر غاړه لرله نوموړي ماته د ترکیې د مشرتابه د نظرونو په هکله دومره مهم معلومات رانه کړای شول دا چې هغه هم ژر بغداد لور ته وخوځېد او ځرنګه چې په بغداد کې د جرمني قونسل زموږ د سفر لپاره باوروړنکي کچرې اخیستې وې نو ما هم غوره وګڼله چې بغداد ته روان شم. ځرنګه چې واس موس غوښتل چې دفارس جنوب ته لاړ شي نو له هغه لپاره هم ښه داوه چې خپل کار له بغداد څخه پیل کړي او داسې خو هغه هم له ما سره د بغداد په سفر کې ملګری شو. دلته مې جګتورن کلاین و پېژاند. هغه د کارون * د پوځي ډلې مشري پر غاړه لرله چې په نظر کې وه ما پخوا برخه په کې اغستې وای هغه غمجن و ماته یې د پارس د خلیج کیسه وکړه چې انګرېزان ورته راغلي وو او د آبادان ښاریې ښه ټینګ او غښتلې کړې و. نوموړی سم نه پوهېده چې اوس به نو څه کوي لومړی یې غوښتل چې کربلا ته لاړ شي چې د هغه ځای له شیعه روحاني رهبرانو سپارښت لیکونه تر لاسه کړي چې په پارس کې د خپلو کارونو د ښه پرمخ بیولو لپاره ګټه ترې واخلي.

له اوو ورځو تم کېدو وروسته دې ته چمتو شوم چې د ډسمبر په (۲۱) نېټه *** له دې ځایه روان شم زموږ له سامانه ډك شپږ ګاډي له موږه مخکې روان شول او یو ساعت وروسته واس موس، یعقوب او زه پر اسونو سپاره ورپسې روان شولو

* کارون د ایران د یو سیند نوم دی (ژ)

*** په اصل کې د فبروري (۲۱) کښل شوې چې خپرنۍ تېروتنه ده (ژ)



Ketabton.com

په لره موده کې مو د حلب په ښیخ کې د فرات ** پر لاره ښانونه وروروسول البته که څوان د کولای شي د یوې لارې په سترګه ورته وګوري پر دغه لاره دومره ښتې او چکرې وې چې موږ پر ډېره سختۍ پرې تللو له درې ورځو سفر وروسته موږ اسرفچه نه ورسیدلو چې هلته یو کاروانسرای و موږ دمه وکړله او د چرګ کباب مو وخوړ دا لومړۍ غوښه وه چې له حلب وروسته مو خوړله او په یو بوتل شرابو مو د کریسمس شپه ولمانځله او له دوو وړو شمعو او یوې کوچنۍ ځانګې مو د کرسمس ونه جوړه کړه

بیا هم موږ له کړکېچونو پر ډکو لارو جنوب ښیخ لورې ته روان شوي وو. پر لاره مو له بصرې څخه راروان د ایکبتانا کپتان ولیدچې موږ ته یې د شط العرب د بندولو په کار کې د ناکامۍ، د خپلې یوې ښکلې بېړۍ له لاسه ورکوونه، په کورنا کې د جګړو او د عربانو د عذر او خیانت او نورو ډېرو شیانو کیسې وکړې

ایله بېله هغه ورځ راورسېدله چې بغداد ته باید ورسېږو زموږ لاره د فرات پر سیند د بېړیو پر پله وه او پر یو څه احتیاط پر دغوپلونو تېر شولو موږ ته له ورایه په بغداد کې د کاظمینو ګنبتز ه د لمر له ځلا سره لکه د سروزرو له ښایست سره راښکاره کېدله لږ وروسته د خلیفه ګانو پخوانې ښار ته رسیدونکي وو چې د کجورو (خرما) ونو ښکلې کړی و ورو ستیو سیلابونو د بغداد لاره یو څه خرابه کړې وه چې زموږ موټر په کې ودرېد خو له لږ ځنډ وروسته بیرته حرکت ته جوړ شو. په ماسپښین کې ښاغلی شوینه من موږ ته راغی چې له ځانه سره مو ښار ته بوځي نوموړی یو څه موده وړاندې ددې ډلې دخریدارۍ لپاره موظف شوی و. د بازار په منځ کې د سیند پر غاړه مو له ګاډو خپل سامانونه راښکته کړل چې د پوځي ډلې لپاره یې په بېړیو کې له سیند اخواته کرایه کړی شوي کور ته ورسوو دغه کور د جرمني له قونسلګرۍ سره نږدې و

دلته ماته په خوشالۍ سره د پخوانیو ملګرو له خوا ښه راغلاست وویل شو قونسل ډاکټر هیسه، مېرمن ډاکټر لیندرس او بون شتورف، د قونسل مرستیال زایله چې مخکې لا په نظر کې وه چې په بصره کې د جرمني قونسل شي. خو څرنګه چې انګرېزان هلته رانږدې شوي وو نو دی نویو لاړښودنو ته سترګې پر لاره و

** فرات Euphrat په عراق کې د دوو نامتو سیندونو په لړ کې د یوه نوم دی. (ژ)



Ketabton.com

(۳)

# د ترکانو له خوا ونیول شول

- ترکان له پوځي ډلې لاس پر سر شول، د جرمنانو په وړانـدې بـې باوري،
- د پروګرامونو بدلون، له پارس سره لومړني اړیکي، د واس مـوس تګ،
- ترکان په بې رحمۍ سره غواړي چې د جرمنـي پـوځي ډلـه تـس نس کړي،
- "ناسمې پوهېدنې" په الجزایر کې د پوځي ډلې د کار پیلامه،
- د لومړنیو ډلګیو لېږدېدنه، د پارس نا پیلتوب،
- د پارس په پولو کې د ترکانو لومړنۍ جګړې.

بغداد ته زما لـه راتـګ څخه څوګړۍ وروسته زه پوه شوم چـې د هسـې تـګ راتګ شیبې پای ته ورسیدې او څرنګه چې په الجزیره کې حالات ګډوډ وو او زموږ ډلې ته نوي کړکېچونه راپیدا کېدل، نو زه دې تـه اړ شوم چې د یو څه مودې لپاره په بغداد کې پاتې شم. په دې ځای کې باید ما د خپل راتلونکي یون ترتیبات نیولي وای. بغداد ته له رارسېدو وروسته ما ډېر ژر افغانستان ته د ترکیې د تلونکـې ډلـې له مشر رووف بای سره ولیدل. د هغه مقام لـه مـا څخه یوه پوړۍ جګ و. زه دی ته ډېر لېوال وم چې دغه نومیالی سړی ووینم. نو مـوږ لـه خپلې حمیدیې (ډلـې) سره په طرابلس * کې په ډېر مېړنتوب جنګېدلی و.

موږ په پوځي ډول ستړي مشي سره وکړل. دا ډېره غـوره ځای و چـې مـوږ دواړو لیده کاته سره وکـړل او د نظرونـو راکړه ورکړه مو وکړه. د هغـه ښه راغلاست او په خندانه څېره زما لور ته راتګ زه نور هم ډاډه کړم په تېزه انګریزي ژبـه د هغـه لنډې خو روښانه خبرې. نو مـوږ د ترکیـې لـه نورو خلکو برجسـته کـاوه. د هغـه په څېره کې داسې یو څوك راځلېده چې له لودیځ سره اشنا و، په انګلستان کـې یـې زده کـړه کړې وه او یو هوښیـار ډیپلومـات و. داچـې نومـوړې دڅه ډول کرکټر او ځانګړنـو لرونکی دی، په دې هکله څرګندونه، په اوس وخت کې زما لپاره سخته خبره ده.

---

* طرابلس اوس د لیبیا پلازمېنه ده. (ژ)



Ketabton.com

خو په هر ډول نو موږ ی د پوره توان (انرژي) لرونکی، زړور او په خپل مقصد پوه انسان و او د نوي ترکیبي نسل استازی و ما له هغه سره په خبرو کې ځانته څرګنده کړه چې دی له عادي ترکانو سره توپیر لري. رووف ماته داسې ټکي څرګند کړل چې زما لپاره د پوره پاملرنې وړ وو. هغه ماته په خپل ښه راغلاست کې وویل چې زه باید تاسو ته یو خواشینوونکی خبر درکړم. ماته دري ورځې مخکې امر شوی دی چې افغانستان ته د تلونکي ترکیبي ډلې سفر فسخه کړم او ټول پرسونل او سامان الات په عراق کې ستر قوماندان سلیمان عسکري بای ته ورولېږم چې په بصره کې د انګرېزانو په وړاندې جنګېږي.

هغه ماته دغه راز وویل چې تر اوسه پورې د افغانستان له امیر سره زموږ هیڅ ډول اړیکی نه دي ټینګ شوي او تر اوسه لا ددې کار هیڅ نخښه نه لیدل کېږي چې هغه به موږ خپل هېواد ته ورپرېږدي. هغه د اوس لپاره دا کار نا شونی ګڼه چې که چېرې موږ له پارس څخه تېر شو. ګوندې د افغانستان خاورې ته د ورننوتلو اجازه به راکړل شي. د هغه په نظر له پارس څخه د تېرېدو یوازې دوه لارې وې. یوه دا چې یوازې څو تنه عادي کالي واغوندي او په پټه تېر شي او دویم دا چې د یو لوی پوځي یون په بڼه په زور تېر شي. خو هغه دا هم څرګنده کړه چې داسې یو کار په افغانستان کې کوم بریالیتوب نه شي تر لاسه کولای.

دغه موضوع د پوره حیرانتیا وړ وه او پوره سوچ پرې پکار و. ماته بیخي یوه نوې ستونزه رادمخه شوه چې یو ښستیز فکر پرې پکار و. د ترکانو پرېکړې د بدلون اساسي لاملونه (علتونه) لا ماته نه وو څرګند او راتلونکي پلانونه خو بیخي نه وو روښانه. په دې باب زما پوښتنو ته هسې سر سري ځوابونه راکول کېدل. زه یوازې په دې ټکي پوه شوم چې رووف ددې کار لپاره ځان چمتو کاوه چې د پارس د عوامو په مرسته پر جلا جلا لارو پارس ته ورننوځي کله چې زه د رووف د تګل په باب خبر شوم نو ماته د جرمني د پوځي ډلې د یون پایښت بې مانا برېښېده په دې توګه نو ماته د رووف د ملاتړ دا وړاندیز چې هر ډول مرستې به راسره کوي جدي نه شو ښکاره کېدای زموږ د کار پر هیلو د تورتم د راخپرېدو دغه نوی حقیقت، زما له را سره تشویش څخه هم زیات ژوړ و. که زه هغه وخت د بصرې او د پارس د پولو له جګړو له مخکې خبر وای، نو ما به خپلې پرېکړې په دقیقه توګه کړې وای چې دومره ډېر نه وای نا هیلی شوی. خو په خواشینوونکې توګه دوی هڅې کولې چې په دې باب واقیعتونه پټ کړي.



Ketabton.com

تر څو چې برلین خپلې لاربنوونې نه وای بدلې کړای د جرمني ډلې باید د ترکانو له مرستې پرته هم خپلو هڅو ته ادامه ورکړې وای. دغه هلې ځلې ماته له سیاسي پلوه بې ارزښته نه ښکارېدې. څرنګه چې پارس د روسیې او انګلستان دوارو تر فشار لاندې و، له دوارو یې یو ډول بدی راتلل. دغه راز له ترکیې سره هم له مذهبي پلوه دپارس اختلاف موجود وو او له همدې کبله یې اړیکې سره ښه نه وو. او ځکه خو زموږ هلو ځلو ستر بریالیتوبونه تر لاسه کولای شول، خو که چېرې موږ د ترکیې له پوځ سره پارس ته تللی وای ښایې بیا مو دومره بریاوې نه وای لرلې. څرنګه چې جرمني له پارس نه ډېر لېرې پروت و نو هغوی دا خیال نه شو کولای چې جرمني ګوندې پر هغوې د یرغل په فکر کې دی خو د ترکیې په برخه کې بیا خبره داسې نه وه هغوې د خپلو پولو په اوږدو کې ګڼ شمېر ستونزې لرلې او ډېرې سرحدي سیمې به کله د یو او کله د بل تر کنترول لاندې وې. څرنګه چې روسې د ایران شمال لوېدیځې برخې نیولې وې نو ترکانو له روسانو څخه د ځان خوندي ساتلو په خاطر د پارس په خاوره کې د مداخلې بهانه پیدا کړې وه که چېرې ترکانو پر موږ له پخوا څخه پوره باور کړی وای او په پارس کې زموږ پر ګټور دریځ باندې پوه شوی وای نو خپل ځان او موږ نه به یې دومره مخالفتونه او ناکامی نه وای رادمخه کړای. ماته دا څرګنده شوه چې ترکانو غوښتل د ترکیې او پارس سرحدي سیمې او د ختیځ اسلامي هېوادونه تر خپل نفوذ لاندې راولي د دوی په نظر د سپېڅلي جنګ هنګامې هغوی ته په اسلامي هېوادونو کې لوړ دریځ ورپه برخه کاوه او د جرمني د هر هغه اقدام مخالفت به یې کاوه چې په ځانګړي پوځي چوکاټ کې او د ترکیې له کنتروله بهر و.

د همدغو دلایلو له مخې په الجزیره * که هم د جرمنانو کارته په بې باورۍ سره وکتل شول. الجزیره د عربي اولسونو په منځ کې پرته ده او دغو اولسونو له ترکانو سره دومره ښه اړیکي نه لرل په اوسني حالت کې چا د یو سره ګډ یون فکر نه کاوه په جلاجلا ډلو کې دغه حرکت ماته خوځنده او اغېزمن ښکارېده او همداسې کېدای شو چې د پارس له پولو او غرنېو سیمو له فزیکي سیاسي او پوځي خنډونو ورتېر شو "تاپېیلي پارس" ته ورننوتل باید د هغه هېواد د علایقو له مخې هر څومره چې کېدای شوای باید پټ وای او همدغه راز څو مره چې کېدای شوای باید

---

* الجزیره چې اروپایان یې "مسیو پوتامي" بولي د دجلې ترمنځ جزیره ده چې د سوریې او پارس په منځ کې وه او له ۱۹۲۱ کال راهیسې د عراق د خاورې برخه ده (ژ)



Ketabton.com

له څر ګندي جګړي څخه ډډه شوی وای د داسې یو کار لپاره د ترکانو له پوځي مرستې پرته موږ ډېر کمزوري وو د پوځي ډلې د غړیو د کارونو د تنظیم لپاره یوه مشري، یو کلك پوځي جوړښت او د یوې داسې عمومي مشری، تاکل پکاروو چې ټولې چارې تر خپل لاس لاندې ولري او کنه په لږ وخت کې هر څه سره پاشل کېدل او ستر زیانونه رارسېدلی شول.

په دغه لاره کې ما خپل سوچونه زغلول که چېرې زما دغه پلان نه وای تر سره شوای نو دې ته چمتو وم چې خپله دنده پرېږدم او بېرته لویدیځې جبهې ته لاړ شم. ما په پرله پسې ډول قسطنطینې او برلین ته پیغامونه استول چې په حلب کې چمتو شوې ډله باید بغداد ته پر کومه نږدې لاره خانونه را ورسوي. قسطنطینې ته د پیغامونو استولو لارې چارې ډېرې خرابې او نیمګړې وې. زموږ د فکرونو دراکړې ورکړې چارې یې سختولې او اوږدولې.

کله چې رووف ما رامېلمه کړ نو هغه ماته په پارس او په ځانګړې ډول په همدان او کرمانشاه کې زموږ پر ضد د روس او انګلیس د لمسونونو کیسه وکړه دغه راز یې په کربلا کې د ملایانو له هغې فتوی هم خبر کړم چې پارس ته په کې دغه سپېڅلې جګړه کې د ګډون امر شوی و. همدارنګه یې ماته د پارس په سرحدي برخو کې له جنګیالیو تېرونو سره د خپلو اړیکو په باب هم وویل چې که لازمه شي په پارس کې به د دوی پر ضد مخالفتونه د هغوی پر مرسته په زور سره وځپي هغه موږ ته له پولې څخه د تېرېدلو د ناشونتوب خبرې هم وکړې او دغه راز ډېرې نورې خبرې او کیسې دا ټول ددې لپاره وو چې زموږ پر راتلونکو پرېکړو خپل اغېز ولري دا خبره څرګنده وه چې د پارس په پولو کې زموږ پرمختګ ته زیاته پاملرنه پکار وه دغه اقدام چې رووف خان ورته چمتو کاوه زما په نظر د "پان اسلامیز" د بنسټ لپاره له تبلیغاتي اړخ څخه زیات و خو افغانستان ته په زور سره د تګ لپاره ډېر زیات کمزوري و دې خبرې زه ډېر نا ارامه کولم چې په یو اړخیزه توګه یې دغه ځایونه مخکې له مخکې د ځان ګڼل. دغه خبرې سره له دې چې په څرګنده توګه نه کیدلې خو سرې یې له خبرو همداسې پوهېدای شو تر اوسه پورې لا موږ د سرحدي سیمو او پارس په باب خپلې ځانګړې پرېکړې نه وې کړې. ځکه چې دغه موضوع باید موږ ترکانو ته پرېښې وای داچې هغوی یو نا څا په ځانونه له دغې ډلې ګوښه کړل او له موږ سره یې د ملاتړ لپاره هم ځانونه ونه خوځول، نو موږ باید هر څه پخپله تر سره کړي وای او هغه هم تر ترکیې پوځي چوکاټ لاندې



Ketabton.com

کله چې زه د پوځي قوماندانۍ مرستیال ته ورغلم نو اوس مې سر ښه خلاص شو او پوه شوم چې د ترکانو چارواکي، دلته زموږ استوګنې ته څومره په نه زړه ښه راغلاست وايي هغه موږ ته د "تاهوساشپېي" خطاب وکړ او له موږ نه يې وغوښتل چې خانونه باید زیات د جرمني افسرانو په توګه څرګند نه کړو. هغه موږ ته ددې خبرې له تفصیل څخه منکرېده چې د دوی حکومت له اړخه د پوځي ډلې په باب کومې لارښوونې رالېږلې کله چې ما هغه ته له حلب څخه بغداد ته د پوځي ډلې د رارسېدو په هکله ووېل هغه ګواښ وکړ چې که هغوی له خانونو سره اجازه نامې ونه لري نو وسلې دې ترې واخیستل شي تر کومه ځایه چې ماته ممکنه وه نو معلومه مې کړه چې دغه پوځي قوماندان ته د پوځي چارو د عمومي قوماندان (سرلښکر) سلېمان عسکري له خوا لارښوونه کېدله په غمجن حالت سره له دغه سړي څخه را ووتم او له قسطنطنیې څخه د متې مرستې د رارسېدو غوښتنه مې وکړه

له دغو خندونو سره سره زه په نورو سوچونو او د نورو شیانو په راټولو اخته شوم لکه د کچرو اخیستل او د استوګنې لپاره يې ور ځایونه. د پارس د ځایي خلکو (اوسیدونکو) د استخدامول له پارس څخه د خبرونو تر لاسه کول. د د واس موس د ډلې سفر ته چمتو کول او دا مې نور د حلب خلک په دغه موده کې جرابلوس نه رسېدلي وو کشتۍ يې جوړې کړې وې او د فرات په سیند کې له حلب څخه ښکته خواته تللي وو. له پارس څخه خبر راغی چې روسانو د ترکیې د یرغل له خاطره تبریز پرېښی او شمال لور ته روان شوي دي د روسانو د وتلو او د بې نظمه ترکانو د ننوتلو خوشالۍ ډېره موده دوام ونه کړ څه موده وروسته روسان بېرته تبرېز ته ورننوتل او د ترکانو هڅې له پیلېدو سره سم و پاشل شوې د بصرې د جبهې په هکله لږ معلومات رارسېدل خو هغه څه چې رارسېدل زیاتره يې د مخالفینو خبرې وې د قونسل مرستیال چې د څه وخت لپاره دغې پوځي ډلې ته راپېژندل شوی و ما لارښوونه ورته وکړه چې په څو ورځو کې خان یو سفر ته چمتو کړي. هغه باید لومړی د ترکیې - پارس پولې ته تللی وای او په دغو پولو کې چې زموږ دوست قومونه اوسېږي د هغوی په مرسته ورو ورو پارس ته د ورننوتلو هڅه وکړي او زموږ د عمومي یون لارې چارې برابرې کړي هغه باید کرمانشاه ته خان ورسوي چې زما په نظر پارس ته زموږ د پرمختګ لومړی پړاو هم کرمانشاه و د پارس دغه سرحدي سیمه باید هغه وخت پرېښودل شي چې له بغداد څخه د جرمني نور کسان ور ورسېږي د پارس د علاقمندۍ او د هغه ځای د ورځ حالاتو له مخې موږ ته توان را په



Ketabton.com

برخه شو چې که هر څومره ژر کېدای شي هلته باید خپل کار پیل کړو په تهران کې د انګرېزانو او روسانو د چارواکو پخوانی امرانه غږ. له دپلوماتیکو اصولو څخه جلا کېده هغو قومونو چې انګرېزانو باور پرې لازه اوس یې له موږ سره د اړیکو د پېدا کېدو هڅه کوله لکه بختیاري، کاشقایي او پشت کوهي. ددې کارونو د را پیلولو له پاره تهران، قسطنطینې او بغداد ته په پرله پسې ډول پیغامونه تلل راتلل. دغه هلې ځلې له حالاتو څخه د خبرېدو او د تکړه کسانو د راغونډولو لپاره وې. له ډېر سوچ وروسته ما د خپل پرمختګ لپاره د کرمانشاه – دولت اباد – اصفهان لاره غوره کړه چې ما باید ددې لارې پراوونه ټاکلې وای موږ باید له هغه ځایه دیزد – کرمان لاره نیولې وای او په شیراز کې مو له واس موس سره اړیکې ټینګ کړې وای ما خپله غوښتل چې له یوې کوچنۍ ډلې سره تهران ته لاړ شم. د هغه ځایه د چارو لارښوونه وکړم او د جنوبي خراسان لپاره یوه معلوماتي ډله ور ولېږم. سمدلاسه بایدزموږ ډلې په پارس کې هلو ځلو ته ځان چمتو کړی وای له دې ځایه به وروسته د ختیځ پر لور مخ پر وړاندې تللو. دې پروګرام ته د مشرانو له اړخه هم د ملاتړ ځرګندونه وشوه ماته ددغو مشرانو له خوا په رسمي توګه وویل شول چې افغانستان ته ځان دترکیې تلونکي ډله اوس د خپل سفر له عملي کېدلو څخه تېره شوې ده.

اوس نو د ټولو چارو واك او لارښوونه زما په لاس کې شوه په اوسني او راتلونکي وخت کې په پارس او افغانستان کې موږ ته د راپېدا کېدونکو کړکېچونو د له منځه وړلو لپاره ددغو هېوادوپېژندنه په ژبه یې بلدتیا او دقیقو دپلوماتیکو اصولو پېژندنه پکار وه زما لپاره په زړه پورې وه چې قونسل زایلر چې په دغو چارو کې ماهر و او اوس ورته په بغداد کې دومره اړتیا هم نه وه زموږ ډلې ته را داخلېدونکې وه ما دهغه د راداخلېدو وړاندیز کړی و د هغه لپاره هم په زړه پورې وه چې دې ډلې ته را داخل شي. څکه چې دلته موږ د ترکیې په نسبت د ځان لپاره اضافه وخت لازه زه وروسته هم پښېمانه نه وم چې نوموړی مې راخپل کړ لوستونکي ته به په راتلونکي کې خپله پته ولګېږي چې زایلر په راتلونکیو کلونو کې څومره هڅې کړې دي؟

زموږ د یون لپاره چې د څارویو اړتیا وه نو زه یې د برابرولو لپاره عربو کلیو ته ورغللم څو ورځې مې هلته سفرونه وکړل. دغو عربانو د ترکیې د پوځي او پولیسي ډلو له ډاره دغه څاروي چېر ته پټ کړي وو. زه به ډېر ستړی شوم او ایله بیله به له نیم درجن څارویو سره بیرته راستنېدم او هغه به مې هم له سلو څارویو



Ketabton.com

خوښ کړي وو او یاځو به خالي لاس بېرته راتللم د کربلا له زیارت سره نیږدې مو بو څه څاروي پیدا کړل چې زموږ د کار لپاره ښه په درد خوړل

د جنوري په ۲۳ نېټه شوینه مې له یوې ډلې سره د پارس پر لور خپل سفر پیل کړ او د جنورۍ په ۲۸ مه د سهار په اووه نیمو بجو واس موس په خپله ښېرۍ کې زموږ د ډلې استوګنځي څخه تېر شو او ماته یې د وروستۍ مخه ښې لاس وخوځاوه

ترکانو زه یو څو ورځې ارام پرېښودم هغه لا رښودنې چې هغوې د خپل حکومت له لورې تر لاسه کولې ماته یې د مرستو ژمنې هم کولې. سرلښکر سلیمان عسکري ټپي شوې و او اوس د بغداد په پوځي روغتون کې و کلاین هم بغداد ته راغی او موږ دواړو ته د عمومي قوماندان سرلښکر له خوا په فرانسوي ژبه لیکل شوی امر راورسېد چې په کې لیکل شوي وو دغه دواړه جرمني ډلې دې په ترکیه کې د استوګنې په پړاو کې په جلا جلا توګه خپلې ورسپارل شوې دندې تر سره کړي. ددې پوځي ډلې د ارتباط په باب او داچې نورې کومې کومې لارښوونې موجودې دي موږ یې پوځي قوماندانۍ نه ځان ته وروغوښتلو وریې یو بل لیک راغی چې جرمني پوځي ډلې ته په عراق کې د هیڅ ډول عملیاتو اجازه نشته او دا یوڅه زیات تریخ خبر و ما او کلاین په مودبانه ډول ددې خبرې ځواب ورکړ. دا مو هم ورته وویل چې که موږ ته د جرمني د مقاماتو له خوا له راورسېدلو لارښوونو سره برابر وې زموږ وسایل تاسو هم کارولی شئ خو له هغوی مو غوښتنه وکړه تر یو وخته پورې پر موږ غرض ونه لري په همدغه وخت کې موږ په قسطنطنیه کې له خپل مشرتابه څخه د مرستو او پرېکړو هیله وکړه هلته قونسل هیسه زموږ کلک ملاتړ وکړ حالات نور هم نا ارامه کېدل او هلته زموږ استوګنه نوره هم ستونزمنه کېدله سړي به هلته له ځانه پوښتنه وکړه چې ایا اوس به هم دلته د دوستانو په خاوره کې اوسېږو؟

د جنورۍ په ۳۰ مه نېټه ښاغلي واګنر، و پاشن او ګریزینګر او دغه راز زما ورور له وینکلمن سره چې په تبګۍ (محرقه) اخته و او یعقوب چې ما راغوښتي وو راورسېدل لومړیو دریو تنو چې ما ورته په دې وروستیو ورځو کې د اړتیا وړ ټول شیان چمتو کړي وو دوه ورځې وروسته بېرته بغداد پرېښود او څرنګه چې له شوینده مې سره یې ژمنه کړې وه هلته ورغلل؛ خو هغه ته له رسېدو مخکې ترکانو ونیول، وسلې یې ترې واخیستې او بېرته یې بغداد ته ولېږل. دا یو څرګند تېرې و سلیمان عسکري کوم پښ ګوښې نه وکړې خو خبره نوره هم په زره پورې کېږي څو



Ketabton.com

ورځې وروسته چې د پوځي ډلې پاتې کسان او سامانونه راورسېدل نو پرته له دې چې ماخبر کړي ترکانو هرڅه خپل کړل داچې اوس موږ خپل ځان په خپل کور کې هم خوندي نه ګڼه نو خپل قیمتي شیان مو د جرمني په قونسلګرۍ کې کېښودل اوس نو زموږ څه وسه نه رسېده که ستر کړکېچونه راپېدا شوي وای نو قسطنطنیې هم څه مرسته نه شوه کولای. له پوره انتظار وروسته له قسطنطنیې نه یو پیغام راورسېد. له والي او سرلښکر سره د قونسل ډپلوماتیکو خبرو کومه څرګنده پایله (نتیجه) ونه لرله خو بیا هم له نورو سرګردانیو څخه خوندي شولو. ترکي چارواکو هسې د ځان د تېرولو لپاره ټوله ګناه پر کېښتنېو کسانو اچوله چې ګوندې پردغو لاربنودنو ناسم پوه شوي وو. موږ ته بې ډاډ او ضمانت راکړ خو نور هیڅ هم نشته موږ ته چا اصلي علتونه نه څرګندول. خو دابیخي سپین سترګي وه چې سلیمان عسکري ویل، له رووف بای نه یې د هغه ټول مواد او پرسونل واخیستل او بیا یې غوښتل چې زموږ پر سامان ځان له سره سمبال کړي په دې کې هیڅ شک نشته چې رووف بای ځان په دې وختونو کې ډېر نه څرګنداوه او د پارس په پولو کې یې د یو لړ عملیاتو چمتووالی نیوه او له موږ نه یې دغه هڅې پټې ساتلې که په عراق کې پوځي حالات کړکېچن شوي وای نو مابه هر ډول مرسته کړې وای ځکه چې دا د ترکیې خاورې د دفاع لپاره لازمه وه. په هغه وخت کې په کرمانشاه کې د روسانو پرمختګ د ډار او کیدون وړ نه و او په الجزیره کې هم د انګرېزانو پرمختګ تم شوی و داچې د ترکیې له خاورې یې بیخي په شاکړي. یو نوي ګوزار ته اړتیا وه. ددې کار لپاره دوه درجنه جرمني افسران، یو لړ شمېر ټوپکې او ماشینګنې چې دغې ډلې په واک کې لرلې کافي نه وې او حالات یې نه شول بدلولی. که په هغه وخت کې موږ یو ډاډمن کار رادمخه کړای وای چې موږ په کې په خپله خوښه او او وړ توب سره څه کولای شوای نو کېدای شوه چې پایله بنه وای خو سلیمان عسکري غوښتل چې موږ ځای پرځای و دروي دا د هغه له امرونو څخه څرګندېدله. په الجزیره کې د پېښو پرمختګ په دې ډاډمن کړم چې که په پارس او افغانستان کې د پوځي ډلې هڅې ښه پرمختګ وکړي نو دا کار به په الجزیره کې د ترکانو له هڅو سره هم ښه مرسته وکړي ځکه چې په دې توګه به د انګرېزي - هندي قواوو پاملرنه بلې خواته واوړي.

دا خبره په زړه پورې ده چې ترکي پوځونه سره له دې چې ښه نه وو سمبال شوي خو په ځینو جګړو کې یې ښه ټینګار او مقاومت کولی شو. ښایي دا ددې هېواد دموقیعت او زمکني جوړښت له امله و. کله چې ترکیې ولیدل، افغانستان ته



Ketabton.com

تلونکې جرمني پوځي ډله داسې ژر نه سره پاشل کېږي، نو ځان یې دې ته اړ ولید چې زموږ سامان او وسلې بېرته راکړي پوازې ماشینګنې یې بېرته رانه کړې چې لاتر اوسه مو په سترګو نه دي لیدلي. موږ به له دغو ماشینګنو هم داسې په اسانی لاس نه وای اخیستی که چېرې خبر وای چې دغه وسلې په بصره کې نه بلکه د پارس په پولو کې د پرنو قومونو پرضد په جګړه کې کارول کېږي له دې وروسته د بغداد او پارس ترمنځ په پولو کې خنډونه او بندېزونه ډېرېدل او له شوینه من سره اړیکي هم پوره ستونزمنې کېدلې زه اړ شوم واګنر او ګریزینګر چې څو ورځې مخکې له بغداد بهر شوي وو او لاربودنو ته منتظر وو بېرته راوغواړم او دغه رازو پاشن قصرشیرین ته په پټه توګه د قونسل د مرستیال په نوم ورولېږم اوس نو ماته دا څرګنده شوې وه چې ترکان د رووف بای په مشرۍ پوازې د پارس د پولې په عملیاتو کې له پرمختګ سره مینه لري او یوې تاکلې موخې ته د ځان رسول غواړي مخکې له دې چې زموږ ډله له بغداد څخه خپل یون پیل کړي په دې توګه نوکړ کېچونه لا پای ته نه وو رسیدلي خو نوي بڼه یې غوره کړې وه.

نوي حالات او تېرې پېښې داسې چې ماته مشوره راکړل شوه د پارس د حکومت د احتمالي خنډونو د مخنیوي لپاره مخکې له مخکې لارې چارې ولټوو. د ۱۹۱۴ کال د نوامبر په لومړۍ نېټه پارس د روسانو او انګرېزانو له خوا دې ته اړ کړای شو چې خپل ناپییلتوب اعلان کړي د افغانستان لپاره جرمني پوځي ډله چې پخوا پرې پر همدغه نوم فکر شوی و، تر ټوله هڅه یې داوه چې له دېرشو تنو سره په خیرخیریت سره له پارسه تېره شي. د پارس ناپییلتوب ددې کار لپاره ښه و. خو هغه خبرونه چې له پارس څخه رارسېدل په دې باب یې اندېښنې نورې زیاتولې چې ایا د پارس حکومت به په ریښتیا هم ناپېیلې وي چې له بغداد څخه تر افغانستان پورې دغه اوږده لاره زموږ لپاره خوندي وي. د شمال لورې ته له اذربایجان او خراسان او په جنوب کې له خلیج څخه چې د روسانو او انګرېزانو پوځونو په کې د خپل هېواد په څېر پراته وو. موږ باید ځان ترې لېرې ساتلی وای. خو په منځني پارس کې د تهران د حکومت ځواک هم لږ و هغه یوازینی ځواک چې ددغه ناپېلتوب ضمانت یې کاوه هغه "ژاندار مري" په نوم د سویډن د افسرانو له خوا جوړ شوی ځواک و څرنګه چې دوی د تهران - اصفهان - بوشهر پر لاره پراته وو له اصفهان څخه د وتلو په برخه کې یې له موږ سره څه مرسته نه شوه کولای په پارس کې ډول ډول پېښو باید موږ ته ژر تر ژره روښانه کړې وای چې خپل دغه ناپییلتوب ریښتیانی کړي او زموږ ډلې ته لازمه وه چې دخپل خوندیتوب لپاره خپله متې راونغاړي موږ په دې برخه



Ketabton.com

کې د پارس له حکومت سره پوره احتیاط کاوه او د هغوی په وړاندې مو د هیڅ ډول دشمنۍ خیال نه لاره

د "متفقینو" او پارس د حکومت له خوا زموږ پر ډله ډول ډول تورونه ولګول شول. چې موږ ګوندې د پارس ناپییلتوب ته زیان رسوو. انګلستان له جګړې وروسته هم داسې لمسون وکړ چې دپارس له حکومته یې ددې د غړیو یو تورلیست وغوښته چې ددې ډلې د ټولو کسانو نومونه په کې کښل شوي وو او له دې وروسته هم ورته د پارس پر زمکه د پښې ایښودلو اجازه نه وه. دغه سپین سترګتوب زه په خپل قلم سره نه شم څرګندولې کله چې د ۱۹۱۴ کال په اکتوبر کې د روسانو د پوځونو له خوا یو جرمنی وژل شوی و، په نوامبر کې ترکیې او اتریشي قونسلان په تبریز کې نیول شوي او روسي ته بیول شوي وو. د هغه ځای پر جرمني قونسلګرۍ برید شوی و انګرېزانو په جنوبي فارس کې یو شمېر پرېکړې کړې وې موږ ته د ۱۹۱۵ د فبرورۍ په منځ کې له پارس څخه د ناپییلتوب ضد اعمالو ډېر خبرونه راورسېدل. دا ټول کارونه له هغې څخه ډېر مخکې وو چې د جرمني د سیاسي یا پوځي ډلې کوم غړی د ایران پر خاوره قدم کښېږدي لږ وروسته د "وینك هاوس" کمپنۍ استازي په محمره کې او دغه راز په بوشهر کې د جرمني قونسل ونیول شول او د بندیانو په توګه هندوستان ته ولېږل شول. له دې څخه مخکې په تهران کې لومړي وزیر د جرمني چارواکو ته داسې خبر ورکړی و چې د پارس حکومت د پارس په جنوب کې د جرمنانو د خوندي ساتلو ډاډمني نه شي ورکولای له ترکیې سره په پوله، په کرمانشاه کې د انګرېزانو یو لوی جاسوسي سازمان جوړ شوی و چې له الجزیرې سره یې زیات تنګ راتګ لاره یو څه وخت وروسته چې شوینه من پارس ته ورننووت ( دې د فبرورۍ په پای کې کرمانشاه ته ورننوتې و) چې د ټینګو لارښودنو له مخې یې ځان ډېر سوله ییز څرګند کړ. هغه وکولای شول چې د یاد شوي سازمان په باب یو لړ معلومات په پټه راپیدا او ماته یې راولېږي د نوموړي دغو رابرسېرونو ترکان پر دې وتوانول چې د ترکیې په پوځ کې ډېر خطرناك جاسوسان چې هغوی ته یې اطلاعات ورکول. ونیسي. د حیرانتیا خبره داده چې له دغو کسانو څخه له یوه سره یې په بغداد کې دایټالیې د قونسل لیك و موندل شو چې په هغه لیك کې یې ځان د اطلاعاتو مشر معرفي کړی و او زموږ د پوځي ډلې په باب یې زیات معلومات ورکړي وو. د خپګان خبره داوه چې دسیاسي احتیاط له مخې چې ددغه هېواد د حالاتو په رڼا کې باید هم دغه ډول احتیاط شوی وای سړی نه شي کولای داسې سبق ورکړي لکه چې ورسره ښایي.



Ketabton.com

د کرمانشاه پر لاره نه یوازې داچې سرې لمسونونه محسوسولی شول بلکه د روسانو د پوځونو پرمختګ یې هم ځانته څرګندولی شو دا زما او د ترکانو د علاقې وړ وه چې ددښمن دغه عمده کار چې ډېر زیان را اړولی شو قطع کړل دغه ټول مسائل باید د سرې مخې ته وې چې وکولای شي د پوځي ډلې راتلونکي ګامونه په دقت سره واخلي په داسې یو هېواد کې چې خپل ناپیلتوب یې سم نه شو ساتلی. دغو هلوځلو ته سرې یوازې د دفاعي عملیاتو نوم ورکولی شو،

واس موس په دغه وخت کې د ختیځ خواته نور هم مخ په وړاندې تللی و دوی د دښمنی کوم کارونه نه وو کړي چې انګرېزان یې پرضد کوم عمل وکړي خوبیا هم د انګرېزانو له خوا پرې برید وشو ډاکتر لیندرز او دهغه د کسانو څو تنه نیول شوي وو خپله واس موس له یوې کوچنۍ ډلې سره وکولای شول د شېراز خواته ځان ورسوي ناوړه کار داو چې په دغه بد برید کې انګرېزانو زموږ په باب یو شمېر مهم اطلاعات او زموږ خیني شفرونه هم تر لاسه کړي وو بونشتورف چې څه موده مخکې له واس موس څخه را روان شوی و اوس بغداد ته رارسېدلی و او له دغې عمومي ډلې سره یو ځای شو.

دا چې زه باید د لاربنودنو له مخې له خپلې ډلې سره په بغداد کې پاتې شوی وای په هر هغه برخه کې مو له ترکانو سره مرسته کوله چې له وسه مو پوره وه او اجازه مو لرله. ډاکترانو په پوځي روغتونونو کې کار کاوه فونفیرزن د بصرې جبهې ته لاړ او نورو په وسله تون (ډیپو) کې کارونه پیل کړل. موږ دغه وسله تون له ښاره بهر په داسې ځای کې جوړ کړ چې شاوخوا ته یې اوبه وې او موږ یې له دښمنانو خوندي ساتلی شو. موږ په کارونو کې پوره بوخت وو. تر اوسه پورې موږ ته د ترکانو د عمومي قوماندانۍ له خوا د چاینکین - کرمانشاه لاره ترلې وه یوازې د قونسلګرۍ د کارکوونکیو په نوم کسان له دغې لارې تېریدای شول. یوازې د موصل - کودستان له لارې د تګ اجازه وه پر دغه لاره ما د پ. پاشن او فویکټ په ګډون یو وړوکی ګروپ ولېږه چې همدان ته ځان ورسوي او هلته یو تم ځای جوړ کړي هغوی د فبرورۍ په ۲۶ له بغداده روان شول. په همدغه ورځ څوګمایر او ګریزینګر د قونسلګرۍ د کار کوونکیو په نوم کرمانشاه ته لاړل. چې له هغه ځایه اصفهان ته لاړ شي او د پوځي ډلې د کار د پیل لپاره لومړنی چمتووالی ونیسي وروسته بیانو باید دوی خپل د کار ځای کرمان او جنوب ختیځ پارس ته ځان ورسوي اصفهان چې د روسانو او انګرېزانو د نفوذ له ټولو سیمو څخه تر ټولو جلا وه زما په نظر زموږ د کار لپاره ډېره غوره ځای و څکه چې د پارس د ختیځ تهران-



Ketabton.com

شیراز لاره پرې پرته وه لس ورځې وروسته د پارس له پولو څخه خواشینوونکي خبرونه راورسېدل د رووف بای بوخونه له سترو ماتو سره مخامخ شوي او پر شاتګ نه اړ شوي وو اوس نو هماغه څه پېښ شول چې موږ ترې ډار لاره او مخکې مو هم د هغو اټکل کړې و خو له دې سره سم د پارس له نورو ټولو برخو او دغه راز له افغانستان څخه په زړه پورې خبرونه راورسېدل، پرته له دې چې زموږ له لاسه څه وشي هسې ننداره مو کوله موږ ته د دغه عمل اجازه نه وه لوستونکي خپله زموږ د حالت په باب فکر کولای شي بیا هم زما هغه لړ شمېر کسان چې په پارس کې وو هڅه یې کوله چې منځګړیتوب وکړي او د وینو د توېدلو مخنیوی وکړي خو دغه لویه بدمرغي اوس د درېدلو نه وه د پارس سرحدي ګورنر اوس د خپلې سیمې د خوندي ساتلو لپاره پوځونه تیار کړل له زیات انتظار وروسته د پارس لپاره د جرمني او اتریش سیاسي نماینده ګان بغداد ته راورسېدل موږ ټول په دې سوچ کې وو چې د ترکیې او پارس د خلکو ترمنځ باید جګړې بندې شي. په دې توګه موږ کولای شول چې په پارس کې خپل کار په هوسایي سره پیل کړو. دغه جرمني استازي غوښتل چې په پارس کې د روسانو او انګرېزانو له خوا د حالاتو د خرابۍ له امله زموږ دغه ډله کومه پوځي خانګړتیا پېدا نه کړي. هغه له دې سره مینه نه لرله چې په پوځي هلوځلو کې بوخت شي او یا خو ددغو جنګي هڅو قرباني شي، خو د هغه روښانه امر د بدلون هیڅ امکان نه و چې موږ ته کوم هېواد ته د تللو لپاره راکړل شوی و. دغه سیاسي استازي ته اوس موږ له دې امله هم اړتیا لرله چې له ترکیې نه زموږ د ډلې د ویستلو په کار کې مرسته وکړي په پارس کې د پرمختګ چارو خپله په موږ پورې اړه لرله. ماله کرمانشاڅخه د پرش هغه ځاروي پولو ته راوغوښتل چې مخکې زما لپاره چمتو شوي وو. دغه ډله په درېو برخو کې د مارچ له ۲۶ څخه تر ۳۱ پورې له بغداد څخه واستوله. دوی باید په چاینکین کې سره یو ځای شوي وای او له هغه ځایه باید ټول په یو ځایي توګه پارس ته ورننوتلې وای. لومړۍ ډلګۍ له ځانه سره سامان الات انتقال کړل او مشري یې دفریدریښن پر غاړه وه. دویمه ډلګۍ چې د مارچ په ۲۸ مه ـــه ړوانه شوه زه خپله په کې وم په درېمه ډلګۍ کې چې زایلر یې مشري کوله ـــ ـــ ـــاذي هم ورسره مله شول. ما لومړۍ غوښتل چې له یو څو تنو سره تهران ته لاړ سم او په همدغه وخت کې باید نوره عمومي ډله د زایلر تر مشرۍ لاندې اصفهان ته تللې وای.



Ketabton.com

زه د خپلې هغې خوشالۍ اندازه په هېڅ ډول نه شم بيانولی چې کله مو له کرکېچونو ډك دغه هېواد ترشا پرېښود. موږ بايد خپلو ترکي وسله والو ورونو ته د هغوی ځينې کړېې وربخښلې وای. وروسته مو دغه شيان بابيزه ګڼلي دي، ځکه چې هغوی په ځومره ناوړه حالاتو او ډېرو لږو امکاناتو سره جنګېدل. ما له خپلو ترکي سيالانو سره له ملګرتوبه ډکه مخه ښه وکړه خو دا فکر مې هېڅکله له سره ليرې نه شو چې دغه اولس او د دغه اولس ځوان مشران له خپل توان څخه خان لوړ اتکلوي او دا زموږ لپاره يو بې ښسته کار برېښېده چې په حقيقت کې يې د خپل هېواد د تباهۍ په لاره کې ګامونه اخيستل. زه وروستی سړی وم چې له داسې يوه اولسه تېرېدلم چې د لوټمارو دښمنانو په منځ کې راګير و او ما بيا وروسته له خپلو سپېڅلو ملګرو سره ځنګ پر ځنګ جګړې وکړې، له ډېرو سره ملګری شوم او دا مې وليدل چې زموږ جرمنانو پر ضد د هغوی په نظر کې زما د بغداد له وخت څخه ډېر توپير راغلی دی.

له جرمني قونسل هيسل څخه مې په ډېره مننه رخصت واخيست. هغه زموږ يو پياوړی مرستندوی و چې موږ يې په خپل کور کې پوره نازولي وو. هلته مې لومړی بريد من وينکل من د چارو د سمون د مشر په توګه پرېښود.

PROPERTY OF ACKU ۹۱۱۹۰



Ketabton.com

(۴)

# د ترکیې او پارس په جنګي سیمه کې

تر هغه وروسته چې موږ له بغداد څخه راووتلو نو څرنګه چې سیلابونه راغلي وو، موږ دې ته اړ وو چې په نویو او لمدو سیمو کې مخ پر وړاندې لاړ شو. په دویمه ورځ موږه په بکوبا (Bakuba) کې پاتې شولو. زموږ په کاروان کې باید یو څه نظم راغلی وای. ما باید د ناراستو څارویو او آسونو د ساتندویانو لپاره یو جزایي قانون ټاکلی وای. په بله ورځ موږ د فریدریش (Fredrich) ډلې ته ورسېدلو چې هلته د هوا د خرابۍ له امله پاتې کېدو ته اړ شولو. په پنځمه ورځ موږ د ترکیې پولې چانکن (Chaneken) ته ورسیدو. دلته د "قایم مقام" واك چلیده. موږ ته په بله ورځ وویل شول چې اوس د مخکې تګ اجازه راکول کېږي، ځکه چې موږ مخکې نه وو ورپېژندل شوي. دا خبره موږ ته هسې بې مانا ښکاره شوه، ځکه چې موږ ته د بغداد والي ویلي وو چې زموږ له راروانیدو سره سم په سرحدي سیمو ته خبر ورکوي.

زموږ ملګری رووف بای چې په دغه "جنګي سیمه" کې یې پوره ځواك درلود، غوښتل یې چې موږ دلته څو ورځې تم کړي چې هغه هم راورسي. تر دغه وخته "قایم مقام" دلته زموږ د ځنډولو هڅه کوله. دا کار ما په هېڅ ډول نه شو زغملی او د تلګرام له لارې مې سملاسه له بغداد سره اړیکي ټینګې کړې. د بغداد د والي په امر موږ ته له پولې څخه د تېرېدو اجازه راکړل شوه. موږ اوس دغه "تور هواد" شاته پرېښود او پارس ته ورداخلېدلو چې له ډېرې مودې ورته ترکیه ګوابنېږي. د پارس کونسل چې څنګه موږ ولیدلو نو راته ویې ویل چې د کرمانشاه والي امیر مفسخم (Amir Mufachan) له یو لوی پوځ سره په سر پل کې دی او د ترکیې د ګواښ له امله یې خپل پوځ نور هم پیاوړی کړی دی. پر پوله چې ورواښتلو نو له نیم ساعت مزل وروسته موږ ته د دغو سیمو د قبایلو سپاره مخې ته راغلل، دوی موږ ته ښه راغلاست ووایه او یو څه یې بدرګه کړلو.

زه د زایلر د کاروان د پاتې کسانو د رارسېدو له کبله ډېر خوشاله شوم. زایلر ماته وویل چې رووف بای له یو لوی لښکر سره چانکین ته رارسېدلی دی. له دغو هلو ځلو څخه پارس هم خبر شوی و او له همدې کبله ډېر هڅول شوي وو. په خبرو اترو کې، والي له موږ نه هیله وکړه چې د رووف بای د وړاندې تګ



Ketabton.com

مخه ونيسو ، خکه چې دوی يې د مقابلې توان نه لاره. همدغه خبرې ما رووف بای ته هغه سره د جرمني استازي په وسيله ورسولې. وروسته ما د اتريشي ډلې له مشر هيلر (Heller) سره په پارس کې زموږ د وړاندې تګ په هکله خبرې اترې وکړې، هغه وويل چې په داسې يو وخت کې د يوې پوځي ډلې په توګه مخکې تګ بې ګټې دی. دا به د دښمنانو په سترګو کې هسې د خاورو وراچول وي او په اروپا کې به د جګړې لمبو ته نور هم پکې ووهي. پارس بايد سرې ورو ورو جګړې ته راکاږي. خو ما بايد "زموږ په سترګو" پارس ته کتلی وای. زما په نظر، پارس بايد زموږ د سياست "پوځي ډګر" وای. دا څرګنده خبره وه چې پوځي زور له ترکيې سره و. دوی کولای شول چې په خپل يو ورځني يا دوه ورځني مخکې تګ کې پارس ته ورسېږي. مګر کله دوی د دغو غرنيو سيمو له اولسونو سره په جګړه اخته شول چې کلك، پياوړي، غله او جنګيالي وو، نو ترکيې ته د دغې جګړې ګټه ګرانه وه.

موږ د ترکيې او پارس له حکومتونو پرته څه نه شوای کولای. له همدې امله موږ خپل يون ته دوام ورکړ او خانونه مو کرمانشاه ته ورسول...

کله چې موږ ماهی دشت (Mahidescht ) ته ورسېدلو نو د شوينه من (Schunemann) رسمي ډله زموږ مخې ته راغله چې موږ ته يې د خوښۍ خبرونه لرل. دکرمانشاه دغه حالات د نوموړي له راتګ سره زيات کرکېچن شول، خکه چې روسانو او انګرېزانو دلته خپل ځېل ناوړه عزايم لرل. زه څه موده وروسته سلطان آباد ته ورسېدم. د لارې مزل مو ستړی کوونکی و. هلته موږ ته په نوې جوړه شوې جرمني کونسلګرۍ کې هرکلی وويل شو چې د غليمانو له هر ډول لمسونو سره يې بايد ډغرې وهلې وای.

دلته په پارس کې استوګن ارمنيان هم لکه د نورو ارمنيانو په څېر دروسانو لاسپوځي دي. دوی دغې کونسلګرۍ ته زياتې ستونزې پيداکولې، خو د دوی پر ضد په مبارزه کې ديموکرات ګوند زموږ پوره ملاتړ کاوه. د اپريل په ۲۵ نېټه د شپې ناوخته زه تهران ته ورسېدم چې هلته جرمني استازيو ته ورغلم.



Ketabton.com

(۵)

# په پارس کې مخکې تګ

د تهران حالات ډېر خواشینوونکی وو د جرمني سفارت مشر د روسي او انګرېزانو د هغو تېرېو مخالف وچې دوی له دغه اولس سره کول. زما د راتګ په ورځ د روسانو له خوا د ارمنیانو پرلاس، پر جرمني استازیو د برید وېره وه. خو هغوی ترې په نه وخت کې خبر شوي وو ځلوېښتو تنو پارسي ځوکیدرانو د جرمني سفارت او استوګنځی ساته. څو ورځې وروسته "شاه" د روسانو او انګرېزانو له خوا دې ته اړ شوی و چې په کابینه کې د دوی د خوښې کسان ځای پر ځای کړي او د سویډن افسران چې د جرمنانو د ملګرو ډار ترې کېده له هېواده بهر کړي. د دغې پرېکړې مخنیوی په وروستی شېبه کې زموږ له خوا وشو زموږ. خپله ډله ډېره پاشلې او نامنظمه وه. سره له دې چې ما ډېر احتیاط کاوه خو بیا مې هم دلته راتګ پر ډاګه شوی و او د دښمنانو په سترګو کې بو اغزی وم.

په شمالي پارس کې چې د روسانو تر اغېز لاندې و او پوځونه یې هم ورته راغلي وو، حالاتو له موږ څخه د زیاتې پاملرنې او احتیاط غوښتنه کوله. روسانو د پارس په شمال ختیځ او شمال لویدیځ کې خپل پوځ زیات کړی و او د انیزیلی – کسوین" Enseli - Kasvain لاره یې په لاس کې وه. خو کله چې یې پرېکړه وکړه . له دغه ځایه د تهران لوری ته راشي نو موږ د پارس حکومت دې ته اړ کړ چې د تهران د ساتنې لپاره یو دفاعي پوځ ورولېږي. دا زما لپاره هم یوه اشاره وه چې خپلې پیسې، سره زر، وسله او مرمۍ اصفهان ته ورسوم. د پلازمینې د ساتنې لپاره پارس هر څه کول. دوی ان انګریزان هم خوابدي کول. د دې له امله نو انګریزانو په خپل وار د همدان او کرمانشاه د سیمو نیول غوښتل دوی له هغه ځایه د ترکانو د راتګ مخه ونیوله او زموږ او د ترکانو ترمنځ یې لاره او اړیکی پرې کړل. له بده مرغه د دوی دغه هڅې بریالۍ هم شوې ځکه چې د ترکیې لښکر په دغو سیمو کې ماتې خوړلې وه.

په دغه وخت کې په شمالي پارس کې روسانو خپل پوځ پراخ کړی او تر شپږو زرو یې رسولی و. له ختیځ پارس نه انګریزانو ترکستان ته وسلې لېږلې چې په دغه کار کې ستونزې پیدا کول زما کار و. د پارس د پروپا ګندې په چارو کې موږ له غلیمانو څخه مخکې وو. داسې معلومېدل چې هغوی له موږ څخه



Ketabton.com

په روږ کې پیاوړي وو د خوښالی خبره دا وه چې زما په ملګرو باندې د هغوی بریدونو کومه ګټه نه ورکوله

د پارس د اولس حالات هم لکه د پارس د سیاسي حالاتو په څېر ګډوډ وو دوی د دوو امپریالیستي ځواکونو روسانو او انګریزانو په منځ کې ښکیل وو زیاترو یې موږ جرمنیانو ته په زړه کې ځای راکاوه او د مذهبي سپیڅلي جنګ په تمه وو دوی هیله لرله چې موږ به یې له دغو یرغلګرو څخه وژغورو زموږ له راتګ څخه د ډېرو خلکو خبرتیا زموږ لپاره د اندیښنې وړ وه

د بېلابېلو قومي ، مذهبي او ګوندي مشرانو له خوا زموږ او د دوی د ګډو غلیمانو پر ضد د لاریونونو (مظاهرو) غږ پورته کړی و. په اصفهان کې خبره ډېره توده وه د ۱۹۱۵ کال د مې پر ۲۵ نېټه په اصفهان کې د روسیې د بانک مشر د یو پارسي د برید له امله وژل شوی و

په پارس کې د لویو ځواکونو پر ضد هلو ځلو چندان اغېز نه لاره. په تهران کې د خپلې دوه میاشتینی استوګنې په وخت کې زما تو له پاملرنه زموږ د وړاندې تګ په هکله وه، خو بیا به مې هم دلته داسې ځینې هلې ځلې کولې چې غلیمان پرې وځوروم

د مې په نیمایي کې زما د ډلې عمومي او لویه برخه د زایلو تر مشرۍ لاندې اصفهان ته رسېدلې وه د جون په نیمایي کې، پارس ته د هند شهزاده مهند راپرتاب Mehndrapartab او پروفیسر مولوی برکت الله د هینتیک Hentig له استازي سره راورسېدل ، تر کومه ځایه چې زه خبر وم، دوی باید زما په مرسته کابل ته رسېدلي وای. د جون په ۲۳ نېټه زه اصفهان ته ورسېدم د ۱۹۱۵ کال د جولای په شپږمه نېټه زه د ماښام په نهو بجو له اصفهان څخه راووتلم. له زایلر ، خپل ورور او له واډمن څخه مو د فویګټ په ملګرتیا مخه ښه واخیستله. څو ورځې وروسته موږ د اوږدو دښتو له لیارې اناریك Anarek ته ورسیدو هلته له اصفهان څخه موږ ته هېڅ ډول خبر نه رارسېده. زه دې خبرې ډېر ځورولم ، له همدې امله مې یو خبر لوڅ ناین Nain ته ولېږه چې د حالاتو په هکله مو خبر کړي


Ketabton.com

(۶-۷)

# د ایران په دوزخ کې

په دارین (Darin) کې مونږ ته یو خبر لوڅ مخې ته راغی چې شپږ ورځې مخکې له تبریز څخه را روان شوی و. ما ته یې د واګنر یو مفصل لیک راکړ. څه موده مخکې ما له تبریز څخه څو تنه د بیرجند Birshend په شمالي ډډه کې یو پراته کلي کاین kain ته لیږلي وو چې ما ته د هغه ځای احوال راکړي. دا سیمې زمونږ د وړاندې یون لپاره مهمې وې. دغه خبرلوڅ زما له لیکونو او لارښوونو سره د اصفهان په لور لاړ. مونږ دلته په دښتو کې روان وو او د هوا د تودوخې درجه څلویښتو ته رسېدله. په یو کوچني دمه ځای کې له هینیک سره یوځای شولو چې له دې وروسته مو په ګډه یون سره کاوه.

زمونږ راتګ انګرېزانو او روسانو هم په دقت څاره او له دې امله ډېر اندیښمن وو. مونږ ته رارسېدلیو خبرونو دا ویل چې روسي او انګرېزي پوځ د پارس په ختیځو برخو کې ډېرې لارې نیولې وې. ما د یعقوب تر مشرۍ لاندې یوه ډله یتبیس ته ولېږله چې نوې باروړونکې څاروي او آسونه واخلي. د دښمن د زیات خواک له امله باید مونږ له جګړې څخه ځانونه ژغورلي وای. خو هغوی ته هم د هغوی د څارګرو (جاسوسانو) او پارسیانو له خوا زمونږ خواک هم ستر وړپېژندل شوی وو. نه غواړم ووایم چې زمونږ سره یوازې له ټنخلسو - شلو جنګیالیو پرته بل څه نه وو، خو بیا هم زمونږ څخه لویې وسلې او ماشینګنې په اصفهان کې پاتې شوې وې. له دې امله باید مونږ د خپلو دښمنانو په څنګ کې په چل ول او احتیاط تېر شوي وای. زما ملګرو نه روسانو سره په جګړه کې د هر ډول ملاتړ ډاډ راکړ.



Ketabton.com

(۸)

# د دښمنانو د ليکو له لارې

اوس نو له موږ سره پوازېنۍ پوښتنه دا وه چې د دښمنانو له ليکو به څه ډول تېرېږو. هغوى زموږ د يون او وړاندې تګ په لياړو کې پياوړې څوکۍ جوړې کړې وې. په دغو سيمو کې ډېرې لږې ځاګانې وې. که دغه ځاګانې زموږ دښمنانو ويجاړې کړې وي، نو موږ به څه کوو؟ خو بس ورکوه دغه سوچونه! زموږه مخې ته يو ستړې مزل پروت و او يو اوږد منزل - يعنې افغانستان. موږ بايد هلته ځانونه رسولي واى. موږ ته داسې حکم شوى وو چې ځانونه بايد دغه هېواد ته ورسوو. که موږ يې هلته بنديانولو او که يې د انګرېزانو منګلو ته سپارلو، دا خبره نن زموږ لپاره د انديښنې وړ نه وه. دا نو بيا د راتلونکي وخت خبرې وې. زموږ لپاره همدغه يو منزل مخې ته پروت و او موږ هوډ کړى و چې هلته به ځانونه رسوو. دغه هوډ يو کلك او پياوړى جرمنى هوډ و نو د همدغه تکل پر بنسټ بايد په همدغو دښتو کې د تګ يوه لياره پيدا شوې واى. دغه سيمې تر اوسه پورې د کوم اروپايي د پښو پلونه نه دي ليدلي او له همدې امله دغه سيمې د نړۍ په نقشه کې سپينې پاتې دي. له بده مرغه زموږ ډېر ملګري له دغه لپارو څخه نه وو خبر.

په ډېرې خوشالۍ سره مو له اصفهان څخه يو رارسيدلي خبر لوځ ته ښه راغلاست ووايه. هغه موږ ته په زړه پورې جنګي خبرونه راورسول. ما يو څو ليکونه او د اخبارونو يوه ګېډۍ تر لاسه کړل. دغه راز مو د انګرېزي هندي خواکونو په اړه مه خبرونه تر لاسه کړل. موږ خبر شولو چې انګرېزي - هندي ځواکونه د بلوځستان - سيستان له لپارې مشهد ته رارسېدلي دي. په دغو لپارو کې روسان هم پراته وو. د واګنر په هکله مې هيڅ خبر هم تر لاسه نه کړ. اوس نو موږ د مخکې تګ لپاره هلې ځلې پيل کړې. زموږ د راتلونکې مزل په اړه له موږ سره هيڅ مخکينې معلومات نه و. زموږ سره د دغو سيمو استوګنو هم ملاتړ نه کاوه. سره له دې چې د دوى په اړه موږ هيڅ بد نيتي نه لرله. له نېکه مرغه ما په همدغو لپارو کې خپل يو شمېر پخواني ملګري وليدل.

پارس ته زما په پخوانيو سفرونو کې زه د څارګرۍ (استخباراتو) د ډلې غړې وم چې په ډېرو ناوړو حالاتو کې يې د دغې سيمې په اړه خپل ګډ مسئووليت او ګډ کار په ښه توګه تر سره کړى دى. دوه کاله مخکې زما نوم په دغه سيمه کې زيات مشهور شوى و. کله چې زه په دغه ځاى کې غلو شکولى وم او ما ترې ځان روغ



Ketabton.com

رمتې بچ کړی و. دا زما لپاره د ډېرې خوشالۍ وړ وه چې کله مې د دغې ډلې يو غړی په داسې يوې څنډې نه پروت کلي بشرويه (Buschruyeh) کې وليد. کله چې ما خپل ځان هغه ته ورويېژانده، نو هغه هم ډېر زيات خوشاله شو. هغه چې زه تر اوسه پورې نه وم ليدلی، نو ما ته يې زما په هکله ډېرې کيسې وکړې. هغه زما په باب او زما د پخوانيو هلو ځلو په هکله بشپړ معلومات لرل. که سړی په پارس کې په داسې سختو حالاتو کې څو مياشتې ګرځېدلی وای او په هر ځل کې شکول شوی او تېر ايستل شوی وي او دغه راز د دې سيمې د استوګنو په سترګو کې د يو ناوړه او لامذهبه کس په توګه انځور شوی وي، نو هغه به ډېر ښه پوهېږي چې په داسې حالاتو کې له يو چا څخه د سمو معلوماتو او مرستو تر لاسه کول څه مانا لري؟! دغه سړی لږ وروسته په خپل يو بل ملګري پسې په يوه بله غرنۍ سيمه کې يو څوک ولېږه. هغه عبدالوهاب نومېده چې وروسته زما خدمتګار شو او له ما سره يې تر ټولو زيات وخت تېر کړ. خو وروسته دی هم ناروغۍ له پښو وغورځاوه.

په همدغه ورځ ما ته يو شمېر نور ناوړه خبرونه هم راورسېدل. ما ته زما يو سپاره له واګنر څخه يو کوچنی خبر راوړ. په دغه خبر کې ويل شوي وو چې نوموړی په "قاين" Kain کې دی. پر هغه د روسانو له خوا بريد شوی او ده ورته خپل ټول سامان پرېښی او د لويديځ پر لور تښتېدلی دی. په بله ورځ واګنر او ويلهلم پاشن له ډېرشو تنو سپرو سره راورسېدل. جګړو او د دښتو اوږدو سفرونو دوی ډېر ستړي کړي وو. موږ ته وروسته څرګنده شوه چې هغه ډېر خبر لوڅ چې دوی ما ته د خبر رارسولو لپاره رالېږلي وو، په لاره کې نيول شوي وو. په لنډو چې يې ووايم: يو څو ورځې مخکې د دوی ډله په "کاين" کې د روسانو له خوا تر بريدلاندې نيول شوې وه. له روسانو سره د دغې سيمې پارسيان هم ملګري وو. خو دوی وکولای شول چې دغه قزاقان او پارسان په جګړه کې شاته وتمبوي او دوی ځان ته د تېښتې لياره پيدا کړي. موږ بايد پر دغه ريښتينتوب (حقيقت) هم ځان پوه کړای وای چې د دې ځای خپل استوګن هم زموږ له دښمنانو سره وو، په دې ډول نو دوی موږ ته خطرناک کېدای شول. ان چې په دريشيو کې له پرديو غليمانو څخه د دغه ځای خپل استوګن موږ ته زيات خطرناک وو. يوه بله خبره هم د ناهيلۍ وړ وه. د واګنر سپاره چې د دغو سميو پر غرونو کې په جګړو کې تکره دي.

، خو دې ته يې زړه نه ښه کاوه چې بېرته شاته وګرځي او د روسانو پر ضد وجنګېږي. له دې امله نو زموږ په خپله ډله کې هم جنګي روحيه کمزورې شوه.



Ketabton.com

موږ له بېکر څخه مخه ښه واخيستله. هغه مو له درندو سامانونو، ناروغه څاروبو او کسانو سره پرېښو؛ ځکه چې بېکر د روسانو سترګې خان ته ور اړولې وې او روسان هم ورځ تر ورځ ورته رانږدې کېدل نو هغه دې ته اړ شو چې دغه سامانونه ليرې غرونو ته ورسوي او هلته يې په غرونو کې په پټو ځايو کې ځای پر ځای کړي او خپله د "حلوان" Halwan دري ته وتښتي.

د اګست پر اوومه د لمر له پرېوتو سره موږ له "بوشرويه" څخه ووتلو. ماسپښين مهال زه پاس يوې څوکې ته ور پورته شوم. مخې ته مو چې وکتل نو يوه ډله را روانه وه. دا کوم کاروان نه و، يوازې کېدای شول. روسان وي. زموږ او د هغوی تر منځ واټن اوږد و. خو بيا مو هم د بېړې مخنيوی نه کاوه. موږ په بيړه روان شولو. له سهيل څخه انګرېزي - هندي خواکونه هم را روان وو. هغوی ته مو هم بايد پام اړولی وای. اوس نو دلته بايد موږ له ډېر زيات احتياط څخه کار اخيستی وای چې د دښمنانو سترګې مو د ځان پر لور نه وای را اړولي. زما د ډلې زياتو پارسيانو اپين څښلو. کله چې به پر دوی سخته راغله نو په ساعت کې يو ځل يې بايد خامخا تړې لوګي پورته کړي وای. ما له "طبس" څخه اپين له ځان سره را اخيستي وو چې دلته يې پر دوی وويشم. نه مو شوای کولای چې په دغو سختو دښتو کې پرې اپين بند کړو. اصلاً موږ غوښتل چې په دغو شاړو سيمو کې دوی په دې توګه د حورو، ښيونو او اوبو جنتي خوبونه ويني، خو موږ جرمنيانو دلته د خوبونو اړتيا نه لرله، دلته بايد موږ خپلې چې ږې تر سر کړې وای.

ما "دوهوک" Duhuk ته يو څوك ورولېږه چې وګوري هلته خو به دښمنان نه وي پراته. کله چې موږ هلته ورنږدې شولو نو خبر مو تر لاسه کړ چې دلته او دغه ځای ته په پرتو نږدې سيمو کې دښمنان نشته. دلته موږ ايله بيله په خوبونو ځانونه ماړه کړل او ښه خوراك مو وکړ، خو بايد له احتياطه ډکې څوکۍ مو کړې وای.

بله ورځ په غرمه کې بايد موږ خپل يون پسې اوږد کړی وای. له يو څه مزل وروسته مو د کوچيانو تورې تورې خيمې تر سترګو شوې. کله چې موږ هغوی ته ورنږدې شو نو هغوی وتښتيدل. خو کله چې يې وليدل موږ غله نه يو، نو بېرته راستانه شو. دغه سيمه هغوی د "چاه پنيري" Tschah-Panirr په نوم نومولې. ما بايد خپل څارووي يو څه دمه کړي وای ځکه چې ډېر سخت مزلونه مو مخې ته پراته وو. اوس لکه چې موږ هغې لويې لارې ته ورنږدې شوي وو چې د دښمنانو په لاس کې وه. دلته، که د هر څومره مودې لپاره کېدای شوای، موږ بايد پټ پاتې شوي وای.



Ketabton.com

په همدغه شپه کې مونږ خپل مزل ته دوام ورکړ. له یو څو ساعته مزل وروسته مونږ داسې دښتو ته ورسېدلو چې نږدې ورسره کلي پراته وو.

مونږ جرمنانو باید ډېر ستونزمن کار تر سره کړی وای. خپله دغه ډله مو باید له ببرني بون سره سره یو ځای ساتلی وای. مونږ باید ان ستړي او ډارن خلك هم له خانه سره یو ځای ساتلي وای. له همدې امله زمونږ یون له زیاتو ستړیاوو ډك و. وسله باید هر وخت ډزو ته چمتو وای. پر مونږ په لاروکې ځای پر ځای سپیو برید وکړ. خو بله کومه د اندیښنې وړ پېښه ونه شوه. وروسته مونږ ته ځینې داسې خبرونه تر لاسه شول چې زمونږ له دغه یون څخه زمونږ غلیمان خبر شوي دي. دغه رازراته دا خبره هم څرګنده شوه چې زمونږ شنګ ته پراته کلي ته د دښمنانو له دوه سوو څخه تر دوه نیمو سوو سپاره را رسېدلي دي. همدا رنګه مونږ ته معلومه شوه چې په دغه ډله کې روسي او پارسي سپاره سره یوځای وو او اوس نو باید مونږ خپل هیڅ وخت له لاسه نه وای ورکړی. ما د وړاندې تګ امر وکړ، سره له دې چې د غرمې د لمر سوزنده وړانګې پر مونږ لګیدلې. ما خپل یو شمېر ملګري له ځانه مخکې لېږلي وو چې زمونږ د وړاندې تګ لارمخکې له مخکې وڅاري. له یو ساعت مزل وروسته مونږ له کوم خنډ پرته د دښمنانو له مخابراتي لیکو څخه تېر شولو. زما ځینو ملګرو غوښتل چې د دښمنانو د مخابراتي پایو، سیمونه وشکوي. د دښمنانو د مرستې تر ټولو لویه لاره همدا وه، خو ما د خپلو ملګرو دغه غوښتنه ونه منله. اوس د دغو وسایلو د ویجاړیدو وخت نه وو او دا یې ځای هم نه و. پاشین به له کینې خوا څخه له یو ورځني مزل وروسته خپله تر سره کړی وای.



Ketabton.com

(۹)

# ډېر کلک ځارل (تعقیب)

اوس مو ایله په ارامۍ سره ساه ایستلې شوه. یوه خبره اوس څرګنده وه؛ زموږ او د افغانستان د پولې په واټن کې له دې وروسته کمزوري څواکونه پراته وو. د ښمنانو له اصلي ځواکونو څخه اوس موږ راتېر شوي وو. له هغو پیاړویو ځواکونو سره موږ د جګړې هیڅ وس نه درلود. اوس نو باید موږ هڅه کړې وای چې له دوی څخه نور هم لیرې شوي وای. د شپې له خوا پر مزله بوخت وو چې یو خبر مې تر لاسه کړ. زه خبر شوم چې "هینتمګ" ورك او بې درکه شوی دی. ما خپل کاروان ودراوه او د هغه د موندلو لټه مو پیل کړه. دا ښه کار نه دی چې سړي ځاروي او انسانان د مزل په منځ کې ودروي، څکه چې هغوی سمدلاسه څملي. ناڅاپه مو یو ډز واورېد. د دغه ډز سره په لیرې سیمو کې د سپو اوازونه هم یوځای شول. دغه ډز د کومې جرمنۍ وسلې نه و. له یو ساعت لټون او ناارامه څنډ وروسته "هینتیګ" موږ ته راورسېد. هغه له موږ څخه یو څه شاته پاتې شوی وو او وروسته ترې په غرونو کې لاره ورکه شوې وه. هلته پرې ډزې هم شوې او په ګولۍ لګېدلی و. موږ باید اوس بیړه کړې وای. باید د دوو تاڼو له لیارې تېر شوي وای. د لمر له راختلو سره سم له ۷۵ کیلو متره مزل وروسته موږ په یو کوچني کلي کې چې نګین Nagın نومیده دمه وکړه. له دوهوك وروسته په دغه کلي کې موږ د لومړي ځل لپاره د ځارویو او ځان لپاره خوراکي څیزونه پیدا کړل، خو هیڅا هم د دوډۍ پخلي او نورو چارو ته زړه نه ښه کاوه. تول د زیاتې ستړیا له امله پرېوتل. ما د څوکیدارۍ یوه احتیاطي ډله جوړه کړه، خو اصلي څوکیدار زه خپله وم. یوه دقیقه مې هم خوب ونه کړ. ما ځان ته یو سیوری پیدا کړ او د کلي یو استوګن مې راوغوښت چې د وړاندې تګ د لارو پوښتنه ګرویږنه ترې وکړم. د دغه کلي استوګن داسې خلك وو چې له خپل کلي پرته یې، له دوی سره څنګ کې هغه بل کلی هم نه و لیدلی. دلته چا ته د دغه کلي نوم هم نه و معلوم. کله چې دلته موږ د افغانستان په اړه پوښتنه وکړه، نوخلکو به د لېونیو ګومان را باندې کاوه، خو له دې سره سره په پارس کې د زیاتو سفرونو له تجربو او د یو عسکر په توګه مې له دغو خلکو څخه یو شمېر ارزښتناك معلومات تر لاسه کړل. اوس بیا د وړاندې تګ شېبې راورسېدې. په ډیرې خوارۍ مې خپل کاروان راویښ کړ. څښاك او خوراك مې پرې



Ketabton.com

وکړ او له دوه ساعته دمې وروسته مو بېرته مزل پيل کړ. مزل مو بيا هم پر شاړو سيمو او نږ سوړنده لمر لاندې و.

بو لوی کلی چې "درخش" Dorochsch نومېده، زموږ مخې ته راغی. څرنګه چې ما نه مخکې خبرداری راکړل شوی و، نو هڅه مې کوله چې خانونه له دې کلي نه په څنګ کې تېر کړو. غوښتل مې چې د ختيځ له لورې، شمال خوا ته وړاندې تګ وکړم او هلته د افغانستان په پولې سره پرتو غرونو ته خان ورسوم. له اوږده سفر وروسته مې باید دا خبره زغملې وای چې زموږ لارښود پر نا سمه لاره روان دی. بېرته مو لاره بدله کړه. په دغه سيمه کې زه څو څو ځله دې ته اړ شوم چې لارښودونکې بدل را بدل کړم، خو ژر په بېرته متوجه شوم چې هغوی هم د دغو لیارو په اړه ډېر نه پوهېږي.

د تودوښې او ستړيا له کبله زموږ څاروي او کسان بيخي له لاده باده وتلي وو او وړاندې تګ ته يې زړه نه ښه کاوه، خو له ټولو څخه سوږ جرمنان سرلوړي وو. دا زموږ د اوسپنيز توان او د وړاندې تګ د ارمانونو پايله وه چې کاروان مو ونه پاشل شو. زما اتريشي ملګري هم ناتوانه شوي وو. د هغوی مشر بايرل Bayerl هم ډېر ستومانه او له لاده باده وتلی و. څوږېده او ما يې هيڅ مرسته نه شوای کولای. هر څوك چې له پښو لوېده او وړاندې به نه شو تلای، هماغلته به مو پرېښوده. زموږ په وړاندې يوازې يو هوډ پروت و: په هر ډول چې کېږي باید مخ په وړاندې لاړ شو. د غليمانو په منګولو کې له ښکېليدو څخه، په دغه دښته کې خاورې کېدل غوره وو. په دغه ورځ موږ نوی (۹۰) کيلومتره مزل وکړ. کوم غليم مو مخې ته نه و راغلی. خو بيا هم دغه ورځ له ټولو ورځو څخه زياته ستونزمنه وه. همدې ورځې موږ ته زيات شمېر زيانونه هم راواړول. موږ باید اوس په دې خبر خانونه باوري کړي وای چې غليمانو به زموږ څارل او تعقیب پیل کړی وي. په دغه ورځ کې بې له شکه چې زموږ او د دوی واټن سره ډېر زيات شوی وو، ځکه چې موږ دغه ورځ په مزل ځان ښه ستړی کړ. زموږ دښمنانو که ډېر تکړه سپاره هم رالېږلي وای، هغوی دغه واټن دومره په اسانۍ سره نه شو لنډولی. دغه واټن مو باید همداسې اوږد ساتلی هم وای. له همدې امله مو دلته لږ دمه وکړه. ما يوازې دوه ساعته خوب وکړ او د سهار په دوو بجو مې ټول کاروان د وړاندې تګ لپاره راپورته کړ. دا خل زما خپل هېوادوال هم پر ما وګورېدل. ټول کاروان راويښول او يون ته چمتوکول ډېر ستونزمن کار و. دا کار له لغتو وهلو او بدو ردو ويلو پرته نه شوای کيدای. د خپلو



Ketabton.com

ځارویو کنلو ته ورغللو او وسو لیدل چې هغوی هم ډېر زیات کمزوري شوي دي، خو بیا مو هم بارونه پرې بار کړل.

موږ چې په لاره کې کوم مخابره چې (تلګراف چې) نیولې و نو هغه د خوشي کېدو په وخت کې د مرګ پر پوله ولاړ و. هغه اوس موږ ته کوم تاوان نه شو رارسولی. خدا دې وکړي چې هغه تر ډېر کوره رسېدلی وي، ښایي موږ ته یې یو څه درناوی پیدا شوی وي او زموږ په اړه ښه خاطره ولري.

د سهار په نهو بجو مو ایله بیله له دغه ځایه یون پیل کړ، وړاندې د ناهید Na-umid (ناهیلي) له دښتې، زموږ د هیلو منزل پروت و، په اصل کې دغه غربي سیمې د پارس او افغانستان طبیعي پولې دي، دلته لا تر اوسه پورې د هغوی پخوانیو سرحد څوکیو نښې نښانې څرګندېدلې. تر دغه ځایه پورې په افغانانو خپلې رمې راوستلې. دغې دښتې نه، بلکې دغو غرونو دغه اولسونه سره جلا کول. د اولس پر وینا له دغو غرونو نه ختیځ لورې ته "د افغانستان خاوره" پیل کېږي. د پارس پر لورې مو د وروستي ځل لپاره وروکتل. سره له دې چې موږ دلته خپل ډېر سپېځلي ملګري شاته پرېښي وو، خو بیا مو هم په ستړیا او خوښۍ د غرونو پر لور یون پیل کړ. په دغو غرونو کې سړي د انګریزانو د آسونو د پښو پلونه لېدای شوای. په دې توګه نو دلته هم د هغوی څوکۍ راغځېدلې وې، خو دې خبرې موږ دومره نا ارامه نه کړو. د کوچیانو په کېږدیو کې مو یوه لنډه شپه دمه وکړه. هلته مو یو څه اوبه هم پیدا کړې. دا ځل مو هم پنځوس کیلومتره مزل کړی و.

نن هم له موږ څخه په لاره کې یو زیات شمېر ځاروي او انسانان پاتې شول. په هغو کې زما دولیم (ریزرف) آس هم شامل و، له یو کم شمېر پرته، نور نو د ټولو پارسیانو حالت خراب و، خو عربان او افغانان له هغوی څخه یو څه ښه وو. په موږ ټولو کې هیڅ مټره او توان نه و پاتې. سره له دې چې زموږ په بدن کې نوې هیلې او احساس غزونې کړې وې.

زموږ ترکي ملګري قسیم بای یو نږدې کلي ته ولېږل شو چې یو څه سامان واخلي، خو نوموړی له داسې شیانو سره بېرته راوګرځېد، چې هیڅ ګټه مو نه شوه ترې اخیستلی. زموږ په وړاندې د څلورو پنځه دښتو مزلونه لا پراته وو. سهار د وخته په دریو بجو مو بېرته مزل پیل کړ. له پنځه ساعته مزل وروسته موږ داسې یوې سیمې ته راورسېدلو چې "چاه ملکي" Tschahmelki نومیده. هلته موږ هغو ملګرو په تمه وو چې شاته را څخه پاتې شوي وو. دلته له یو څو ونو او بوټو سره ځنګلي (وحشي) خره ولاړ وو چې موږ له دغه ځایه وشړل. هغوی داسې په بېړه



Ketabton.com

وتښتېدل چې ښښنه يې بيخي د حيرانۍ وړ وه. دغه ننداره زموږ له پاره ډېره په زړه پورې او نادره وه؛ خو له بده مرغه موږ يې ښکار نه شو کولای. په دغه ځای کې مو له خپلو سرونو لوېې لوېې افغاني ډول پګړۍ را تاوو کړې، چې له تودوښې ځان وژغورو د پګړۍ يوه څنډه به مو له خولې او پوزې هم را تاووله چې له خاورو دوړو هم بچ شو. يو شمېر ځاروي به مو د لمر د زياتې تودوخې او تاو له امله يو ناڅاپه په منډه شول او بيا به پر ځای راپرېوتل. له ټولو څخه ناوړه خبر دا وو چې زموږ لاربښود کوچي موږ په يوه بدله لاره راوستي وو. دلته د اوبو هيڅ نښه نښانه هم نه وه، په داسې حال کې چې لس ساعته مزل مو کړی وو. له دې کبله چې نور هم بې سېکه اوناتوانه نه شو نو د سهار په دوه بجو مو دمه وکړه. تر اوسه پورې لا موږ د خپل سفر د لارې په اړه ډاډمن نه وو، او څکه مو د اور لمبه د ښښې په توګه خپل پاتې ملګرو ته نه شوه وركولای.

په نقشو کې د "يزدون" Yesdun دغه سرحدي سيمه د داسې چا په لاس کې وه چې موږ ته يې ستونزې پيدا کولای شوې، موږ بايد همدغې سيمې ته تللی وای، څکه چې اوبو ته مو اړتيا لرله. موږ دې ته هم چمتو وو چې په زور سره پر دغه لار لاړ شو. ماښام مهال زه له ځايه وخوځېدم چې د دغې سيمې په اړه ځانته معلومات پيدا کړم. ما ته څرګنده شوه چې موږ د افغانستان د پولې ختيځ اړخ ته زيات نږدې شوي يو. موږ له پولې د اوښتلو اجازه نه لرله. تر اوږده واټنه د اوبو څه نښې نه ښکارېدلې. ددې لپاره چې موږ "يزدون" ته ورسېږو، بايد بيخي پر بل اړخ روان شوي وای. ما خپل کاروان تګ ته چمتو کړ او له دوه ساعته احتياطي مزل وروسته، يوې داسې سيمې ته ورسيدلو چې له ختو جوړې شوې کوټنی او سمڅې يې لرې چې خلك په کې اوسيدل هغوی موږ ته کيسې وکړې چې پارس د پولو ځارونکي اته ورځې مخکې دلته راغلي وو. روسان او انګرېزان په دغو سيمو کې کله نه وو ليدل شوي، خو کېدای شي چې له موږ نه وروسته هغوی دغې سيمې ته راورسېږي.

زه په دې ډېر خوشاله شوم چې پاشن له خپلو کسانو سره د ماسپښين له خوا راورسېد او زموږ سره يوځای شو. له هغوی سره هغه اتريش هم يوځای وو چې خلکو فکر کاوه، چېرته تری تم شوی دی. هغه موږ ته ډېرې په زړه پورې کيسې وکړې. پاشن د تلګراف (مخابراتو) هغه سيمونه هم شکولې وو چې د دښمنانو اړيکې سره پرې کړې. دی په هماغو سيمو کې و خو کله چې حالات خراب شو نو هغه د "چاه ملکي" پر لور وخوځيد او هلته يې زموږ د پېښو نښې پيدا کړې وې.



Ketabton.com

یوه بله نوې پېښه: د "هینتیگ" کسانو د وړاندې تګ مخالفت کاوه، دده ځاروي په کرایه اخیستل شوي وو. ټولې هغه هلې ځلې ناکامې شوې چې غوښتل مو هغوی وړاندې تګ ته وهڅوو. دغو د افغانستان په هکله داسې ډارونکې خبرونه اورېدلي وو چې هلته تګ ته یې په هیڅ ډول زړه نه ښه کاوه. هغوی د غلیمانو لاسونو ته د ورغورځېدلو ریسك کاوه (زړه ښه کاوه)، خو هلته یې تګ زړه نه غوښتل. اوس نو له دندو څخه د هغوی له ګوښه کولو پرته بله لاره نه پاتې. ما "هینتیگ" ته له خپلو ځارویو څخه یو شمېر وروسپارل. د هغه له خوا شړل شوي کسان وروسته یې ټول روسانو نیلوي او سامانونه یې ترې اخیستي وو.

اوس نو موږ د پارس له دښتو او دغه راز له خپلو دښمنانو څخه را تېر شوي وو. دلته موږ ته یو شمېر نوې اندېښنې راپیدا شوې. موږ داسې یو هېواد ته روان وو چې موږ ته د هغه په اړه هیڅ معلومات نه وو، له نړۍ څخه ګوښه او د پردیو دښمن و. زموږ اندېښنې دا وې چې هلته به له موږ سره څه ډول چلند کېږي؟ دغه هېواد دادی زموږ مخې ته پروت دی. هیڅوك دې هېواد ته د "امیر" له اجازې پرته نه شي ورننوتلی. ایا دلته به موږ په ټرلیو سترګو په دغه هېواد کې یو خوا بله خوا ګرځول کېږو، لکه له پارس څخه هرات ته له راغلیو سوداګرو سره به چې له اجازې سره سره همداسې چلند کېده؟ لکه خلکو چې کیسې کولې، ایا زموږ سرونه به هم له تنې غوځ شوی، په بوجیو کې اچول شوی او د شپې له خوا له پلوې اخوا ته غورځول شوي وای، لکه څنګه چې څه موده مخکې له روسانو سره همداسې چلند شوی و؟ ایا موږ به په همدغه راتلونکې تانه کې بېرته د پولې پر لور راوشړي؟ افغانان او امیر اوس تر کوم ډول سیاسي اغیزولاندې دي؟ موږ خو داسې خلك نه وو چې په داسې ویرېدونکو افسانو وډار شو؛ خو زموږ حالات ډېر ناوړه او نازك وو. کېدای شي چې نن دغه خبرې ډېرې د حیرانتیا وړ او له مبالغې ډکې ښکاره شي، که زه ووایم چې زموږ د جګړه ییزو پایلواو پوخې هڅو له کبله دغه هېواد ته د اروپایانو ورتګ ممکن شوی دی او دغه خپلواك هېواد یې د خلکو په زړونو کې ځای کړی دی. خلك دې له هغو کسانو څخه پوښتنه وکړي چې له موږ څخه وړاندې یې دغه هیواد ته د ورننوتلو تکل کړی دی. یوه خبره ښکاره ده او هغه دا چې له دغه نا څرګند هېواد څخه چې کوم پړی تاو شوی و هغه د لومړي ځل لپاره موږ غوځ کړ.

دا چې د عیسویانو په توګه، موږ له خانونو څخه افغانانو ته "به بو" چوړ نه کړو، نو له همدې امله مو مولوي برکت الله چې د اسلامي خپلواکۍ غوښتونکو یو



Ketabton.com

نومیالی جنګیالی دی او ترکي قسیم پای له یو څو نورو کسانو سره د هرات والي (ګورنر) ته ورولېږل چې زموږ له رانګ څخه یې خبر کړي. اوس نو دادی بیا زموږ د ورانديې تګ شیبې رارسېدلې وې. نهایي زموږ دښمنان به زموږ د څارلو لپاره اوس رانږدې شوي وو. سره له دې چې موږ پوره زیات ستومانه وو، خو دا مو غوره وګڼله چې خپل یون ته دوام ورکړو. په یزدون کې موږ ته چا په دې اړه معلومات نه شوای راکولای چې د افغانستان د پولې لومړنی تانه به چېرته وي؟ خو هغوی داسې اټکل کاوه چې په دغو لیارو کې د اوبو د ځاګانو امکان شته دی. موږ د دغې لیارې په اوږدو کې د ابادۍ څه نښه پیدا نه کړه.

څرنګه چې کمزوري او ناتوانه کسان ټول په لیارو کې پاتې شول. نو اېله اوس زما په څنګ کې تر ټولو خواکمن او پیاوړي کسان پاتې وو. نه مې غوښتل چې دوی هم له لاسه ورکړم. زه تر اوسه پوري روغ رمټ وم، سره له دې چې هر هډ مې درد کاوه او سترګې مې پټې پټې کېدې. اوس نو ټول پښتې یوازې د جرمنانو پر اوږو پروت وو. "هینتیک" تر ټولو پیاوړی کس و چې زما په څنګ کې و. په دغو ورځو کې موږ دواړو تر ټولو سختې چارې ترسره کولې. له پنځه ساعته مزل وروسته موږ یوې داسې سیمې ته راورسېدلو چې پخوا هلته اوبه وې، لږ څه مخکې. د شپې په لسو بجو موږ پر هغه سیمه تېر شو چې په نقشه کې یې د افغانستان د پولې په توګه په نښه کړې ده. دا د ۱۹۱۵ کال د اګست د ۱۹ شپه وه چې شلمې ته اوښتله. ایله په یوه بجه مو د اوبو یو څو ځاګانې پیدا کړې. څرنګه چې ټول ستړي وو نو پر ځمکه پرېوتل. له څارویو څخه مو پښتې ښکته کړل او دمه مو جوړه کړه. یو څه په کې د ځاګانو پر لور لاړل چې غوښتل یې د څښلو لپاره اوبه پیدا کړي. اوس موږ له غلیمانو څخه ژغورل شوي او خوندي وو. وروسته چې مو کله په کابل کې له امیر سره ولیدل، نو هغه راته وویل چې موږ نور یوه ورځ هم په پارس کې خوندي نه شول پاتې کېدای. زموږ دښمنان پر موږ پسې زموږ له راتېرېدلو، نیمه ورځ وروسته رارسیدلي وو خو له پولې څخه د را اوښتېدلو زړه یې نه شو کولای. د انګرېز - هندي پوځونو لس زره کسیز لښکر او د روسانو یو پوځ په دغه سیمو کې په پوځي پرمختګونو او هلوځو بوخت وو. هغوی د بلوچستان له لوري پر سیستان او خنېج پارس. مشهد ته رارسیدلي وو. د پاملرنې وړ خبره دا وه چې روسانو او انګرېزانو په ګډو هڅو کې یو پر بل هم دومره داډ نه لاره او په تلپاتې توګه یې یو ځای کار ته زړه نه سره ښه کاوه. دغه خبره وروسته بیا د هغو بېلابېلو انګرېزانو له خوا راته وشوه چې وروسته بیا زموږ سره بلد شوي وو.



Ketabton.com

اوس نو باید موږ د یوې یا دوو دښتو مزل تر سره کړی وای. موږ ښه په بیړه مخ په وړاندې روان وو. زه نه پوهېږم چې هغه کوم زور و چې موږ یې داسې بیړنی مزل ته هڅولي وو؟ آویا کیلومتره مزل مو کړی وو چې یو څو ډزې مو واورېدلې، دغو ډزو نږدې زموږ زاره چوولې وه. موږ داسې اټکل کاوه چې دا به ګوندې افغاني څارونکي وي. خو نه، دا هغه اتریش ملګري وو چې زموږ له کاروان څخه ورک شوي وو او اوس باید بېرته راسره یوځای شوي وای. د سهار په پنځه بجو موږ یوه جلا پروت او شاړ کلي "مغول بچه" ته ورسېدلو چې موږ په کې د خپلو خانګړیو کسانو د لیدلو تمه لرله.

له اته - نهه ساعته مزل وروسته موږ راتلونکي دمه ځای ته رسېدلی شو. آیا موږ په دغه لږ را پاتې توان سره، دغومرٍه لاره وهلی شوه؟ خو دا خبره راته څرګنده وه چې دغه یو ورځنی یون موږ ژوندي ساتلی شو. همدغه احساس په موږ کې یو څه توان راپیدا کړی وو. خو له دې سره سره په موږ کې چندان د ژوند څه نه و را پاتې.



Ketabton.com

(۱۰)

# د هند په دروازه کې

## په لومړني افغاني دمه ځای کې د ميلمستوب هرکلی، سمسور هرات ته رسېدل، زيانونه، د هرات پخوانی او اوسنی اهميت ښاراو مهربان والي

موږ په نيمه شپه کې روان شولو. هوا تازه شوې وه. د غرونو نږدېوالی مو محسوسولی شو. يو بل ځاروی را ته په لاره کې ځملاست. د سهار پر شپږو بجو موږ پر شنو او سمسور پټيو (زمکو) تېرېدلو. دا زموږ له پاره يوه په زړه پورې ننداره وه. موږ پوره خواري وکړه چې خپل ځاروي ودروو او دغو شنو پټيو کې دمه جوړه کړو. دلته په زمکو کې يو شمېر افغانانو کار کاوه او د سپين کتان جامې يې اغوستې وې. دوه ګړۍ وروسته موږ لومړني افغاني کلي ته چې "پرېهر* " نوميده ورسيدو. د ځای اوسېدونکيو له لورې را ته تود هرکلی وويل شو او ځای يې راکړ، خو داسې ښکارېدل لکه چې موږ بيخي نابلده ورته ښکارېدلو. دا له هغوی سره سرې منلی شو، ځکه چې دوی په خپل ټول عمر کې يو اروپايي هم نه و ليدلی.

موږ له يو ډول ناکراره انتظار څخه په مازيګر کې خلاص شولوو ځکه چې د هرات دوالي (ګورنر) له خوا رالېږل شوی کاروان چې سپاره او بار وړونکي ځاروي په کې وو، راورسېد. اوس نو موږ ته بې تفاوته وه چې زموږ راتلونکی پروګرام به څنګه وي او دچارواکو ښه راغلاست به په کوم ډول وي؟ موږ په دې زيات خوشاله شو چې هغوی موږ ته د افغانستان د حکومت د مېلمنو په توګه هر کلی ووايه. موږ له دې نه و خبر چې د ختيځ خلك دومره مهربانه دي، سره له دې چې له موږ سره يې توپير درلود خو بيا هم موږ د غو خواخوږو، ساده او رېښتينو خلکو له زړه خوشاله کړلو، د پارس له خلکو سره چې موږ څو تېرې مياشتې ورسره يوځای وو، دوی توپير درلود.

په پيل کې موږ ته زيات شيان نا اشنا برېښېدل. فارسي د دربار او دولت ژبه وه زموږ پر غوږونو سره او سخته لګېدله. زياترو لغتونو يې له لويخي فارسي سره توپير لاره چې زموږ غوږونه ورسره اشنا شوي وو. د نويو راغليو کسانو ننداري پر

---

* د هرات لمړی کلی.



Ketabton.com

موږ خانکړې اغېزه وکړه د دوی مشر بو اوږد او تت زرغون رنګه یونیفورم اغوستی و چې خلند تنی یې لرله. ورسره یې د څرمنې موزې په پښو کړې وې چې سرې ته یې د روسانو کالي وریادول.

دغه راز یې د پخوانیو انګرېزانو په څېر خولۍ پر سر کړې وه. د غسې خولۍ په راتلونکې کې موږ زیاتې لېدلې. کېدای شي چې د داسې کالیو اغوستل به خپلو چاراوکو ته د امیر حبیب الله خان لاربنودنه وه او له همدې امله سترو چارواکو هغه سپینې لونګۍ نه پر سر کولې چې د عامو افغانانو عادت و. له دغو چارواکو سره دوه تنه سپاهیان هم وو چې د منځنیو پېړیو په لباس کې رانغاړل شوي وو. همدارنګه له دوی سره یو داسې کاروان هم مل و چې د خوراك په ګډون یې بیلابیل سامانونه له ځانه سره لرل. هر څه چې به زموږ اړتیا وه، هغوی به موږ ته په واك کې راکول او کله چې موږ غوښتل، بیه یې ورکړو، نو هغوی به دې کار ته نه پرېښودلو. ځکه چې موږ د هغوی د مېلمنو په توګه تللي وو.

موږ غوښتل چې دلته یوه یا دوه ورځې دمه وکړو ځکه چې زموږ د ډلې څو تنه د څښاك او خوراك له شته والي سره سره، په ښه وضعه کې نه وو، خو والي غوښتل، هر څومره ژر چې کېدای شي، موږ د هرات ښار ته ورورسېږو. مهماندار (مېلمه پال) پر موږ بېړه کوله نو ځکه موږ په سبا حرکت وکړ. هرات ته د تګ لپاره باید موږ خپل لباسونه ښه سره چمتو کړای وای. که چا له ځانه سره کوم ښه شی راوړی و، نو هغه یې له ځانه راتاو کړ. په موږ ټولو کې د هینتیګ Hentig جامې ښکلې وې. موږ د سپرو یوه لویه ډله جوړه کړه چې عربان، پارسیان (ایرانیان) افغانان او هندیان په کې شامل وو، او داسې خو موږه د افغانانو په مشرۍ یون پیل کړ. زموږه د بار وړونکیو څارویو ډله پر موږ پسې وروسته را روانه وه. زموږ د ساتنې (تحفظ) لپاره د تګ داسې لاره غوره شوه چې د خلکو د استوګنې له ځایونو څخه ډېرې ته وه. یوازې یوه دمه مو وکړه چې په دغه دمه کې مو چای او خوندورر انګور وخوړل. لږ وروسته موږ د هرات سمسوره دره ولیدله چې ښکلې پټې او ښونه یې لرل او تر شایې لوخ غرونه ښکارېدل دا یوه ډېره په زړه پورې ننداره وه. زموږ خرې او وچې سترګې د دغې سمسورې سیمې په ننداره نه مړېدلې. لږ وروسته بیا د لویو ونو په سیوري کې په پټیو کې روان وو چې له هریرود څخه راغلې ویالې په کې بهېدلې. زموږ پوزې چې د مالګې له ګردونو ډکې وې دغه ښکلې وږمې یې په ډېرې خوښۍ سره ځان ته راکښلې. دغه لوی توپیر موږ ته په ډاګه کړه چې څه مو



Ketabton.com

بر نسا پرې ابنبي دي. خو د دې سيمې خوند هغو ګردونو خراباوه چې سترګو ته مو را الوتل

د دغې سيمې د ننداري په وخت کې موږ خانونه په کټو پورې کلک کړي وو. د دې لپاره چې ځناور يو څه دمه وکړي. غوښتل مو چې څه شيبه پلي لاړ شو، ځکه چې موږ هسې هم له پلي تګ سره روږدي وو. موږ بايد په يو څه بيړه مخ پر وړاندې تللي واى

د مازيګر پر څلورو بجو موږ د لويو ديوالونو په منځ کې پروت هرات ته ورسېدلو. د ځاي استوګنو له خوا موږ ته په زړه پورې هرکلى وويل شو. د ښار منځ ته د ورننوتلو اجازه مو نه لرله. موږ د ښار له ختيځ اړخه، په شمال کې د امير يو ښکلي ميلمستون ته بوتلل شولو چې همدغه ځاى له دې وروسته زموږ استوګنځى هم شو. پوره ډېره ډوډى راته تياره شوې وه. د تېرو مياشتو د کړکېچونو له امله، دغه سيمه لکه يو افسانوي هېواد داسې ښکارېده، خو زموږ داسې نه وه خوښه چې د پيره دارانو له خوا مو کلکه څارنه کېدله او تر يو وخته پورې يې د تګ راتګ اجازه نه راکوله. خو د پيل لپاره زموږ هم يوازې هوساينه او استراحت په کار و.

تر ټولو اړين (ضروري) کار دا و چې پر ناروغانو پاملرنه وشي. تر ټول زيات بايرل ناروغ و او يعقوب هم داسې ښکارېده چې د رنځورتيا څه اغېز پرې شوى وي. موږ په پيل کې د ځينو خلکو د رانږدې کېدلو له امله شکمن کېدلو. د اګست په څلويشتمه له اصفهان څخه هرات ته د را روانېدو په وخت ما داسې کړې وه: ۱۴۰ تنه انسانان، ۲۳۶ څاروي، او د هرات د رارسېدلو شمېره داسې وه. ۳۷ انسانان، ۷۹ څاروي، او داسې ښکارېدله چې يو څو تنه نور هم کم شي. دغه قرباني بې پايلې نه وې. د کاروان عمومي برخه دادى افغانستان ته را رسېدلې وه، يو سخت کار تر سره شوى و او موږ ته د لاړښودنو يوه برخه هم تر سره شوې وه.

هرات د منځني ختيځ يوه زړه او د ارزښت وړ سيمه ده. د هرات د غرونو او دښتو ښه داسې وه، لکه د منځنيو پېړيو ليکوالو چې به په خپلو ليکنو کې څرګندوله. دغه ښار د اسيا د ښځ په نوم يادېږي، څوك چې زموږ په څېر دوچو دښتو په اوږده لاره دننه راغلي وي، دغه ځاى به ورته لکه جنت ښکاره شي.

له ډېره وخته راهيسې هرات د يرغلګرو او سوداګرو يو لويه لاره او دمه ځاى و، چې له لويديځ او شمال څخه به را روان وو او هندوستان، چين او پارس ته به تلل. د دمه ځاى په توګه او د چمتو والي لپاره يې د لويو کمپنيو لپاره هم يو مهم نقش لوبولى دى.



Ketabton.com

سره له دې چې دغه سيمه هم لکه د نورو هغو سيمو په څېر وه چې د دې دغه خواك نه لاره چې له خپل خاني توانه، له دوى څخه د زياتو جنگياليو اولسونو د راتګ او يرغل مخه ونيسي. څرنګه چې د بيلابيلو لاملونو له مخې وخت ناوخته قوتونه او خواکونه اوښتل را اوښتل. نو د دې سيمې په موقيعت کې هم وخت په وخت بدلونونه راتلل دلته به کله ايراني او کله هم ترکي يرغلګر حاکمان کېدل. ډېره موده وروسته چې په افغانستان کې يو خپلواك دولت جوړ شو نو بيا په نولسمه پېړۍ کې د روسانو او انګرېزانو له خوا سختې هلې ځلې پيل شوې چې "د هند په دروازه کې" کې د ايران د خواکونو د درېدو مخه ونيسي دغه وخت هرات له لويديځ او شمالي خواوو څخه بيل شو هرات (يا پخوانی اريا) يوه غني تاريخي ماضي لري "مقدوني سکندر" د "باختر" خوا ته د پرمختګ په لاره کې پخوا هم دلته يوه پوځي موقتي اډه جوړه کړې وه. د هرات د سمسورتيا دوره له لسمې څخه تر څوارلسمې پېړۍ پورې ده چې دا له محمود غزنوي او دده له اخلافو سره اړه لري. دا د دوی د خوارېو ثمره ده چې ډېرې شانداری، خو اوس ويجاړې يې اوس هم د دې دورې پر خلا شاهدي ورکوي دغه په ښه موقعيت کې پروت ښار ان په ديارلسمه او څوارلسمه پېړۍ کې د چنګيزخان او ګوډ تيمور د يرغلونو له ورانيو سره سره بيا هم په ډېره لنډه موده کې پر پښو ودرېد په هغو ورانيوو کې د دوی کاريزونه او سمسورې زمکې هم بيخي ويجاړې او شاړې شوې خو بيا يې هم ژر جوړې کړې دا څکه چې دغه د اوبو لګولو سيستم د سر خلاصو کانالونو په توګه جوړ شوی، نه يوازې د کاريزنو په بڼه او له همدې امله ژر جوړېدای شو.

د يرغلګرو لپاره د دې سيمې تيژيکي ارزښت ډېر زيات و. سره له دې چې دغه سيمې به د يرغلونو له امله بيخي ويجاړې شوې او مغول نژاده قومونه به دلته په جبري توګه د دې سيمو استوګن شول، خو د دې سيمې ستراتيژيك اهميت به لا پسې زيات شو له همدې کبله د څوارلسمې پېړۍ په پای کې د تيمور د زوی شاهرخ ميرزا له خوا د خپلې پلازمينې په توګه د هرات د ټاکلو له امله، دغه ښار د خپلې سمسورتيا يو بل پړاو پيل کړ.

د شپاړسمې پېړۍ په پيل کې، کله چې ايرانيانو د خراسان ايالت ونيو، نو د هرات ښار چې پخوا يې سياسي - کلتوري مرکزيت درلود، دغه مرکزيت د مشهد ښار ته ولېږدېد او دغه راز مشهد د تشيع د ملي تقدس پر مرکزيت هم بدل شو. د دې کار په پايله کې د هرات وېجاړې پر له پسې او نه تم کېدونکې ښه غوره کړه او دغه بهير ته له تورانې واديو څخه د ازبك قومونو را دانګلو نوره هم چټکه بڼه



Ketabton.com

ورکړه، ځکه چې دغه ښار نو اوس کوم مرکزي دریځ نه درلود ، بلکې یوازې یو سرحدي ښار ترې جوړ شوی و په ۱۸۸۵ کال کې د پارسانو وروستي یرغل چې روسانو هم لاس ورسره لاره د انګرېزانو د مداخلې سبب شو د دې کار پایله دا شوه، چې هرات بېرته په افغانستان پورې وتړل شو، ځکه چې دغه وخت ټول افغانستان د یو حائل دولت په توګه د انګرېزي کنټرول لاندې وو. په دې توګه نو روسي سرحد په "کشک" کې پاتې شو چې د هرات له شمال څخه د پښو د څلور ورځني سفر په واټن پروت دی

د انګرېزانو له خوا، د هند لپاره د دغه ښار ارزښت وخت پر وخت په ډېره مبالغه آمېزه توګه مهم څرګند شوی دی او تر اوسه پورې لاهم پر دغه ښار، د هر روسي یرغل په وړاندې کلکې مقابلې ته چمتو دي د انګرېزانو له ټولو هڅو سره سره چې دغه غرنی ښار د هند د ساتلو په خاطر همداسې ستونزمن لاری (صعب العبور) وساتي، بیا به هم یو وخت له هراته تر هندوستانه پورې د اورګاډي پټلۍ تېره شي. سره له دې چې د داسې بیاباني سیمو لپاره د ریل پټلۍ له پوره ارزښته ډکې دي او په تېر جنګ کې یې پریکنده نقش ولوباوه، په اوسني عصر کې، د نورو ترانسپورتي وسایلو شته والی او له نړیوالې جګړې څخه د لاس ته راغلیو تجربو پر بنسټ، د دې ښار ارزښت نن ورځ له پخوا زمانې څخه یو څه کم دی.

د افغانستان لپاره دغه ښار، له کابل وروسته د خورا زیات اهمیت لرونکی دی، سره له دې چې دغه ښار یوازې د شل زره نفوس په لرلو سره د ګڼې ګونې له ښارونو څخه نه حسابیږي، د دې ښار اداري چارې ټل د مرکزي حکومت د ډېرو باوري ارګانونو په لاس کې دي. د منځني هریرود د شاوخوا د سمسورو زمکو د اوسېدونکو خلکو شمېر تر اوسني اټکل څخه زیات معلومېږي. دلته، پښتانه او د افغانستان په بیلا بیلو ولایاتو کې استوګن تاجکانو د مغولي نژاد هزاره ګان او چار ایماق اوسېږي. پر دې سربېره دلته یو څو سوه هندي او یهودي کورنۍ هم اوسېږي

د ښار اساسي بنسټ له څو پېړیو راهیسې پرته له کوم بدلونه پاتې شوی دی. دغه بنسټ یو مستطیل ښیي چې اوږده او سور یې ۱۵۰۰×۱۴۰۰ دي. په مرکزي شمالي برخه کې پر یوه لوړه یوه کلا جوړه شوې ده. د هرې څنډې په منځنۍ برخه کې لویې دروازې لري چې د برجونو په توګه ساتل شوي دي. له دغو دروازو څخه را پیل شوې لارې یې دغه ښار پر څلورو برخو ویشلی دی. ښار د یو لوی دیوال په منځ کې پروت و چې مخې ته یې یو ژور ډنډ هم جوړ شوی و. خو دغو شیانو د دفاع لپاره



Ketabton.com

نوېو (موډرنو) وسلو پر ضد کوم خانګړې ارزښت نه لاره. خو د خپګان خبره وه چې په ۱۸۸۰ کال کې انګرېزانو غوښتل دغه ښار په یوه قوي لښکر کوټ بدل کړي. هغوی غوښتل چې دغه اباد ښار او هغه ښکلي ودانۍ چې پخوا جوړې شوې وې ورانې کړو په دې لړ کې یې یو ښکلی جومات ویجاړ کړی و.

که څه هم چې د منځني ختېځ د تګ را تګ دغه لاره شاره شوې وه او هرات نور د شمال جنوب او لوېدیځ - ختیځ لاره نه وه خو د روسیې او پارس په اړه یې ارزښت لرلی دی، د دې سیمې سیمه ییز صفت له هیڅ سره برابر دی. مګر سړی کولای شي چې زړې او ښکلې هراتۍ غالۍ پید کړي.

دغه ولایت اوس د افغانستان د پاچاهۍ یوه مهمه برخه ګرځېدلې ده. که څه هم چې یوازې دوه کچه لارې لري چې یوه یې د هزاره جات د غرنیو سیمو پر لور تللې ده چې ډېرې میاشتې د واورو له کبله بنده وي او بله یې له کندهار سره نښلول شوې لاره ده چې یوه نیمه میاشت مزل غواړي. د دغه ښار او د سیستان د ډنډ له امله، افغانستان د منځني ایران له سیمو سره اړخ لګوي چې موسم او جوړښت یې یو ډول دي. دغه سیمې په منځنیو پېړیو کې سره یو شوې هم وې.

له لږې آزادۍ سره سره موږ د هرات دوالي (ګورنر جنرال) راتلو ته سترګې په لاره وو. موږ ته مخکې لا ویل شوي وو چې نوموړی به راځي. سهار د وخته خلک رارسیدلي وو چې هغه ته یې مانۍ ترتیبول او له ښاره یې ورته هغه مېز او څوکۍ راوړل. په لس نیمو بجو هغه له خپلو کسانو سره راښکاره شو. له عسکري ترتیباتو سره را روان وو مخکې ترې دیرش تنه عسکر را روان وو چې لباس یې د انګرېزانو په څېر و، او ورپسې پر یوه لوی اس باندې سپور دغه څه نا څه پنځه شپیته کلن ښاغلی راښکاره شو. ده لویه "خره" ږیره لرله او د انګرېزي جنرالانو په جامه کې و. نوم یې محمد سرور خان* وو، نوموړی له بیلا بیلو حکومتي چارواکو سره راغلی و. موږ هغه ته ښه راغلاست ووایه او ښه ډېره شېبه مو سره د سترې مشي او ملګرتیا خبرې وکړې چې د پارس له خبرو بیخي بل ډول وې.

وروسته بیا موږ خپلې آرې موخې (اصلي مقصد) ته راغللو. د والي په یوه اشاره د هغه ټول کسان لاړل. بیا نو موږ له هغه څخه وپوښتل چې چېرې به څو او څه مو پکار دي. دغه د ژوندي خوی ښاغلي زموږ د پارس د پېښو بیان ته په ډېره مینه غوږ اېښی و. هغه له موږ سره د هر ډول آزادۍ ژمنه وکړه خو راڅخه غوښتنه یې وکړه چې یو څه صبر وکړي چې اولس له دغو میلمنو سره یو څه عادت شي چې

---

* په اصل کې "محمود سرور خان" لیکل شوی دی. (ژ)

Ketabton.com

دلته د ېر لږ راځي. زموږ د دې غونډي په اړه چې غوارږو ژر تر ژره کابل ته لاړ شو. نوموړي وویل چې یو دوو اوونیو ته اړتیا شته دی ځکه چې ځینې کارونه باید تر سره شي. موږ ته یې نوی لباس راکړ ځکه چې زموږ پخواني کالي زاړه شوي وو خو زموږ له خوا د پیسو ورکړه یې په هېڅ ډول ونه منله. د ډالیو له راکړې ورکړې وروسته هغه په هماغه شان او شوکت بېرته ښار ته لاړ.

دوه ورځې وروسته موږ په ښار کې د ګورنر (والي) ودانۍ ته ورغللو. لویو سپرو ډلو، زموږ کاروان د ښکلا لپاره پوره کار وکړ، ځکه چې موږ باید ښکلي هم ښکاره شوي وای. د یوې لویې او ښکلې ماڼۍ په منځ کې یې چې له ګلانو ډکه وه، میلمستون وو. د دغه میلمستون مخې ته والي زموږ هرکلی وکړ.

په دغه تکه سپینه خونه کې غالۍ هوارې وې او په منځ کې یې یو لوی میز پروت وو چې له مېوو ډک و. موږ لا ناست نه وو چې یو پوځي قوماندان هم راننوت. موږ یو لنډ خو هوښیار سړی وپېژاند چې په هر ډول جنګي پېښو بلد و. زموږ د خوشالۍ لپاره موږ د هغه له خولې څخه د وارسا پېښه واورېده.



د هرات والي محمد سرور خان

په نورو ورځو کې ما ته اجازه راکړل شوه چې د ښار او شاوخوا ښکلي ځایونه وګورم او عکسونه یې واخلم. کالي ګنډونکیو هڅه کوله چې موږ ته یو ډول خیالي یونیفورم (لباس) جوړ کړي. د کالیو ښه مو د هغتک د جنګي لباس په څېر وه. په دې توګه نو موږ کولای شول چې په کابل کې، امیر ته خان په یوه ښه ښه


Ketabton.com

ورویېږنو. له عام اولس څخه یې موږ بیخي پټ ساتلو او هغه هم په داسې توګه چې موږ خپه او ناراضه نه شو. زموږ روغتیایي حالت اوس هم دومره ښه نه وو. بایرل اوس د ښې څارنې له کبله یو څه ښه شوی و خو تر اوسه پورې لا د سفر وړ نه و. هغه په موقتي توګه په هرات کې د اړیکو د ساتلو په منظور له یو اتریش او پارسي (ایراني) سره پاتې شو. پاشن مې پارس ته ولېږه چې پاتې کسان له خانه سره راولي. یعقوب ښه نه و او ټوله ورځ ویده و. د عربو او هندوانو یوه زیاته برخه هم ناروغه وه. په ډېره سپړنې توګه موږ د مخکې تګ اجازه واخیستله او خپله ډله مو تګ ته چمتو کړه. له والي او نورو چارواکو سره مو مخه ښه وکړه. هغوی له موږ سره تر یو ځایه راغلي وو. د سپتمبر په اوومه نېټه مو د خوراکي مواد له یو لوی کاروان سره د غه مېلمه پال ښار (هرات) پرېښود.



Ketabton.com

(۱۱)

# د تاڼو په هېواد کې

**افغاني دمه ځاى (رباط)، د هريرود په دره کې يون، کوچيان، د ژورو درو او دښتو پر لار، هريرود ته بېرته ستنېدل، اووه تاڼې - په يـوه ورځ کې، هزاره ګان، د افغانستان زړه، د يعقوب ناروغتياو د محروميت او د هوا د بدلون پايله، په کابل کې پرتمين (جشني) ښه راغلاست.**

موږه د دغې سمسورې او مېوه لرونکې سيمې - هريرود درې څخه پـه وتلو شولو او د شمال پر لور غرونو ته روان شو. دغه سيمه بيخي شاړه وه. زموږ ښي لاس ته هغه عمومي سيند بهېده چې هرات يې خړوباوه. دغـه سيند د هرات د وچې او لمدې سيمې پوله وه. که چېرې پـه نويو او موډرنو ماشينونو لـه دغه سيند څخه د اوبه خور امکانات برابر شوي واى نو دلته به څومره زياتو خلکو ژوند کولاى شواى! له دريو ساعتو وروسته مو په يو کوچني کلي کې چې پهلوان پير نوميده، دمه وکړه. په دغه دمه ځاى (کاروانسراى) کې زموږ ښه راغلاست تـه ښه چمتووالى نيـول شوى و. زموږ مخې ته د سفيد کوه (سپين غر) څوکې ښکاريدې. دلته موږ يوه شپه پاتې شو، ځکه چې دې کـار ډېر وخت نيـوه چې لـه هرات څخه هر څه راورسېږي. داسې ښکارېدل چې دغو افغانانو هم څه بيړه نه لرلـه او غوښتـل يې چې موږ دلتـه پاتې شو. له همدې کبله مـا ډېر وخت لاره چې پـه شاوخوا سيمو کې زمکپوهنيزې (جيولوجيکي) څېړنې وکړم. دا داسې سيمې وې چې پخوا ورتـه کوم اروپايي نـه وو راغلى دا سيمې وې چې نـورو بـه پـه کې ستوماني ښودلـه او دغـو سيمو تـه بـه يې سترې کوونکې او ناخونده ويلې. مګر ما په ډېرې خوښۍ سره دا کار کاوه. کله کلـه به له ما سره خپلو ملګرو کينـه څرګندولـه چې مـا بـه ورتـه د دغـو سيمـو د تاريخي پيدايښت تشريحات ورکول چې دوى ته يې ارزښته ښکارېدې. په دغو لارو کې دمه ځايونه (رباطونه) ټول په يو ډول جوړ شوي دي. د جوړولو لپاره يې لـه ختې او تيـږې کا. اخيستل شوي دي، ډېر لږ به يې د پخـو خښتـو وو. زياتره بـه لـه دوو برخـو جوړ شوي و. يوه برخـه بـه يـې د پـارس پـه بڼه وه چې کوچنۍ کوټې، ټيټ بامونـه او يـو کوچنى جومات يې درلود. دويمه برخه يې د څارويـو لپـاره ځانګړې شوې، څارويـو کوم پټ ځاى نه لاره او تل به په ازاده هوا کې ولاړ و. دغه سـر جلا برخې، د مسـاپرو لپاره د پارس له ښو جوړو شويو سرايونو څخه په زړه پورې وى. موږ غوښتـل چې

نوري شپې مو په پاکو او ستره ځايونو کې راشي. څکه چې موږ په پخوانيو لارو کې په وچو زمکو ځملاستلو، او په هغو ځايونو کې به مو خيمې وهلې چې يو څه واښه په کې پراته وو.

تر هغه چې مو له سلو څخه زيات بار ورونکي ځاروي چمتو کېدل نو يو څو ساعته تېر شول ځکه چې زموږ افغانانو له خانه سره ډېر خوراکي مواد او د شپې د تېرولو سامانونه را بار کړي وو. نن موږه په بو څو کليو او د کوچيانو پر تورو خېمو تېر شولو، يوه لنډه دمه او مشوره مو وکړله، ځکه، سره له دې چې لا اوړی هم نه و او لمر غرونو را څخه پناه کړی و، خو بيا هم ښه تېز و. د درې سهيلي اړخ ته کلي ځنګ په ځنګ سره پراته وو. له نهو ساعتو سفر وروسته مو د "ماروه" Marwa په سرای کې واړول.

په بله ورځ د ختيځ له لورې را الوتي باد، سترګو ته خاورې راشيندلې. زموږ لاره لکه د پخوا په څېر پر کليو تېرېدله. له ماروې څخه وروسته دغه دره تر شپږو کيلومترو پورې پلنه شوه. دلته له کيڼې خوا يو کوچنی سيند هريرود نه راګډېده. دغه سيمې د پخوانيو ډنډونو په څېر وې. په جنوب کې يوه ښايسته او زړه راښکونکې منظره ښکارېده او کيڼ لاس ته يې د شګو او شنيليو غرونه ولاړ وو. دغه غرونو ته د "ګرانيټو" د ښکلا تاج هم ور پر سر شوی و. زموږ په خوا کې د مغولي نسل هزاره ګانو يو مذهبي کاروان چې مشهد ته د امام رضا زيارت ته تلل. له ښځوو ماشومانو او ځارويو سره تېر شو. دغه خلك د مغولو له يرغل راوروسته دلته پراته دي او زياتره يې شيعه ګان دي. زموږ راتلونکې دمه ځای چې "اوبه" Obeh نومېده، داسې ښکارېدله چې يوه زړه سرای وي. دلته سړي ډېرې کنډوالې لېدلی شوې چې د لرغونو ودانيو په څېر له زړو خښتو څخه جوړ شوي ديوالونه يې نړېدلي پراته وو. په دغه دره کې مو د غواګانو له پادې ډېر خوراکي مواد تر لاسه کړل.

زموږ لاره اوس هم له ستونزو ډکه وه. د هريرود ښي لاس ته د شنيليو د لويو غرونو پر لاره روان شول. يوې رنګينې منظرې زموږ سوچونه خپلې خوا ته اړولي وو. د کوچيانو يو کاروان چې د زرو په شاوخوا کې اوښان ورسره وو او ماشومان، ښځې، خيمې، رمې او هر هر څه يې له ځان سره را اخيستي او را روان کړي وو، د ګينګړيو له اوازونو سره زموږ په خوا کې تېر شو. نارينه يې چې ريښتيني (اصلي) افغانان وو، ډله ډله سره روان وو، ښځې چې ځينې يې ډېرې ښکلې او ځينې يې داسې بدرنګې وې چې سړی به يې له ليدلو ډاريده، په خپلو پښو روانې وې او يا



Ketabton.com

به په رمو پسې وي او يا پر اوښانو پسې ماشومان يې هم ډول ډول وو، شلېدلې جامې يې په ځان کې وې يا به يې په لاره لوبې کولې او يا به يې له ښځو سره مرسته کوله د اوښانو پر سر په تو تو کې د ترلو شويو کوچنيو ماشومانو سرونه ښکاره کېدل دغه راز په پنجرو کې چرګان هم د اوښانو له سرونو را ښکاره کېدل.

دغه خلك د هريرود د پاسنيو درو د غرونو له لمنو څخه راتلل چې د ژمي موسم د هرات په سهيلي برخه کې په پرتو کليو کې تېر کړي د وخت دغه ويشنه زموږ له هغو ښه وه سره له دې چې موږ اروپايان چې کلتوري پرمختللي يو، په ټوله نړۍ کې ګرځېدلي يو او د طبعت له رازونو ښه خبر يو له زرګونو کلونو راهيسې دغه کوچيان پارسي او افغاني ژمنيو سيمو څخه چې زياتره د دوى اصلي استوګنځي وي، د توران او هند سيمو ته ځي. د ګرمي له پيل سره سم دوى د افغانستان غرنيو سيمو ته تلل چې پريمانه اوبه او ځړ ځايونه يې لرل له سلونو کلونو راهيسې، دوى پر هماغه يوه لاره ځي راځي، د دې لپاره چې د سياسي پېښو له اغېزه ليرې پاتې شي لکه د اسيا ځوروکيو له اغيزې څخه سره له دې چې دوى نا استوګنه حالت لاره، خو بيا يې هم يوې ځرګندې سيمې ته خپل هېواد وايه. دوى خپلې د کر زمکې لرلې چې د دې په خاطر به يې جګړې هم کولې. دوى ته په خپل دغه يون کې د افغانستان حکومتي (رسمي) پولو هم کوم خنډ او ارزښت نه لاره.

څه وخت وروسته د هريرود د پاسني ساړه کلي پر لور روان شولو. لږه موده وروسته يوې داسې درې ورسېدلو چې ډېره ژوره وه خو ژر بيرته جګه ختلې وه. موږ ايله بيله په "دولت يار" کې دره تر شاه پرېښوده. په دغه سخت او ستونزمن سفر کې بايد موږ تر سوزنده لمر لاندې يون کړى واى.

ډېر کسان ناروغان شوي و. په دغه لړ کې زموږ د بهير افغان مشر او يعقوب ناروغه وو. د هغوى ټول بدن خوړيده او تبه يې وه. د ډاکټر له شته والي پرته موږ د دوى په اړه هېڅ نشو کولاى. ښايي تبګې (محرقه) به يې وه. ښايي چې د هوا اغېزه به وه او يا کېداى شي په دغه موده کې د ټولې ډلې د يو ډول خوراك له کبله به و. موږ يوازې د هغوى د پرهيز په برخه کې پاملرنه کولى شوه. هغوى ته مو يوازې شير برنج او چاى ورکاوه.

د هريرود له درې څخه چې موږ ووتلو، نو اوس يوه شولو چې دادى له افغاني اولسونو څخه تېرېږو. له دغه ستونزمن سفر څخه وروسته موږ لومړنې دمه ځاى ته راورسېدلو چې خلك يې يو يو لويشت وو. دغو خلکو موږ ته ښه راغلاست ووايه او زموږ هر خدمت يې کاوه. دغه خلك خورا بدرنګ وو او مغولي هزاره ګانو يا "بربرو"



Ketabton.com

په نامه یادېدل. دوی له تېرو او ختو څخه په جوړو شویو عادي او چټل کورونو کې اوسېدل. د کر سیمه یې د غرونو لمدې لمنې وې. لارې او سرایونه به له یو ځای څخه بل ځای ته لاخراب وو. دلته له شپږو میاشتو راهیسې واوره پرته وه چې د کابل پر لور د هرات ختیځ ـ لویدیځ لاره یې بنده کړې وه. موږ مجبور وو، هغه اوږده لاره ونیسو چې له کندهار څخه تېرېدله. دغې لارې یوه نیمه میاشت یون ته اړتیا لرله. له "دولت یار" وروسته داسې یو دمه ځای ته راغللو چې نوم یې ترکي ډول "قضل" Kysyl نومیده. موږ پوه شولو چې داسې یوې سیمې ته راغللو چې ژبه یې بدله وه. سرای تېوله کنډواله پرته وه خو یوازې یوه کوټه په کې جوړه ښکارېده چې موږ په کې له هرات څخه راوړې خپمه د لومړي ځله لپاره ودروله.

بله ورځ سهار د وخته زه له رنځور یعقوب سره یوځای روان شوم چې د غرمې له تاوده لمر څخه کانونه وژغورو. نن باید موږ له اووه سختو تانو څخه تېر شوي وای. تر اوسه خو موږ ه په لوړو ځایونو کې په خپلو پښو تللو، خو له دې وروسته مو دخپلې روغتیا له کبله ځاروي نشویخښلی. د مغولو په یو وړوکي دمه ځای کې چې لعل نومیده، موږ خان ته یوځای غوره کړ. دغه اولس چې د غریبی ژوند یې لاره، هر ډول هڅه یې کوله چې زموږ سره مرسته وکړي. یو څو زړو کسانو ته، زموږ د ډلې له مشر پرته ګیله وکړه چې د افغانانو له خوا څورول کېږي او له ما نه یې وغوښتل چې له امیر سره پرې وغږېږم. هغوی وویل چې د زیارت کوونکو زیاتره کاروانونه چې زموږ له مخې تېر شول، بېرته افغانستان ته نه راګرځي او په پارس کې د استوګنې لټه کوي. زه ایله اوس د خراسان په ایالت کې د بربري دمه ځایونو د ډېرښت په لامل پوه شوم چې دوه کاله پخوا مې هلته لیدلي وو. دغه خلک زیارکښ وو او پردې سیمه کې یې ډېرو تېتو او ناولیو کارونو ته هم زړه کاوه. په کابل کې یې زیاترو جوالیتوب کاوه. دا چې دوی په خپلو شاړو سیمو کې دومره خوراکي مواد نه شول میندلی نو د قوم زیاتره برخه یې دې ته اړه وه چې په ژمې کې پراخو او هوارو سیمو ته لاړ شي د خوراك لپاره څه پیدا کړي. انګرېزان په دې خبره پوهیدل چې دغه زیارکښه خلك چې په یوه پخواني بغاوت کې پوره تېکول شوي وو او له افغان حکومت څخه خوشاله نه وو، نو په هوښیارۍ سره یې غوښتل چې په خپله ګټه ترې کار واخلي او په هندي سرکاري هڅو کې یې خپل ملګري کړي.

زموږ لاره نوره هم سختېدله. دا یوازې د سیمې کږلېچنه لار نه وه چې موږ یې دومره وځورولو، بلکه د هوا د بدلون اغېز او زموږ په بدن کې پټه شوي ناروغي وه.



Ketabton.com

زما حالت هم اوس دومره ښه نه و، خو بیا هم له یعقوب سره وړاندې روان وم، ځکه چې زه د هغه روغتیاي حالت په تشویش کې کړی وم. داسې هم نه چې ګوندې د هغه ژوند له ګواښ سره را نه مخامخ ښکارېده، خو زه دې کار خورولم چې داسې یو تکړه کس چې تر اوسه یې هر کړاو په نره زغملی وو له داسې بدمرغۍ سره مخامخ دی چې په خوارۍ سره مخ په وړاندې تللای شي. په داسې یوه شاړه او غرنۍ سیمه کې ما هیڅوك هم یوازې نشوای پرېښودای او له همدې کبله ما غوره و بلله چې خپل یون نور هم پسې ګړندی کړو. موږ پر دوو تانو تېر شولو. له یوې جګې درې څخه مخ په خوړ را روان وو او پـه لاره کـې د وښو او اغزنـو بـوټو ډېرې جوړې وې چې لمر وچ کړي وو او چك لګوونکي حشرات او مږې په کې پریمانه وو. رالویدلیو دیوالونو او داسې منځنیو شان ځلیو سړي ته د لرغونو زمانو ماڼۍ او ودانۍ وریادولې. دغه جګه پرته سیمه چې واړه سرایونه هم پـه کـې ووو کرمان Kerman نومیده. د دې په شاوخوا کې پرته غرنۍ سیمه چې یو څه ټیټه پرته وه، موږ ته داسې اټکل راکاوه چې موږه خپل اصلي منزل ته رانږدې کېږو. له ډېر وخت یون وروسته موږ یوه جګه سیمه تر شا پرېښې وه او اوس یو ځل بیا یوې جګې سیمې ته ورمخامخ وو چې د اوسپنو لرونکو اوبو چینې یې لرلې. ورپسې موږه یوې تانې ته ورسېدلو چې نږدې درې نیم زره متره لوړه وه. موږ د لوړو ژورو او ګرنګونو یوې داسې برخې ته جګ شولو چې زموږ په لاره کې تر ټولو لوړ و. لویو ډبرو بـه زموږ لاره بندوله. د دغو زمکو د جغرافیایي بدلونونو لـه املـه داسې ډبرین خنډونه پیدا شوي وو. دلته د منځني افغانستان د غرونو اصلي لړۍ وه. له دې ځای نه شمال لویدیځ، ختیځ او جنوب لویدیځ ته رسېدلې د غرونو لړۍ ښکاره کېدلـه چـې د ایران غرنیو سیمو ته یې هم دوام لاره. دلته د افغانستان جغرافیایي زړه دی. د دغه هېواد بدمرغه سیاسي جوړښت هم عجیبه و. دلته په لرې غرنیو سیمو او دښتو کې داسې خلك استوګن دي چې له پردي نژاد څخه دي. کوه حصار Kuh-I-Hissar د دغه غره نوم و چې پنځه زره متره لوړوالی یې لاره. په اوړي کې ورته د افغانستان له لویدیځ، ختیځ او جنوب څخه کوچیان راتلل او ترکي کوچیان به ورته د شمال له لورې راتلل. د دې ځای د همېشنۍ استوګنې توان یوازې هزاره ګانو درلود چې له هوا سره یې بلد دي. دغه زیاتره خلك په ختېځ او جنوب ختیځو غرونو کې اوسېدل. کوم ښاغلی به له دغې جګې څوکې د جنوبي او شمالي سیمو ننداره وکړي؟ دلمر د تودښت له امله موږ دې ته اړ شولو چې ختیځ پلو تـه د پرې درې پر لور خپل یون ګړندی کړو. دلته نږدې یو کوچنی کلی پروت و چې ایسفیدك Esfidek نومیده او یو



Ketabton.com

کوچنی دمه ځای هم چې اکسیرات Akserat نومیده. دولس ساعته موږ پر کتو تاست وو په لاره کې مو په دمه ځایونو او د غرونو په سمڅو کې ځان له لمره پټاوه. د یعقوب تبه ډېره شوې وه او زما ټول بدن هم درد کاوه. داسې درد ما تر اوسه پورې نه و لیدلی. هغه سخت ټوخیده او سینې یې هم درد کاوو. ما ته بل څه نه و پاتې چې دی دلته له یوې ښې پالنې سره همدلته پرېږدم چې تبه یې ښه شي. باید له خپل سپیڅلي ملګري څخه مې ځان جلا کړی وای. دغه کار مې په ډېرې ناخوښۍ تر سره کاوه. داسې اړتیا وه چې ما باید ځان کابل ته رسولی وای. ما خپل یو تکړه اتریشي ملګری له یعقوب سره پرېښود. ورسره مې یو څو کسه نور هم له یو څه خوراکي موادو سره پرېښودل او مخه ښه مې ورسره وکړله. ما غوښتل چې دغه مخه ښه او جلا والی د یو څو ورځو لپاره وي. خو تقدیر او برخلیك غوښتل چې دغه مخه ښه د تل لپاره وي. موږ ه د سپتمبر دوه ویشتمه نیټه لیکله.

موږ د ختیځ پر لور په درو کې روان وو چې لمر پرې ځلېده. په هر ځای کې واړه واړه دمه ځایونه جوړ شوي وو چې د شاوخوا غرونو له تیږو څخه اباد شوي وو. د دې ځای استوګنو زیاتره په شاوخوا غرونو په لمنو کې کار کاوه. د دې ځای اوسیدونکو ویل چې د یوې میاشتې واورې اوربښت دغه ټوله سیمه پوښله. دلته مو د لومړي ځل لپاره ونې او پټي ولیدل. په دغه ښکلې سیمه کې درې دري سره یوځای کېدلې چې موږ دمه هم په کې وکړه. د دغه ځای نوم پندشاو Pandschao و. بله ورځ باید موږ په یوه بله غرنۍ سیمه تېر شوي وای. یو لنډ یون موږ سردسنګ Serdseng ته ورسولو. له دې ځای څخه، زه له یو تن سره مخکې روان شوم چې د خپلو دردونو له کبله له لمر څخه ځان بچ کړم. د یوه کوتل پر لاره موږ یوې ښکلې درې ته ورسیدلو. د دغې نرۍ لارې شمالي اړخ ته دره پرته وه چې د لمر زور یې کم و، د ژورو او تنګو درو په لار د مارخانې Marchaneh دمه ځای ته ورسیدلو. زما سر درد داسې حد ته ورسېدلو چې د زغم وړ نه وو او ورمېږ مې هم بیخي کوږ شوی و. له دې امله مې پریکړه وکړه چې له دې وروسته به د شپې له خوا یون کوو. موږ په وړو لارو د ناور پولې ته ورسیدلو چې څنګ ته یې یو کوچنی دمه ځای هم پروت و. دلته ما خپل ځان د لمر له راختلو سره سم په یوه تیاره کوټه کې پټ کړ، کاروان مو د ورځې له خوا د خپل راتلونکي دمه ځای پر لور روان شوی و او ما خپل یون د لمر له پریوتلو سره سم پیل کړ. زموږ کینۍ لاس ته د بابا غرونو لړۍ چې د هندوکش موازي پراته دي. راښکاره کېدل. دغه غرونه د پنځه زرو مترو څخه زیات لوړوالی لري. د هلمند په وادي کې زموږ لارې کږلیچنې شوې. د هلمند سیند په افغانستان



Ketabton.com

کې تر ټولو لوی دی، دغه سیند د کابل د لویدیځو غرونو څخه پیل کېږي او له زر کیلومتره بیهیدلو وروسته د سیستان په ډنډونو کې پای ته رسیږي. داسې معلومیدله چې دا د هزاره ګانو د سیمې پوله وه. په بله ډډه کې هم هماغسې یو جګه لاره وه او زه له تورتم دغه د "راهکول" Rahkol دمه ځای ته ورسېدم. دلته موږ ته پنځوس سپاره مخې ته راغلل چې د امیر له خوا رالېږل شوي وو او موږ ته یې خوراکي مواد او بار وړونکي څاروي را روان کړي وو. په سبا ورځ موږ د دوو تانو له لیارې " باده سیاه Badasiah ته ورسیدلو، دغه سیمه چې "ګرانیت" په کې پیدا کېږي. د موسمي ویجاړتیا نښې نښانې یې لرلې. د دیرش کیلومتره په واټن د "پارخولا" Paracholah په کلي کې موږ یو ځل بیا دهلمند له سیند سره مخامخ شولو چې خوندور کبان یې لرل. زما روغتیا اوس یو څه ښه شوې وه او خوښه مې نه وه چې زموږ افغانان، موږ یوازې شل - دیرش کیلومتره ورځینې یون ته پرېږدي. دمه ځایونه زموږ لپاره دومره مناسب نه وو ځکه چې یو دمه ځای ډېر لنډ او دوه ډېر اوږده وو. د سیند له اړخ څخه موږ د ختیځ پر لور روان شولو. په دغو ورځو کې ورېځې هم راڅرګندې شوې وې او داسې ښکارېدلې چې نورې هم ډېرېږي. لاره مو اوس پراخه اوښه کېدله د کابل پر لاره شنې ونې ولاړې وې. د سیند په څنګ کې د کوچیانو یوه رمه زموږ په خوا خوا کې روانه وه. د ایټالیا د الپ د غرونو په څېر منظره، زموږ مخې ته پرتې سیمې "سرچشمې" جوړه کړې وه دلته میوه لرونکې ونې او ګلان ښکارېدل موږه اوس د کابل د سمسوروسیمو پر لور روان وو. په سختۍ سره مې له افغانانو څخه د وړاندې تګ غوښتنه وکړه. په دې سیمه کې د "کولورا" ناروغي ګډه شوې وه. دغې ناروغۍ دلته هر کال بېشمېره کسان وژل. یو شمېر زیاتو نویو قبرونو موږ دې ته اړویستلو چې همدلته پاتې شو. وروسته داسې یو باران راښکته شو چې ډېر وخت مو نه ولیدلی. په یو څلور ساغته مزل کې یوه دمه ځای ته ورسیدلو چې هلته مو خان وچ او دمه کړ. په راتلونکو ورځو کې په جګو لیارو له مزلونو وروسته، د کابل لویې درې ته ورسیدلو. موږ ته له وړایه د لمر وړانګو یو بڼ راښکاره کاوه. داد بابر شاه د ماڼۍ بڼ و. مېلمه پال راته وویل چې: امیر همدغه ځای موږ ته د استوګنې لپاره راکړی دی. ښار سړي نه شو لیدلی، ځکه چې د غرونو په منځ کې پروت و. موږ نشو کولای چې خپل دغه استوګنځي ته سمدلاسه ورننوځو، ځکه چې دغه ځای یې زموږ لپاره چمتو کاوه. باید په کندوالا شانته "غازي کلا" کې مو شپه تېره کړې وای.



Ketabton.com

موږ خپلې تر ټولو ښې جامې را وويستلې او پاکې مو کړې. په پله ورځ په يوه په زړه پورې ښه په يو ښکلي سړک چې شنو ونو پوښلی و، پلازمېنې ته ورننوتلو اولس راته په ډېر اخلاص هر کلی ووايه. يو څو کيلومتره وړاندې موږ ته د امير له خوا را استول شوي ترکي کارګران مخې ته راغلل. دوی هم هر کلی راته ووايه. سمدلاسه زموږ پاملرنه يوې پوځي منظرې ته واوختله. د کوڅې کيڼ اړخ ته يوه پوځي ډله ولاړه وه چې يوه ترکي افسر يې مشري کوله. دغه لکه د اروپايانو په څېر روزل شوي عسکر راته ډېر غوره وبرېښېدل. دغه ترکي افسر په جرمني ښوونځي کې روزل شوی و. دغه ډله زموږ شاته ودرېدله. موږ د يوې ډېرينې دروازې وړاندې ښي لاس ته تاو شولو. د کابل له سيند څخه د لرګي پر يوه پله تېر شولو. ښي لاس ته يوه بڼ ته ورننوتلو چې خټين ستر ديوالونه يې لرل او د نوميالي پاچا بابر د خپل همېشني دمه ئون (ارامګاه) لپاره ټاکلی و. په پاسني برخه کې يو زړه راښکونکی چمن و چې پخواني ښکلې ونې يې لرلې او مخې ته يې د اوبو يو ډنډ و. د بڼ په منځ کې يوه کوچنۍ شاتنه وياله هم بهېدله. د باغ جنوب لويديځ اړخ ته د هندي بنګلو په څېر مانۍ جوړه شوې وه چې اروپايي ډول منظرې يې لرلې. ددې ځای ساتونکي (پهره داران) په دريو ډلو ويشل شوي وو.

موږ لومړی د کلا په منځ کې لوی ميلمستون ته بوتلل شو چې هلته د امير يو مېلمه پال په هر ډول ميوو خوراکونو او چای ماړه کړلو. دغه مېلمه پال يوه لرغوني ډول خولۍ پر سر کړې وه او لويې لاسکښې يې لرلې. دلته مو يو څو ساعته له خپلو نويو ترکي ملګرو سره په خبرو تېر کړل. دوی ته مو د سياسي او پوځي پوښتنو اوږده لړۍ جوړه کړه. زما د پوښتنو زياتره زوره پر خيري بای Cheirybey وه. نوموړی د ترکي لوی درستيز يو افسر و چې د يو پوځي ښوونځي مشر و. دغه راز له منير بای Munirbey مې هم زياتې پوښتنې کولې چې د حکومتي روغتون مشر و. ما ډېر په زړه پورې خبرې واورېدې. موږ ته اوس څرګنده شوې وه، چې دلته زموږ هلې ځلې بې ستونزونه دي. له ترکستان څخه راتښتېدليو يو څو تنو اتريشيانو ته مې خپل سلامونه او درناوي وړاندې کړل چې اوس په همدې ښار کې استوګن وو. له هغه وروسته چې زموږ ملګري او ميلمه پالان ووتل، نو ځان مې خپل کټ مټ ورساوه چې استراحت وکړم. زموږ د خوب کوټې په ښکلي اروپايي بڼه جوړې شوې وې. زموږ ځاروي د بڼ په کوزه برخه کې ولاړ وو. هغوی له داسې اوږد اوستړي کوونکي مزل وروسته ستره دمه ګټلې ده. زما "لوران" په ډېره ښه توګه پالل کېده چې هغه هم ډېر ترې خوشاله ښکارېده.



Ketabton.com

له مانې څخه مو د کابل د درې ډېره ښه ننداره کولای شوه ددې درې تر شا هغه غرونه ولاړ وو چې مونږ پرې راتېر شوي وو او نږدې شپږ - اووه زره متره لوړوالی یې لاره د واورې سپین داغونه پرې ښکارېدل د اوږده وخت لپاره مو د یو داسې اسمان ننداره وکړه چې کله به وریځ و او کله به شین هغه لمر چې زمونږ پر هېواد او د فرانسې د جنګي ډګرونو پر سر هم ولاړ و

د شپې پرونی، یو نا څا په د اکتوبر پر دویمه ورځ خپور شو



ACKU

Ketabton.com

(۱۲)

# د نا هيلۍ ورځې

**د درنښت زندان، د لوړې اعتصاب، لومړنۍ آزادي ګانې، پارس تــه د پاشن بې ګټې تګ، د يعقوب مرګاو خاورو ته سپارنه.**

په څوروخو کې موږ د بڼ هره ډډه وليدله نوريې نو پـه کتلـو کتلـو ستړي شولو. اوس مو غوښتـل چې بـهر ووځو، خو په دروازه کې ولاړ و څوکيدارانو مـوږ بهر تللو ته نه پرېښودلو. دغه څوکيداران د ګارډ پـه ټولې پورې تړلي وو. د "درنو مېلمنو" مطلب همداو! سره له دې چې زموږ د ډلې ختيځوالنو مشرانو دغـه ښکلى زندان هم په بې تفاوتۍ سره تيراوه خو موږ جرمنانو ټينګار کـاوه چې د زيات وخت له لګولو پرته خپل برخليك معلوم کړو او له همدې امله بې حوصلې شولو. موږ بيـا هم غوښتـل چې په دغـه بڼ کې ځان تـه يوڅه مشغولتيا پيدا کړو او دغـه راز مـو رېښتينې ښکار هم همدلته وکړ. په دغه بڼ کې به زموږ د بې احتياطۍ له امله ونې او بوټي هم تاواني کېدل. زموږ ډېره ور خدمتګار چې زموږ پېره يې هم کوله، زموږ دغو کارونو ته به يې په تعجب کتـل. مـا دلتـه لـه رارسېدلو سره سم، امير تـه دوه ليکونه ليکلي وو او هره ورځ يې ځواب ته په تمه وم. مـوږ تـه يې لـه د بانديې نـه هـم هيڅوك نه راپرېښودل. زمـوږ ترکـان ملګري بـايد لـه دوختـه راغلى واى ځکه چې موږ سره يې ژمنه کړې وه. زمـوږ لـه رارسيدو دوه ورځې وروستـه لـه "بـاده سياه" د "جاندل" * ليك راتـه راغـې. پـه ليـك کې کـنبـل شوي وو چې د يعقوب رنځ نـور هم زيات شوې دى او نـه شـي کـولاى چې چېرتـه لاړ شـي. بلـه داچې هلتـه درملـو او خوراکي څيزونو تـه هم اړتيـا وه لـه دې سره سره چې مـا زياتـه هڅه وکړه چې دغـه څيزونه هلته ورسيږي، خو غوښتل مې چې دغـه څيزونـه د خپلو کسـانو پـه لاس ور ورسوم ځکه چې پر افغانانو مې باور نه لاره. زما دغه هلې ځلې چې يو ډاکټر هم ور ولـېږم بې ګټې شوې. دغـه ډول غمونو زه نـور هم ځورولـم. د "هنتګ" نـاروغي هـم زياته شوې وه او سختـه تبه يې وه. مـا غوښتـل چې ترکي ډاکتر منير بـاى يې درملنـه وکړي خو دغه هيله مو هم تر سره نـه شوه. مـوږ پرلـه پسې هلې ځلې کولې چې لـه دغو ناوړو حالاتو څخه د وتلو يوه لاره پيدا کړو. هر يو پلان بـه مو يـا نيمګړى پـاتې شو او يا به له خنډونو سره مخامخ شو پـه زوره سره دلتـه هيڅ هم نـه شول تر سره

* (Jandl)



Ketabton.com

کېدای. له دې کېله مو پرېکړه وکړه چې د لوړې یو اعتصاب وکړو. موږ فکر وکړ چې کېدای شي دغه عمل یوڅه اغېز ولري. موږ جرمنانو هر ډول خوراك بند کړ او زیاتره به په خپلو کوټو کې پراته وو. نور کسان راسره په دې کار کې همغږي نه شول. زموږ میلمه پال به په وارخطایي سره پر یوه او بله کوټه ګرځېده او په دې باوري شوې و چې موږ پر خپل دغه هوډ کلك ولاړ یو. له دریو ورځو وروسته هماغه ترکي ډاکټر زموږ د ناروغی او د لوږی د حالت لیدلو ته راغې او لومړنی ډاډ یې راکړ. زموږ موخه یوازې دانه وه چې هغه د ډاکټر په توګه زموږ درملنه وکړي بلکې غوښتل مو چې په دې توګه دې زموږ پیغام وړونکی هم شي دغه ډاکټر موږ ته وویل چې امیر په زیاته اندازه د انګرېزانو تر اغېز لاندې دی او نږدې هره اوونی د هند د مرستیال واکمن له لوري لیك تر لاسه کوي. هغوی غواړي چې که په هرډول کېږي امیر تل تر خپل اغېز لاندې ولري، خو په واکمنی کې موږ هم خپل کسان لرو، لکه د امیر ورور نصرالله چې ښایې زموږ لپاره کار وکړي او اولس هم زموږ سره پوره ډېره خواخوږي لري. ددغو اغېزو د پراختیا لپاره موږ دغه ترکي ډاکټر ته بیلا بېلې لارښوونې وکړې. زموږ لپاره یې یو بوتل فرانسوي زاړه کیناك هم راواستول شول چې کېدای شي د انګرېز – افغان د جنګ د وختونو وو. سره له دې چې موږ پرې بشپړ نه شو هوسا کېدای خو بیا هم د پرمختګ یوه نښه وه. د شپې له خوا موږ جرمنان لکه دتل په څېر زما په کوټه کې د یوې بخاری شاوخوا ته راغونډ شولو او دغه بوتل مو د خپلو دپلوماتیکو بریاوو په هیلو وڅښه. دغه بوتل خورا ښه نشه کړلو ځکه چې موږ له څو میاشتو راهیسې شراب نه وو څښلي او د لوږې د اعتصاب له امله هم ډېر کمزوري شوي وو. کابل ته زموږ له رارسېدو وروسته په اتمه ورځ ایله د امیر خوابیه لیك راغې په دغه لیك کې یې موږ ته ښه راغلاست ویلی و او ډاډ یې راکړی و چې ډېر ژر به له موږ سره وګوري. موږ ته کالي او بوټان هم راپېدا شول. دغو شیانو ته موږ ډېره اړتیا لرله بیا مو هم څو ورځې کوم غږ وانه ورېد د یعقوب په اړه زما تشویش نو ر هم زیات شو ځکه چې ډېر وخت مې د هغه احوال نه لاره یو ځل مې بیا هم بې ګټې هڅه وکړه چې یعقوب ته ډاکټر ورولېږم وخت مو په نا ارامی سره تېراوه. دوه ورځې وروسته مې د امیر له لوري یو بل لیك هم تر لاسه کړ. په دغه لیك کې یې زما دې غوښتنې ته چې له هغه سره باید ځانګړې کتنه وکړو، مثبت ځواب یې راکړی و. په لیك کې یې دا اجازه هم راکړې وه چې موږ په یوه ټاکلې ګاډې کې بهر هم وګرځو. دا خبره په پوره سختی سره ومنل شوه! په بله ورځ موږ ته د حکومت له خوا ګاډی راولېږل شو او موږ په



Ketabton.com

خپله خوښه دغه موټر هندي شهزاده * او مولوي صاحب ** ته پرېښود او موږ پر خپلو اسونو سپاره شولو ددې کار اجازه موهم په خپله خوښه له امیر څخه تر لاسه کړې وه موږ باید یوه لویه افغاني سپره ډله له ځانه سره ملګرې کړې وای بله ورځ موږ له بندیزونو سره سره د بابر بڼ په څنګ کې له غرونو څخه د "شیر دروازې" له لارې

دغه "ممنوعه هېواد" او د کابل ښار ته ور وختلو او غوښتل مو چې یوه ننداره یې وکړو.



د هغه وخت د بابر بڼ

ددغه ښار ګرچاپېره لوی دیوال جوړ شوی و چې مخې ته یې څوکیداران ګرځېدل راګرځېدل، چې دغه دېوال د کابل سیند اخوا ته د اسمايي غره پر لور هم دوام کاوه له دغې لوړې برخې څخه سړي لاندې یوه په زړه پورې منظره لیدای شوه په یوه بله وچه سیمه کې د کابل د سیند دواړو خواوو ته د هېواد پلازمېنه پرته ده دغه له ختیځ نه جوړ شوې زوړ ښار تنګې تنګې کوڅې او زیاته ګڼه ګوڼه لرله او سړي د ختیځ، لوېدیځ ،جنوب او شمال برخې له ورایه یوازې په ډېرې سختۍ سره لیدای شوې. یوازینۍ زړه راکښونکې ودانۍ چې له پخو خښتو جوړه شوې وه او پارس ډوله جوړښت یې لاره په یوه هوار ډاګ کې پروت یو جومات و چې د نږدې دوه سوه پنځوس کاله پخوا مړه شوي تیمور(؟) قبر و * د ښار په ختیځه برخه کې د

* موخه یې راجا هندرا پرتاب دی (ژ)

** مولي برکت الله یادوي (ژ)

*** بنایي د لیکوال مقصد د تیمورشاه قبر وي چې په نښته کې یې تېروتنه کړې ده.



Ketabton.com

ښار لوی جومات پروت و چې سپین اوږده دیوالونه یې لرل د ښار په شمالي ډډه کې د امیر او د لویو چارواکو ماڼۍ وه چې د انګلیسي - اروپایي او یا هندي بنګلو په څېر جوړه شوې وه. ددې سیمې سړکونه هم سټره او پاك ساتل کېدل. څنګ ته یې زیاتې عسکري قشلې لیدل کیدلې چې د ساتونکو (محافظ) کنډکونو په توګه ترې ګټه اخیستل کېدله. د ښار په ختیځو او شمالي برخو کې پوځي زېرمه تونونه ښکارېدل ددې په دوام کې د غرونو یوه بله لړۍ وه چې سرونه یې وچ (ګنجي) وو، خو د بېلا بېلو څلندو ډبرو د لرلو له امله یې ځلا کوله. د ښار د جنوبي غرونو پر سر پخوانۍ حکومتي ماڼۍ ښکارېدله چې د انګرېزانو لخوا په کنډواله بدله شوې وه. ددې کنډاولې مخې ته د فابریکو ودانۍ ښکاره کېدلې چې نوم یې پوره مشهور و او "ماشین خانه" یې ورته ویله موږ اورېدلي وو چې دلته بېلا بېل څیزونه او په دې لړ کې وسلې او مرمۍ هم جوړېدلې ماته دغه موضوع تر ټولو زیاته په زړه پورې وه.

دددې لپاره چې موږ خپل افغاني همسفره ملګري خوابدي نه کړو نو غوره مو ګڼله چې خپل دغه معلوماتي یون همدلته پای ته ورسوو.

له هرات څخه مې د پاشن * له لورې یو لیك تر لاسه کړ په دغه لیك کې یې خپل حال بیان کړی وو: لیکلي یې وو چې په دریو اونیو کې یې ناکامه هڅه کړې وه چې ددښمن زنځیري کړۍ ورماته کړي او دادې بېرته افغانستان ته راننوتی دی په ډېرو ځایونو کې یې هڅه کړې وه چې د افغان - پارس په پولو کې افغانستان ته راننوځي، خو هغه لارې د انګرېزانو او یاروسانو څارونکو پوستو بندې کړې وې. ان چې د لارې واړه واړه سوري یې هم بند کړي وو. له همدې امله هغه باید په بیړنۍ توګه د دښتو د لارې راغلې وای له هغه وروسته چې دی "تخت وان"** ته ورسید هلته یې زموږ باوري یا رسمي سړي ته لیکونه او ټیلګرامونه ورکړل بیا یې غوښتل چې د ختیځ پر لور لاړ شي خو بیا هم ډزې پرې شوي او تعقیب شوی دی. نو موږ هلته ځانته څرګنده کړې وه چې په هر کلي کې له پنځوسو څخه تر سلو تنو پورې قزاق (کازاك) هندي پوځ او پارسي سپاره موجود و ددغو عسکرو مشري د بیرجنید *** د ګورنر (شوکت الملك) په غاړه وه چې د انګرېزانو په خدمت کې و. په ځینو مهمو ځایونو کې به په هرو دوو سوو ګامونو کې پوستې پرتې وې او د

Paschen *

Tachtewan **

Birdschend ***



Ketabton.com

شپې له خوا به په هره دقیقه کې سپرو په خپلو منځو کې د اړیکویو زنځیر جوړاوه. د پاشین پړله پسې ځارنو او د خپلو کسانو له لاسه وتلو سره سره نوموړي وکولای شول چې د افغانستان دښتو ته ځان راورسوي. ښه خبره داوه چې ما په پارس کې پاتې پوځي ډلې ته له یوې بلې سهیلي لارې څخه د یون امر کړی و.



د هغه وخت د کابل ښار منظره چې خپله د نیدرمایر له خوا عکاسي شوې ده

دلته په شمال کې له پولوڅخه تېرېدل ناشوني وو.

په کابل کې زموږ د استوګنې لومړی پړاو، طبیعي افتونو، خراباوه په جنوب کې د پامیر د غرونو پر لـه پسې زلزلې روانې وې چې زیاتره به د سهار په دوو یا درېو بجو پیل کېدې او په اتو بجو به پای ته رسېدې. له دغو زلزلو سره به ځانګړي اوازونه ملګري وو او د زمکې ښورېدنې به تقریباً سل ثانې دوام لاره. د زلزلې دغه سلسله ختیځ - لویدیځ ښکاریدله زیانونه به یې لږ وو کېدای شي چې په کومه دره کې دکوم غره ډبره راخطا شوي وي او یا په کوم ځای کې د کومې کوټنۍ ختین دیوال نړېدلې وي په پیل کې به مو ځانونه آزادو میدانونو ته رساول خو ډېر ژر له دغه ډرځني ټنګ ټکور سره روږدي شولو.

په یوه زلزله کې زه راجګ شوی وم او غوبښتل مې چې لاندې د اسونو خواته ورکښته شم دا د اکتوبر نونسمه نېټه وه چې ماته یو سپور په داسې حال کې مخې ته راغې چې سکمېده او راته یې وویل: یقعوب مرده. ((یعقوب مړ شوی دی)) زه لکه د ټوپك پر ګولۍ چې لګېدلې یم ځان مې د یوې ونې ډډ ته تکیه کړ څه خبره مې خولې ته رانغلله زما لومړني احساسات د ننني غم او غصه وه. خو وروسته بېرته څه ارام شوم لږ وخت وروسته نور کسان هم راغلل او افغان مېلمه پال هم



Ketabton.com

راورسېد او ماته يې د "قسمت" د کلمې په ويلو داډ راکاوه. ما هغه له خپلې مخې ليرې کړ او کورته مې منډه کړه چې "فويکټ" راولم هغه څو دقيقې وروسته د بن له دروازې ټوپ کړ او "غازي کلا" ته چې دولس کيلومتره ليرې پرته ده لاړ هلته بايد "جاندل" د يعقوب له جنازې سره راغلې وای ما هيڅ منلای نه شوای چې دغه پياوړی انسان نور نه دی ژوندی او زه يې يوازې پرېښې يم. ولې پرې زه ايله اوس خبر شوم چې جاندل کابل ته د يو ساعت نور مزل واټن ته رارسېدلی و. په دې کې بايد د افغاني تيټ رتبه چارواکو څه چل ول پروت و. يوه ګړۍ وروسته "فويکټ" ماته دغه خبره جوته کړه او پر هغه پسې غمجن "جاندل" د يعقوب له جنازې سره راورسېد. له اوښکو ډك اسماعيل زما پښتوته راولوېده چې دې هم له هغوی سره راغلی و؛ او داسې يې راته وويل:

"صاحب! "يعقوب مرده"، (صاحب يعقوب مړ شوې) په دغو دريو کليمو کې د هغه د خواخوږۍ ټول احساسات پراته وو. ما خپله دغه جسد په يوه کوټه کې وساته او يوه اتريشي او يوه اپريدي يې څارنه کوله. جاندل مې له څانه سره کوټې ته کړ چې د اوښکو په بهير کې راته دغه خواشينوونکې کيسه وکړي دی زموږ له راستنيدو څلور ورځې وروسته له "لعل" څخه له يعقوب سره را روان شوی و په دغه وخت کې د يعقوب تبه او دردونه يو څه ښه شوي وو. افغانانو دوی مخکې تګ ته اړ کړي وو؛ خو څو ورځې وروسته پرې بيا د ناروغۍ څپه راغلې وه نو له دې کبله بايد په "باد ه شاه" کې پاتې شوې وای له هغه ځايه ماته "جاندل" يو ليك هم راستولې و له کابله لېږل شوي درمل هغه ته له اووه ورځو وروسته رسېدلي وو. په دغه وخت کې يعقوب هم د ژوند وروستي پړاو ته رسېدلې و. او په خپل يادښت پاڼه کې يې خپلې مور، پلار او خويندو ته اغېزناکه مخه ښه (وصيت) کښلې وه. د پنځو ورځو په لړ کې دی د ښه کېدو خواته روان و نو "جاندل" هغه په يو کټ کې "پارخواله"* ته بيولې و. او هلته څلور ورځې پاتې شوی و د افغانانو د سنغ چلند او د خوراکي موادو د لږ والي له امله دوی وړاندې تګ ته اړ شوي وو. دغه ناروغ ده په ډېرو ستونزو "سرچشمې" ته رارسولی و د هغه له لورې د مرستې دری رالېږلي غوښتونليکونه ماته نه وو رارسيدلي دی په " سرچشمه" کې نوری دری ورځې پاتې شو او زموږ مرستې ته سترګې پر لاره و پرون شپه يعقوب يو ناڅاپه بل ډول شوی و. سره له دې چې څه وړاندې يې ښه ډېره ډوډۍ او چای خوړلي او څښلي وو. او زما له خوا لېږل شوې ګاډی (واګون) زما ملګری دادی ماته راورساوه د جګړې په ډېرو

---

* Parach



Ketabton.com

ډګرونو کې ما او هغه ډېر خل د مرګ له خولې بچ شوي یو، خو دلته د هند پر پوله یوې بدمرغې ناروغۍ زما ملګرى له ما څخه واخیست سبا ته د یعقوب خاورو ته سپار لوته ډېر کار پکار وو د خپلې استوګنې د بڼ مخې ته د یوې ډبرې په خوا کې مو یو ځای خوښ کړ چې لویدیځ ته یې جرمني پروت و دی مو سهار د وختـه خاورو ته وسپاره تر اوسه پورې لا په کابل کې کراره کراري ده او ورو ورو رڼا راخپرېدله مورږ څو هوایي ډزې وکړې چې افغانان هم له دغې لویې غمیزې څخه خبر شي زه یوې څنډې ته شوم او خپل زړه مې بخه تش کړ. اوس نو یوه بله ورځ پیل شوې وه او د پسرلي لمر لکه د سرو زرو په څېر پر کابل خپلې وړانګې خپرولې نن هلته جشن و دوه سرچپه خبرې! دقربانۍ (لوی اختر) جشن دلته دا د کال تر ټولو لویه خوشالي وه ما په همدغه ورځ امیر ته یو لیك ورولېږه او په لیك کې مې د یعقوب له مړینې خبر کړ او یعقوب ته د مرستې د امکاناتو د نه رسېدلو خبره مې هم ورته ولیکله هر څه مې ورته پرته له پردې ولیکل زه فکر کوم چې د حکومت چارواکو به داسې بل کوم لیك نه وتر لاسه کړی دغـه لیك هـم د نښې منځ ته رسا وویشت دوه ورځې وروسته مورږ ته خبر راغې چې بله ورځ امیر مورږ ته په تمه دی.



Ketabton.com

(۱۳)

# د امیر په ماڼۍ کې

## د امیر لـه خـوا ښه راغلاست، د واکمنـۍ مخـور، د ګرځېدلـو زیاتـه آزادي، د کابل ښار او شـاوخوایې، د فـابریکې شـته والی او صنعـت، ماڼۍ، ولس

بله ورځ "موږ پوځي جامې" واغوستې او په لسو بجو په دوو ګاډو کې له یو ستر حکومتي چارواکي سره چې په موږ پسې راغلی و روان شولو. موږ پـه یـوه ښکلې کـوڅه کې د شمال لویدیځ لوري تـه روان شولو. دغـه لاره په یـوه سمسوري درې تېرېدلـه. بیـا داسې یـوې تپې تـه ورجګ شـولو چې ټولـه لاره یـې د زړو ونـو سیوري پوښلې وه.



جرمني، هندي او ترکي ډله چې کله په پغمان کې د امیر لیدو ته وررسېدلې دي. په دغـه عکس کې: مهاندرسن پرتـاب، مولـوي برکت الله، نیدرمـایر، هینتیګ، فوګل او نوره ډله لیدله کېږي.

دا په پغمـان کې د امیـر د اوړي استوګنځی و چې ډېره ښکلې او پرتمنیـه انځوریزه ښه یې لرلـه. زموږ ګاډي پـه داسې یـو چمـن کـې ودرېدل چې د ګلانـو رنګارنګ بوټي یې لرل د ځېمو د بهیر په منځ کې یو څه ودانۍ تر کار لاندې وې، خو لا بشپړې شوې نه وې موږ د ښه راغلاست یوې ستړې خیمې ته روان کړی شو



Ketabton.com

چې هلته د امیر ورور موړ ته ښه راغلاست ووایه د امیر له ورور نائیب السلطنه نصرالله خان سره د امیر دواړه زامن معین السلطنه عنایت الله خان او عین الدوله امان الله خان او دغه راز یو څو نور وزیران اولوی چارواکي ولاړ وو. نائیب د خېمې په منځ کې پر یوه لوېه څوکۍ کېناست موږ جرمنیان او هندیان په یوه کتار کې د نوموړي ښي لاس ته او افغانان زموږ مخامخ کېناستل د هر یوه مخې ته د چایو او خوږو لپاره یو کوچنی مېز پروت و خبرې تولې زموږ د ښه راغلاست او د لارې د سفر په اړه وې. لږ وروسته موږ هلته یو کوچني استوګنځي ته بوتلل شولو چې هلته موږ ته امیر په خوښۍ سره ښه راغلاست ووایه او د یعقوب د مړینې له امله یې موږ ته خپله خواشیني څرګنده کړه، ویې ویل: It was out of my pawer (دا زما له توانه وتلې خبره وه). بیانو موږ لکه د مخکې په څېر کېښناستلو دغه ستر ښاغلي موږ ته په هغو لاملونو (علتونو) وغږېده چې ولې یې دومره نا وخته خپل حضور ته ور وبللو. البته دغه لاملونه سیاسي نه وو، هغه موږ ته وویل:" داچې تاسو پوره شپږ میاشتې په لاره کې وئ نو دغه یو څو اوونۍ ځنډ هم دومره پروانه کوله".

دغه لومړنیو خبرو اترو چې څو پر له پسې ساعتونه یې دوام وکړ پر موږ ښه اغېز وکړ موږ نه دغه پیاوړی سړی د رسا فکر څښتن ښکاره شو چې خپلې ګټې یې ډېر ژر درک کولې سره له دې چې په ښکاره توګه نوموړی د څېرې له مخې دومره اغېزمن نه ښکارېده هغه په خپلو خبرو کې داسې یو تکی موږ ته څرګند کړ چې ما به په خپلو راتلونکو هلوځلو کې په پوره ډول فکر پرې کاوه او په پام کې به مې لاره. هغه موږ له داسې سوداګرو سره پرتله کړو چې هغه به د دوی له ګنو څیزونو څخه په خپله ګټه یوڅه غوره کول دده لپاره هرڅه سوداګریز (تجارتي) وو د نوموړي په دغه نظر زموږ د ډلې مسلمان غړي د سپېڅلي مذهبي جګړې په اړه دخپلو راوړیو هیلو په اړه ناهیلي شول.

امیر له ونې لنډ او څرب سړی و پر غټ پلن مخ یې توره لنډه ګیره تاو وه او داسې هوښیارې سترګې په کې راڅرګندېدلې چې بدرنګي نه وې. د سرو سترګی یې پر سترګو وې ده یو څه په سختۍ سره خبرې کولې او دغوړونو درونوالي یې ده ته په خبرو کې ستونزې پیداکولې خبرې به یې کله کله ډېرې ځګې شوې. داسې ښکارېدل لکه چې په دې استوګنځي کې دغه ډول خبرو عمومیت پیدا کړې و. ددغې پاچاهۍ او هېواد ژبه فارسي وه افغاني (پښتو) ما په دې ځای کې او خپلو چارو کې لږه اوریدله. خو له دوی څخه زیات یې خپله د امیر په ګډون په یو څه انګرېزۍ او ترکي پوهېدل د امیر لباس اروپایي و خو خولۍ یې د ختیځ په بڼه وه او

Ketabton.com

په خپله کوټه کې یې دغه خولۍ لیرې کوله. دده عمومي معلومات او د سیاست او طبیعت په هکله دده خبرتیا داسې ده چې خپله شاوخوا یې په ښه ډول اغېزمنه کولای شوه. موږ په دې پوهېدو چې له داسې یو محتاط او دقیق سړي سره زموږ مخه وه چې خپله ګټه او تاوان یې ښه پېژندل او بیړنۍ پرېکړې یې کولای شوې غوښتل یې چې پر ډېرو کوچنیو چارو هم خپل بشپړ کنترول ولري. هغه د انګرېزانو تر پوره اغېز لاندې و هغه داسې سړی نه وو چې لکه د زنګیانو په څېر یې زموږ له خوا د څو غمیو په ورکړه زموږ له غلیمانو سره سمدلاسه یوه کرکجنه جګړه پیل او هغوې یې شړلي وای داسې ښکارېدله چې په خپله هېواد کې ځینو خلکو ته نوموړی په همدې توګه ورپېژندل کېده. موږ ته داموضوع پوره په زړه پورې وه چې زموږ په هکله هغه په سپېڅلي او څرګند ډول غوږېږي او زموږ څرګندې خبرې هم په بشپړ ډول اورېدل کېدای شي.

له دوو ساعتو خبرو وروسته موږ یوې داسې کوټې ته لاړو چې یو مېز په کې پروت و او د مېز پر سر مصنوعي ګلان پراته وو. هلته په اروپایي او هندي ډول پاخه شوي خواړه پراته وو د ډوډۍ د خوړولو پر وخت کې موږ ته د خوراك او ګلانو په باب د امیر علاقمندي معلومه شوه موږ وکولای شول چې د واکمنۍ له نورو چارواکو سره هم خبرې وکړو.

نصرالله خان چې یو لوی ملا او پوځي مشر و، د شخصیت له پلوه یې دخپل مشر ورور سره ورته والی درلود. هغه بې له شکه چې د خپل مشر ورور په څېر هوښیار او منور نه و خو بیا هم یو په زړه پورې سړی ښکارېده. نصرالله خان خپل ځان موږ ته ډېر رانږدې کړ. سره له دې چې هغه له شخصي او سیاسي پلوه د انګلستان غلیم و ځکه چې په (۱۸۹۵) کال کې له نوموړي سره د انګلستان په سفر کې ناوړه چلند شوی و او له همدې امله موږ له هغه څخه د ځان په ګټه پوره کار اخستلی شو. د امیر مشر زوی عنایت الله خان په ډېرو شیانو کې خپل پلار ته ورته و. دی یو خواخوږی او ساده سړی و. ادبي روزنه یې لرله او د خپل کشر ورور امان الله خان په څېر یې له ښکار او سپورت سره مینه لرله. دغه لیدل کتل هم زموږ لپاره ډېر په زړه پورې وو امان الله خان له وجوده خوار خو د پیاوړې روحیې لرونکې و دی ډېر خپلواك ښکارېده او له خپل پلاره هم خپل تره ته نږدې څرګندېده په دغه وخت کې موږ نور مخور کسان ونه پېژندلی شول، خو موږ د دغه څوارلس کسیز حکومتي هیئت په منځ کې په انګرېزي ژبه د یو خبرې کوونکې ژباړونکې پر شته والي دومره خوښ نه وو.



Ketabton.com

له دوډۍ خوړلو وروسته زموږ خبرو دوام وکړ دغه خبرې یوازې د ماښام لمانځه پرې کړې او نور نو په پر له پسې ډول روانې وې افغانانو د سالون په یوه څنډه کې لمونځ ادا کړ او موږ هم په سالون کې ناست وو خبرې سبا ماسپښین ته و ځنډېدې او موږ خپلو ټاکل شویو استوګنځیو ته لاړو دغه لومړنۍ رسمي خبرې اترې زموږ لپاره ډېرې زړه راکښونکې نه وې. موږ ته دا څرګنده وه چې موخې ته درسېدلو لپاره راته اوږده کړلېچونه مخې ته پراته دي زموږ اصلي موخه داوه چې دلته انګرېزان نا ارامه او پوځونه یې همدلته بوخت وساتو اوس موږ پر دې پوهېدلو چې پر داسې یو هېواد واکمنې کول څومره ستونزمن کار دی چې نه غواړي جګړه وکړي خو دوه زبرځواکونه ترې راتاو دي او په ډېر احتیاط سره له دغو زبرځواکونو سره ټولې ستونزې او کړکېچونه ګالي. د یو الماني لپاره دا دپوره ارزښت خبره ده چې له داسې یو هېواد سره مرسته وکړي. سره له دې چې پوځي مرسته نه شوه کېدای خکه چې دغه هېواد ته له بهر څخه څه شی نه شول راوړل کېدای.

حبیب الله د خپل خان او خپل هېواد د حالاتو په هکله خبرتیا لرله، خو بیا هم داسې حقیقتونه موجود وو چې زموږ د کار پر پرمختګ یې اغېز ښانده په راتلونکي وخت کې موږ ډېر امکانات تر لاسه کړل چې له امیر سره وګورو او خپلې هېلې ورته څرګندې کړو او د هغه نظر هم خانته روښانه کړو دغه ډول مېلمستیا هر ځل تقریباً یوه ورځ دوام کاوه موږ غوښتل چې امیر یوې ېېړنۍ پرېکړې ته وهڅوو او له همدې کبله دغه پر له پسې خبرې زموږ لپاره له کړاوه ډکې وې زموږ اغېز ورو ورو مخ په زیاتېدو و او موږ خوشالیدلو چې په ورو ورو کړیو کې د افکارو راکړه ورکړه تر سره کړو. موږ پوهېدلو چې د امیر له لورې د انګرېزي هند له کبله څومره احتیاط کېده ځکه چې هغوې به په هره موقع کې، موږ امیر ته د غلیمانو په توګه ورپېژندلو او دلته زموږ استوګنه یې په ځانګړي توګه د امیر لپاره هم له خطره ډکه څرګندوله موږ له همدې امله ډېر احتیاط کاوه چې له هر داسې چلند او عمل څخه ځان وژغورو چې د امیر پرضد ترې څه ښکاره کېدای شي. موږ باید د ټاکلو لاربښودنو په پولو کې دننه بند پاتې شوي وای موږ باید په خپلې هوښیارۍ او زیرکۍ سره په خپلو دغو ستونزمنو حالاتو او یوازې توب کې هر ډول امتیاز پخپله تر لاسه کړی وای. موږ کولای شول چې په بهر کې د ګرځېدو راګرځېدو اجازه تر لاسه کړو، خو د هیڅ ډول سیاسي او پوځي هلوځلو لپاره اجازه نه وه. موږ د افغاني چارواکو له دغو ټولو بندیزونو سره سره وکولی شول چې ښار او ولس یې له نږدې وپېژنو. زموږ د ساتنې لپاره یو ټولی عسکر او څو درجنه خدمتګاران ګمارل شوي


Ketabton.com

وو له ګواښونو سره سره مونږ کولای شول چې ښار او د ښار استوګن له نږدې څخه وګورو او س هغه کیسه پای ته رسېدلې وه چې ګونډې د دغو استوګنو له لورې به څه خطر وې او یا به د هغو کسانو له خوا له خطر سره مخامخ شو چې انګریزانو پیسې ورکړې وې یوازې د داسې حملو د رېښتینې خطر د ګواښ په صورت کې مو باید پر خان پام کړی وای بهر ته د وتلو په وخت کې به د سپرو عسکرو یوه ډله هم له مونږ سره وه خو وروسته مونږ داسې څه امکانات پېدا کړل چې له دغو سپرو څخه هم ځان بېغمه او ګوښه کړو مونږ به پر ویالو او لوړو ژورو په بېړه تېرېدلو او هغوی به زیاتره له مونږ څخه شاته پاتې کېدل مونږ به په پټه پټه د خپل مېلمه پال هغه ګیلې اورېدلې چې د افغاني سپرو په اړه به یې کولې چې خپل اسونه به یې تېپې کړې وو او له دې وروسته یې زړه نه ښه کاوه چې زمونږ د شیطانانو بدرګه وکړي مونږ به په دې کار په پټه خوشاله شولو کابل د سیند له تل څخه دوه زره متره لوړ پروت دی او کېدای شي چې د استوګنو شمېر یې د شپېته زره (۶۰۰۰۰) په شاوخوا کې وي خو دغه ښار زمونږ زړه ورکښولو لپاره ډېر څه نه لرل د زاړه ښار کورونه زیاتره له خټو او خامو خښتو څخه جوړ شوي وو پر لرګو یې ټینګ کړي او یوازې دوه پوړه وو نرۍ نرۍ کوڅې یې لرلې چې زیاتره یې سیمټ شوې وې دغه کوڅې به بازار ته رسېدلې او دکورونو ټولې دروازې به همدې کوڅو ته راوتلې وې داچې د کوڅو په لښتیو کې ډول ډول چټلۍ پرتې وې نو د تودوخې په موسم کې به یې ډېر ناوړه بوی کاوه مونږ په دې خبره هیڅ نه پوهېدلو چې امیر چې د روغتیا په هکله ډېر ښه پوهیده نو په دې اړه یې د پلازمېنې له استوګنو سره ولې څه مرسته نه کوله؟ په داسې حال کې چې د همدغو چټلیو له امله په کال کې په سلګونو کسانو د وبا په ناروغۍ خپل ژوندله لاسه ورکاوه. که چېرې دغه لوی او رنګارنګ بازار زمونږ لپاره ډېر په زړه پورې شیان نه لرلای نو مونږ به چېرې هم هلته تګ ته په خوښۍ سره زړه نه و ښه کړای دلته سړی پوهېدای شو چې دغه غریب او له نړۍ څخه یوې ګوښې ته پاتې شوی هېواد څومره شاته پاتې دی

د بازار په لویو کوڅو کې یوه کوچنۍ برخه لوښو او لرګیو جوړه شوې وه د دکان کړکۍ به د لرګي پر تختو بندېدلې او هغه ځای به د یو متر په شاوخوا کې و چې دوکاندار به په کې کښېناستلو په یوه برخه کې یې د بوټانو، ټوکرانو. تماکو او دسینګار سامان د وکانونه وو چې په منځ کې یې د خوراکي موادو، غوښې. مېوې او مسالو د کانونه هم وو. د بازار زیاتره هټۍ وال هندوان و چې له ژیړو پګړیو څخه له ورایه پېژندل کېدل دوی زیاتره د صرافۍ او ټوکرانو پلورلو کار



Ketabton.com

کاوه. په دغه بازار کې زیاتره یې له هندوستان څخه راغلي څیزونه خرڅلاو ته وړاندې کېدل د افغانستان په فابریکو کې جوړ شوي څیزونه به په ډېرو لږو ځایو کې لیدل‌ی شول سره لدې چې کابل د بوټانو، څرمنو او ټوکرانو ښه فابریکه لرله خو بیا یې هم زیاتره څیزونه له بهر څخه راتلل او په دغو راغلیو څیزونو ډېرې پیسې لګېدلې. ښه به دا وای چې دغه لګښتونه د خپل هېواد په تولیدوونکو شیانو کېدلای ددې لپاره چې موږ امیر ته وښیو چې ددې هېواد د خپلو موادو څخه په څومره ښه توګه کار اخیستل کیدای شي نو ځانوته مو له دغو موادو څخه د اغوستلو کالي، بوټان او خولۍ جوړې کړل ان چې تنۍ مو هم د افغانستان له پیسو (سکو) څخه جوړې کړې دغه تنۍ زموږ یو اتریشي ملګري جوړې کړې وې چې زرګر و.



په بابر بڼ کې جرمني پوځي ډله

په دې کار سره ددې هېواد د چارواکو یو ډول رخه هم راتله. څرنګه چې موږ دې هېواد ته د مرستې له سامانونو پرته راغلي وو نو باید د نورو شیانو په څېر مو دا هم ښکاره کړې وای چې یوازې په تخنیکي سامان الاتو ددې هېواد له وېده شویو خامو معدني موادو څخه په زړه پورې شیان جوړیدای شي. د ښار مهمه برخه "کاروانسرای" وه او دغه راز نور سرایونه چې له لرګیو څخه په یوه ښکلي ښه جوړ شوي وو او په لرګیو کې یې ډېره په زړه پورې هنر مندي څرګنده کړې وه د سیند شمالي اړخ ته یوه سیمه ډېره ښکلې وه او هلته هم یو بازار و موږ به د خپل ترکي ملګري منیر بای پوښتنې ته د هغه روغتون ته ورتللو چې د ښار په ختیځه برخه کې پروت و. دغه روغتون په ساده خو جالبه ښه جوړ شوی و. موږ زیاته پاملرنه د ښار



Ketabton.com

په لوېديځ کې پرتې "ماشين خانې" ته واړوله دا يوه لويه ودانۍ وه چې بېلابېلې فابريکې په کې وې په دې فابريکو کې به توپکې، ماشينګڼې او ګولۍ (مرمۍ) جوړېدلې دغه څيزونه به زياتره په پخوانيي انګرېزي ډول جوړېدل په دغو فابريکو کې يوه يې ډېره موډرنه او نوې وه او بو څو نورې يې د لاسي کارونو په بڼه وې لکه ګلدوزي، ترګاني او يو لابرانوار دغه ټول کار ګران په زور کار ته اړ شوي وو چې زياتره يې د کابل استوګن او يا کابل ته راغلي کسان وو. د دوی تنخواه به هم ډېره لږه وه دوی به ايله څو ساعته کار په ډېرې سختۍ سره کاوه د فابريکې توليدات ډېر ګران وو ځکه چې ټوله فابريکه بايد په لرګيو توده شوې وای. څو ورځې سفر په کار و چې له غرونو څخه دغه لرګي راوړل شي له جنګ پخوا د انګرېزي انجنيرانو له خوا پيل شوې بريښنا بې فابريکه چې له کابل څخه د شمال پر لور غرونو ته يوه نيمه ورځ سفر ورته پکار و لا پای ته نه وه رسېدلې په دغه فابريکه کې زموږ له راتګ سره سم انګرېزي او هندي کارګرانو دغه هېواد پرېښي وو زموږ د استوګنې په دوران کې زموږ هلې ځلې داوې چې دغه زاړه ماشينونه ترميم کړو هغه فابريکې وتړو چې د جنګ سامان نه جوړوي او د خپلو ګټو په خاطر د جنګي سامان الاتو جوړولو ته پاملرنه زيانه کړو د فابريکې لپاره اساسي لارښوونو هم بدلون پيدا کړ. موږ وکړای شول چې د نويو (موډرنو) وسلو د جوړولو کار پيل کړو دلته مو يو شمېر مهم بدلونونه راوړل او هڅه مو وکړه چې د فابريکې له محدودو امکاناتو څخه ښه ګټه تر لاسه کړو زموږ تر مشرۍ لاندې د وسلو د جوړولو هر کار ته به انګرېزانو په هند کې په بد ګمانۍ سره کتل. دوی به زموږ هر ګام څاره. دی کار موږ ته اهميت نه لاره

په دې کې هيڅ شك نه وپه کار چې په دې فابريکې کې توليدونکې وسله د جنګيالي او لوی افغان پوځ لپاره کافي نه وه خو بيا هم د افغانستان حالات د پارس له حالاتو څخه ښه وو ځکه چې هغوې دغه ډول هيڅ کومه فابريکه نه درلودله افغانانو کولای شول چې له دغو وسلو څخه په غرنيو جګړو کې په ښه ډول ګټه واخلي که موږ ورته له خپلو ځانګړيو سترګيو وګورو نو په داسې بو هېواد کې چې طبيعت پرې ډېره پاملرنه نه ده کړې او خام مواد پکې لږ دي د يوې لوی فابريکې جوړول ستونزمن کار دی افغانستان چې د لويو دښتو هېواد دی او د دوو زبرځواکو د سيالۍ ډګر دی نو نه شي کولای چې له بهرنۍ اغېزې پرته د يوه خپلواك صنعت بنسټ جوړ کړي د دې هېواد کوچنۍ فابريکې چې ددې ځای خپل اومه مواد په کې کارېږي او هغه لويې فابريکې چې له بهره ورته اومه مواد راځي د



Ketabton.com

هېواد وته بیز (اقتصادي)، او یوځي ټینګښت تر یو وخته ساتلی شي له همدې کبله موږ خپله دنده وګڼله چې په دې هکله له امیر سره وګورو او نوموړی په دې خبر کړو چې ددغه هېواد د خواك پولې او حدود دغه، دغه دي په دې توګه مو غوښتل نوموړی له هغه لګښتونو څخه وساتو چې هیڅ اړتیا ورته نه وه. له بده مرغه چې موږ به په دې کار کې ډېر بریالیتوب نه شو تر لاسه کولای. موږ چیرته کولای شول چې داسې یو هېواد کې بېړني بدلونونه راولو چې زاړه خیالونه یې لرل او په ځینو برخو کې ښځي منځنیو پیړیو نه ورته و. افغانستان ته زموږ راتګ ته هسې هم د یو انقلابي ګام په توګه کتل کېدل. خکه چې انګرېزانو غوښتل چې دغه هېواد او پاچا یې په خپل واك کې وساتي. امیر به هم زموږ دغه کار ته خکه په ناخوښي سره کتل چې د خپلې واکمنۍ د چپه کېدلو همېشنی ډار به ورسره و. دی پر خپله ډېره نږدې شاوخوا هم چندان باوري نه و. د امیر او د واکمنۍ د لوړو چارواکو استوګنځي چې زموږ په فکر یې مانۍ نه شو بللې د ښار په شمالي څنډه کې پراته وو. ددغو کورونو کوځې ښکلې جوړې شوې وې او د ونو پر سیوریو پټې وې. دغه کورونه زیاتره د انګرېزانو د معماری په ښه اباد شوې وو. تعمیراتي مواد یې ښه وو خو له حده زیات پرتم یې نه لاره. دبرلین ښینې کورونه د حبیب الله خان له عمومي میلمستون څخه ښه جوړ شوي وو. دغه میلمستون په یوه ناسمسوره او آزاده سیمه کې پروت دی چې ګرد چاپېره ترې یو لوی دیوال تاو شوې دی. دلته ارګ هم پروت دی چې دیوالونه او خندقونه (ژورې) یې محفوظ ساتي. ارګ په څلور کنجه ښه جوړ شوی و چې ګڼې کوچنۍ ودانۍ یې لرلې او حرم هم په کې پروت و. په حرم کې ښځې ډېرې وې خو موږ یوه هم ونه لیدله کله کله به مو له ورایه یوه تیمه له حرم څخه د وتلو په حال کې ولیدله چې په لوی پړوني کې به پټه وه. ښځو عموماً تیت دریځ درلود. کوم چا چې به ډېر شته لرل نو ډېرې ښځې به یې لرلې چې له نورو اسلامي هېوادو څخه هم په زیاتو قیوداتو او سختیو ساتل کېدلې د ښځو په باره کې د ډېرو لږو افغانانو فکر بل ډول و. په دوی کې دواړه شهزادګان عنایت الله او امان الله شامل وو چې د یو روښانفکره او له سور یې څخه د راګرځېدونکي محمود طرزي لونه یې په نکاح کړې وې.

محمود طرزي د هېواد د یوازینۍ مهالنۍ (جریدې) مدیر (سرمحرر) و. له نوموړي سره موږ په راتلونکي کې ډېر ښه اړیکي وساتل. هغه له موږ سره د یادونې وړ مرستې وکړې. دی دافغانستان د راتلونکي دریځ په اړه تر نورو ښه پوهېده او امیر ته یې زموږ هیلې او غوښتنې په ډېره ښه توګه رسولې. ده به امیر ته داسې



Ketabton.com

خطاب کاوه "اغا" وخوره چې وتحوېل سي" خو هند ته له دغې خبرې له رسېدو سره سم د هند مرستيال واکمن په دې اړه حيله ناخوښي وښودله.

زموږ د ګرځېدو او را ګرځېدو او پوخي معلوماتي سفرونو په لړ کې، اوس موږ له کابل څخه بهر په شاوخوا سيمو کې خپل ګرځېدل پيل کړل دلته هم يو زيات شمېر په زړه پورې کوروڼه او د امير او شهزاده ګانو د استوګنځايونو، ښکلي زيارتونه او د زرګونو هيليو لرونکي ويالې يې لرلې. موږ چې به هرې خواته تللو له خانه سره به مو د ولس خواخوږي محسوسوله. زياترو به يې د کورنيو او بهرنيو سياسي لامِلونو له کبله موږ ته په ډېر ښه نظر کتل. دوی هيله کوله چې موږ به يې له اسلام ضد غليمانو څخه وژغورو. دا نو هغه کسان وو چې سياسي علاقمندي به يې لرلې د کابل زياتره استوګن سوله غوښتونکي، سوداګر او د ايران - اوپايې تاجکان وو(؟)* دوی هوښيار او له سوداګرۍ سره يې مينه لرله د دوی دريغ چندان څرګند نه و او هيڅ جنګي ځانګړنياوې يې نه لرلې اصلي افغانان دلته ډېر لږ ليدل کېدل د پاچاهۍ له کورنۍ او په کابله کې له څو نورو استوګنو کورنيو پرته دغه اصلي افغانان په غرونو او کليو کې نيم کوچياني ژوند لري نور زياتره د افغانستان هند د پولې په اوږدو کې په غرنيو سيمو کې اوسي چې لاړې يې ډېرې ستونزمنې دي له هند سره د تجارتي اړيکو لرونکي هندوان هم په کابل کې د پوره پاملرنې وړ دي اروپايان له موږ پرته نور څوک نه وو، ځکه چې دې هېواد ته د هغوی د راتګ لپاره د امير د ځانګړې اجازې اړتيا وه. له موږ څخه مخکې دلته ډېر لږ اروپايان راغلي وو چې له امير سره يې په تخنيکي برخو کې اسانتياوې برابرولې. د سختو او تينو کارونو لپاره به زياتره په ژمي کې د هزاره ګانو ډلې ګرځېدلې. د ختيځ د نورو ولسونو په پرتله هم، د افغانانو ژوند خورا ساده و ددې ښار د استوګنو تولنه خوښي داوه چې په رخصتيو اويا په ښکلو ماښامونو کې د ښايسته ګلانو په بڼونو کې وګرځي او د ښکليو مرغيو پنجرې له خانه سره په څنګ کې کښېږدي او "کيف" وکړي زموږ په پر دغو خوشالو او هوسا خلکو څومره رخه راتلله: خو موږ به له خپلو سوچونو سره يو ځای د خپل استوګنځي پر لور روان وو.

* دغه د پوښتنې نښه د ژباړونکې ده



Ketabton.com

(۱۴)

# جرمني لمسونونه

**د انګرېزانو د اغېز په وړاندې د ناهیلی جګړه، خوځنده هڅې، د انګرېزانو اټکلونه، بندي شوي اتریشیان، ډراماتیکه عدالتي غونډه، له پارس څخه ناوړه خبرونه، د پسرلي پیل، د انساني توان ور کار مو کړای شو، د تګ پرېکړه او مخه ښه.**

زموږ کارله یوې ورځې څخه بلې ته ستونزمن کېده او زموږ اعصاب یې راحرابول د هیلو د رڼا کوم ځرک به لاته و رابنکاره شوی چې بېرته به د ناهیلی لړی پرې خپرې شوې دغه د ناهیلی لړې د ډیلي او سملیې بادونو له ځانه سره رادمخه کړې وې په نویو مهارتونو سره به موږ دغه لړی له خپلې مخې شړلې. امیر د ستروپرېکړو سرې نه و پر خپل دغه شکمن حالت باندې ښه پوه و دده دواړو لویو دښمنانو په خپلو منځونو کې د وسلو تړونونه کړي وو او دی یې په خپلو پولو کې محاصره کړې و. د انګرېزانو او روسانو ترمنځ دښمني دده د هیواد او واکمنی بنسټونه جوړول د انګرېزي هند پنځلس زره کسیز لښکر او د روسیې ګڼ ملتییز پوځ دده د هېواد په پولو کې، د لویدیځ پر لور د دوی لاړې بندې کړې وې. له لویدیځ سره تر اوسه پورې د وسلو کومه ځانګړې پرېکړه نه وه شوې له وسلو او مالي مرستې پرته او د منځنیو قوتونو له اړخه له سیاسي ډاډمنی پرته هغه نه غوښتل چې له خپلو دغو لویو د ښمنانو سره یوه ځرګنده جګړه پیل کړي. له بلې خوا هغه ډېر ښه پوهېده چې له دې څخه بل غوره مهال چې د خپل هېواد لپاره خپلواکي وګټي نه شو پېدا کېدلی هغه انګرېزان چې ډېر فکریې د هند پر لور و له ده سره یوې لوې جګړې ته نه وو چمتو. د امیر خپل ولس د ترکانو له مذهبي جنګ سره پوره ډېره خواخوږي لرله او دده له لورې د جګړې اعلانول به په منځنی اسیا کې دده پر لور لیدونکي مسلمانان پوره راهڅولي وای، خو دی اوس هم د انګرېزانو د نه شړلو په صورت کې له جګړې وروسته د هغوې له راتلونکي بدل څخه په وېره کې و په نږدې ختیځ او پارس کې د مرکزي ځواکونو هره ماته په هندوستان کې د بریالیتوبونو، جګړې ته د بلغاریا راداخلېدلو او ده "کوت

الامارا س* ببسي موږ بو ګام نور هم رامخکې کړلو د هند مرستيال واکمن په ډېره ښه توګه په دې پوهېده چې دغه واکمن څنګه په غوړه ژبه تېرباسي نوموړي به دی د پاچاهي کورنۍ د يوه خېلواك غړي په توګه ياداوه او زيات سوغاتونه به يې ورکول. که چېرې موږ په دې نه وای توانېدلای چې

په دغه پاچاهۍ کې د خپلو هيلو د تر سره کولو لپاره يو پياوړې اړخ (يا ګوندي) جوړ کړو



په کابل کې د پوخي ډلې چارواکي:
له کيڼې خوا ناست: فويګټ، هينتيګ، نيدرماير او واګنر

نو موږ به داسې په زړه پورې برياوو ته نه وای رسېدلي له ډېرو خبرو اترو وروسته مانه د بو موقتي تړون اجازه راکړای شوه چې د پوخي پرمختګونو مشري پر غاړه واخلم د امير له خوا د يوې غونډې (جرګې) لپاره د هېواد د بېلابېلو قومونو استازي کابل ته راوغوښتل شول له هغوې سره يې په سياسي حالاتو سلا مشورې کولې موږ له هغو سره هم اړيکې پيدا کړل او د هغوې په زړونو کې مو هم د خپل اميد زړي وکرل. خو له هغوې څخه يو شمېر يې له موږ څخه بېرته په شا شول مسودو، مومندواو اپريدو زموږ له وړانديزونو سره علاقمندي څرګنده کړه او موږ سره په يوه سلا شول.

* Kut - El -Amaras



Ketabton.com

ماله جرمنانو، اتریشیانو او ترکانو سره د یو نوي نظم د جوړېدو او د پوځ د ډلبندۍ کولو کار پیل کړ. موږ یو پوځي ښوونځی پیاوړی او پراخه کړ. ما پخپله د ستر درستیز د ښوونځي مشر توب پر غاړه واخیست. د کابل - پېښور پر لاره مو مورچلې جوړې کړې او څوکۍ به مو کوله موږ په یوه تر اوسه پورې لاناڅرګنده سیمه کې تمرینونه پیل کړل له پنځوس زره کسیز پوځ مو یو اویا زره کسیز منظم لښکر جوړ کړ سره له دې چې له دوی سره د جګړې تجهیزات نه وو. خو دوی د سرحدي جنګیالیو قومونو له څو سوه زره کسانو سره په یووالي کې ډېر څه کولای شول؛ خو که دغه جنګ د دوی په خپلو اړونده غرنیو سیمو کې وای. ددې په څنګ کې د هند په اولس کې هم پراخ تبلیغات روان وو، خو موږ د هند د خلکو پر ملاتړ ډېر باور نه شو کولای او دا خبره مو اټکل کړې وه چې که کوم پردی لوی خواك هم د هغوی پولې ته ورورسېږي نو هغوی به له خپل زیات شمېر سره سره بیا هم غلي پاتې شي. په دې وخت کې نور څه تر سره کول ناشوني وو. خو دغو هلوځلو بیا هم دومره پایله ولرله چې انګرېزان یې په دغه سیمه کې ښه سم ناارامه کړل او هغوی سره د امیر د اوږدې مودې دوستۍ له تړونونو سره سره امیر دې ته وهڅول شو چې د هېواد د شمال لویدیځو پولو سره ستر پوځي چمتووالی پیل کړي موږه له باوري سرچینو څخه خبر شولو چې هلته سرکونه او ګاډي چمتو شوي دي او لوی هوایي ډګرونه جوړ شوي دي اود پوځ د لا پیاوړي کېدلو کار پیل شوی دی.

داچې انګرېزانو به په څومره ډار سره زموږ هلوځلو او دافغانستان چلند ته کتل، د هند په واکمنۍ کې د روسي کونسل له خوا د روسیې د بهرنیو چارو وزارت ته په لېږلو شویو خبرونو کې راڅرګند ېدل. وروسته نو بیا په هند کې واکمن هره ورځ نویو پېښو ته سترګې پر لاره و او ددې وس یې نه لاره چې ددې هېواد له حالاتو سره سم امیر ته ځانګړې او منظمې پرېکړې راواستوي. زموږ له بې ارزښته کولو لپاره به هر ډول هلې ځلې کېدې او له شرمه ډکو او چل ولیزو هڅو څخه په هم ډډه نه کېدله. دوی غوښتل چې ددغه غرني هېواد بې باوره پاچا پر ځان پورې وتړي او له هغه سره به یې د سوله ییزو حالاتو د ساتلو په برخه کې مرسته هم کوله. هغه خبرونه چې اوس په کتابي بڼه خپاره شوي دي سړی په کې د انګرېز - هند وېره لیدلی شي په دغو خبرونو کې په افغانستان کې د پېښو او له روسانو سره د کړکېچ موضوعګانې هم راغي. روسان چې په ډېرو موخو کې ناکامه دي د افغانستان له شمالي پولو سره پراته دي او د پارس په شمال ختیځه برخه کې هم په شکمنه توګه بوخت دي.



Ketabton.com

کابل ته زموږ له راتګ سره د پاچا ګوښه شوي مرستيال هارډينګ * له "ټايمز" سره په يوه مرکه کې د امنلې وه چې انګريزان په افغانستان کې زموږ د استوګنې په موده کې په پوله کې د پرتو قومونو له څه نا څه اوو بريدونو سره مخامخ شوي دي. په "نيشن" کې د "لوب کورزونز" ** خبرې هم د اورېدو دي چې د (۱۹۱۶) کال په فبرورۍ کې شوې دي: (( په افغانستان کې د امير له ټينګښت سره سره جرمني لمسونونو په منځني ختيځ کې د انګرېزانو دريځ ته خطر راولاړ کړی و )) لوستونکي به يې زما په ناپوهۍ کې ونه شمېري که زه د جنرال ماليسون *** له يوه رپوټ څخه چې په "مارنينګ پوسټ" کې چاپ شوی دی دغه برخه راواخلم " جرمني توطيې او پروپاګندونه چې له جنګ څخه څه موده پخوا پيل شوي وو ، لکه څرنګه څرګنده ده روسيه او لويه برتانيا له سترګوابې سره مخامخ کړي وو ، خو دا ډېره نه ده څرګنده چې داسې تکړه او پرېکنده پروپاګنده کوونکي لکه نيدر ماير او واګنر ، وکولای شي چې دغو موخو ته په افغانستان کې او د افغانستان له لارې په هند کې هم ورسېږي.

تر هغه چې زه له خپلو ملګرو سره يوځي کارونو ته پرېښودای شوم نو يو څو داسې ورځې هم وې چې د شك او بې باورۍ له امله مې زړه و چې خيمې راټولې او له دې هېواده ووځم. زه به هېڅکله هم وزګار نه وم ما بايد له خپلو کسانو سره چې د ختيځ پر لورې يې يون کاوه اړيکې ساتلې وای له روسي ترکستان څخه مې بايد په زرګونو بندي اتريشيان راخلاص کړي وای څيني نور اتريشيان چې د روسانو د يوځي زندانونو څخه را خلاص شوي او کابل ته رارسېدلي وو د دوی لپاره مې هم بايد ځای پېدا کړی وای. خپله ډله مې بايد سره يو لاس ساتلې وای. له روسانو څخه په دغه وروستۍ راخلاص شوې ډله کې درې تنه افسران وو. شراينه، ريبيچکه او زولاند. درې تنه په خوښۍ سره له موږ سره يو ځای شول او زموږ په هلوځلو کې يې پوره ونډه واخيستله دا زموږ لپاره د خوارۍ ، غوښتونکې وه چې د دغو دريو تنو لپاره دافغانانو له لورې د ګرځېدو يو څه ازادي تر لاسه کړو. موږ دې خبرې ډېر خواشينې کړلو چې اتريشيانو په خپلو منځو کې اختلافونه سره پيدا کړل. دوی د اتريش په بېلو بېلو قومونو پورې اړه لرله. کله چې زما پر خوښه له هغوې څخه يوه کوماندو جوړه شوه نو يوه برخه يې اسلام ته واوښته او افغاني

* Harding
** Lobcurzons
*** Mallesons

تابعيت يې   خپل کړ له دې امله به زه مجبورېدم چې په راپېدا شويو شخړو کې مداخله وکړم د اتريشيانو يوې برخې زما لپاره او بلې برخې يې د افغانستان د حکومت له پاره کارکاوه دوی د يادونې وړ کاروته تر سره کړي دي.

د ارامتيا دغه اوږده موده زما د افغاني کارکوونکو لپاره هم په زړه پورې نه وه سره له دې چې هغوی د مسلمانانو په توګه له موږ څخه د ګرځېدو ډېره ازادي لرله زه څو څو ځله دې ته اړ شوی يم چې منځګړيتوب نه وکړم او يا ځينې کسان د لويې غلا له امله افغاني محکمو ته وسپارم په دې لړ کې غواړم د يوې پېښې يادونه وکړم چې پر مايې ډېره اغېزه کړې ده. زما د ډېرې مودې د اس ساتونکي "کرم" چې عرب و او له ماسره له بغداد څخه تر دې ځايه په ډېره سپېڅلتيا راغلی و او ماته يې ډېر کارونه تر سره کړي وو نو هغه مې د ټولو څارويو د څارنې مسئول کړی و نوموړي يوه ورځ له "اسمعيل" څخه چې هغه هم يو تورزن سړی و د هغه په ډېرې خوارۍ سره ټولې کړې پيسې غلا کړې وې هغه پر دغو پيسو باندې د يو هزاره په مرسته په يوه نږدې کلي کې يوه ښځه رانيولې وه دغه غلا ژر څرګنده شوه ياد شوی هزاره تعقيب او ونيول شو دغه کار ماته ډېر ناوړه ښکاره شو سره له دې چې هغه ما بخښلی وای خو د جرمنانو د حيثيت د ساتلو لپاره بايد محاکمه شوی وای دا د افغانانو غوښتنه هم وه. زه په دغه ډراماتيکه غونډه هيڅکله هم هېره نه کړم. "کرم" له ټولې سپېڅلتيا سره سره له هر څه نه منکر شو هغه زما له زياتو پوښتنو ګروهېږنو په تنګ شو فکر يې وکړ چې ما دې ته ملاتړلې ده چې هغه مجرم ثابت کړم. سره له دې چې زه د هغه دمشر په توګه مخکې تل د هغه پر خوا وم. نوموړي پر ما بريد وکړ او زما ټول کالي يې راوشلول. داسې ښکارېدل چې غوښتل يې زما سا راوباسي. ما له هغه څخه خان خلاص کړ او لاسونه مې يې وتړل سره له دې چې نورو بې احساسه کسانو ددغه قهرجن څناور يوازې ننداره کوله له دې وروسته نو له نوموړي سره موږ د ملګرتيا سپېڅلتيا پای ته ورسوله او افغاني پېره دارانو هغه زندان ته کړ اسماعيل مې د هغه پر ځای و ټاکه په دې توګه مې نو خپل يو بل سپېڅلی ملګری هم له لاسه ورکړ زه اوس هم په شک کې يم چې ايا ما هغه وخت سمه پرېکړه کړې وه کنه؟

"پاشن" چې په هرات کې زما لاربښودنې ته په تمه ناست وو اوس يې د زاړه والي "ګورنر" له خوا مرسته او د ګرځېدو نوره زياته ازادي تر لاسه کړې وه ده له شمالي پارس او روسي ترکستان سره پاخه اړيکي لرل نو موږ هلته يو شمېر نور مخبران هم لرل چې دده له لارې هلته پاتې نور بنديان تېښتې او پاڅون ته وهڅوي



Ketabton.com

له بده مرغه تومورې د "څوګمایز او زایلر" له ډلې سره اړیکې ته وو پیدا کړې "بایرل" چې د ذهني او څه نورې ناروغۍ له کبله له خایه نه شو خوځېدلی اوس یو څه ښه شوی و هغه ما د سهیل لویدیځ ایالت سیستان د حالاتو د څرګندولو لپاره ولېږه او بیا مې بېرته کابل ته راوغوښت د انګرېزانو د کلکو څارنو له امله دی پر دې نه و توانېدلی چې ریښتني معلومات تر لاسه کړي. له پارس څخه زما او د امیر لپاره ډېر خواشینوونکي لیکونه رارسېدلي وو(دغه لیکونه د دښمنانو له لورې زما د ملګرې په نوم په درواغو رالېږل شوي وو) دغو خبرونو ماته د هغه ځای څه نا څه انځور راکولی شو د (۱۹۱۶) کال د اپریل په منځ کې ماته د خپلو خلکو له خوا له کرمان څخه پرله پسې لیکونه راورسېدل دغه لیکونه زموږ یو هندي ملګري راوړي وو په تهران کې د جرمني استازي په پته بغداد ته تښتېدلې و روسان په بېلابېلو لیکو کې د قم * او "همدان" پر لور د پرمختګ پر حال کې وو. دوی زموږ شاته د اړیکو ټولې لارې شلولې وې "زایلر" د "تایبند"** په ایالت کې د افغان پارس پر پوله د انګریزانو له لښکر سره ښتنه کړې وه چې "وینکلمن" په کې بندي شوې و "زایلر" اوس په کرمان کې ناست و او د نورو پرمختګونو په اړه یې انتظار ویست له کرمان څخه د دښمنانو لښکرې شړل شوې وې او داسې ښکارېدله چې دغه ځای زموږ په لاس کې ټینګ پاتې وي. "څوګمایر" د پارس په سهیل ختیځو سیمو "بام"*** او "بام پور" کې هلې ځلې کولې. زما له خلکو سره هلته د ځان د ساتلو مواد کم وو له ختیځ څخه ورته ډېره موده نه وو وررسېدلي دغه خبرونو زه ډېر خواشیني کولم. هغوی خو له موږ سره د امیر نیك چلند هم له نږدې ونه لید. زما لپاره د راغلیو لیکونو له منځ پانګې (محتوی) څخه زه پوه شوم چې په دغه وخت کې ماته په پارس کې څومره اړتیا ده.

اوس نو ژمې هم تېر شوې و دغه ژمې یوازې د جنورۍ په منځ کې موږ ته یو څه واوره را څرګنده کړه د مارچ په منځ کې هوا ډېره تودېدله زموږ د باغ میوه لرونکیوونو ډېر ښکلي سپین او ګلابي رنګونه خپل کړل د کابل په ټوله دره کې یوه شنه ژیړه پرده خپره ښکارېدله یوازې د پغمان غرونه له ورایه ځلېدل چې تر اوسه یې لا د ژمي څه نښې نښانې پر څوکو ښارېدلې. دغه پسرلي ډېر ورو ورو ګامونه اخیستل. زموږ ونې زیاتې سمسورې شوې ساړه نور د تېرېدو په حال کې وو. د

* Kum
** Naibend
*** Ban and Ban pyr



Ketabton.com

غرونو واورې په ريات شمېر کې ويلې شوې وې او دادې زمونږ د باغ په خوا کې په ويالو کې بهيدلې د کابل سيند د شپې له خوا راجګ شوې و او ټولې پرتې نږدې سيمې يې لاندې کړې وې څومره ژر چې دغه اوبه راجګې شوې وې همداسې بېرته ستنې شوې.

مونږ يوه ورځ د خپل چکر په ترځ کې وليدل چې کوچيان هم له پېښور څخه د راستنېدو په حال کې دي دوی ژمی هلته تېر کړې و او غوښتل يې چې کرار کرار بيرته د غرونو پر لور وخوځېږي دغو خلکو به پر دغومره موده کې چې مونږ بنديان په کې ناست وو څومره اوږدې لارې وهلې وې درې مياشتې مخکې يې کابل ته زمونږ د رانګک خبر هندوستان ته رسولې و او دادې اوس يې له هغه ځايه مونږ ته په زړه پورې خبرونه راوړي وو د دوی لپاره پوله او جګړه نشته، خو په پولو کې يې زمونږ له اړخه د انګرېزانو ډار او پوځي هلې ځلې ښې سمې ليدلې وې په ډېرې خوشالۍ يې مونږ خپلو تورو کېږديو ته ور وبللو او هلته مو خبرې سره وکړې لکه څنګه چې عادي خلك بنداره سره کوي مونږ هغوی ته ډېر ورتللو او دهغوی ماشومانو ته به مو خوږه وروړله د ماشومانو به شليدلي جامې پر غاړه وې په ګړيو ګړيو به مو له دغو نيکمرغو تشريفاتو او ازادو انسانانو سره په بنداړ کې خپل سخت غمونه هېر کړي وو. زمونږ ددې کار تر شا د خپلې ازادۍ د نورو انسانانو د پيژندلو او نويو هڅو هيلې پرتې وې.

په دغه وخت کې داسې ښکارېدل چې زمونږ پوځي هلو ځلو يو څه پرمختګ کړی دی خو دا زمونږ لپاره بس نه و چې يوازې په کابل کې ناست يو او له دې ځايه د افغاني پوځ د روزنې او وروخوځښت لار ښودنه وکړو. مونږ بايد ډېر ژر په دې خبره پوه شوی وای چې ايا امير له مونږ سره پر داسې لارو ځي چې زمونږ پر نظر بايد هغه له انګرېزانو سره په ټکر کې راغلی وای؟ څکه چې يوازې په کابل زمونږ پاتې کېدلو انګرېزان يو څه ناارامه کول او خپل ځانونه به يې پولو ته راوستل. خو دغه کار د يوکال او يا زيات وخت لپاره بس نه و. مونږ له هندوستان څخه له رارسېدنکيو خبرونو څخه هم څرګندولی شوه چې د "کوټ" له پېښې څخه وروسته به د انګرېزانو پوځونه له پنجاب څخه هم بهر وځي داچې په دغه سخته تودوخه کې لوی پوځي عمليات نه شول تر سره کېدای خو دوی زمونږ کسانو ته چندان زيان نه شوای رسولی. په ژمي کې چې د جګړې اصلي وخت دی دوی بايد د هند په دروازو کې څوکۍ کړای وای



Ketabton.com



امیر حبیب الله خان او نصرالله خان

په دې توګه نو مور امیر ته نوی وړاندیزونه وکړل او له هغه څخه مو وغوښتل چې په لنډ وخت کې غوځ ځواب راکړي زموږ د دې وړاندیز په هکله چې "هینتهګ" به یوازې حرکت وکړي داسې ځواب راغی چې یا به ټول همدلته پاتې کېږو او یا به ټول یوځای سره روانېږو دا ځواب له امیر سره د هند د مرستیال واکمن د اړیکو په پام کې ساتلو سره د ډېرې حیرانتیا وړ نه و خو د ځواب راکولو بڼه یې ښه نه وه د ځواب دغې بڼې دغه هېواد کې زموږ د نورې استوګنې په اړه له موږ سره پوښتنې راپیدا کړلې خو په نورو خبرو اترو کې به موږ ته ډېرې ژمنې وشوې. خو هغه ژمنې به نه راڅرګندېدلې چې موږ به ټینګار پرې کاوه ماته ډېر ژر څرګنده شوه چې موږ



Ketabton.com

به پر دي و سه نوانېږو چې د غه ژبات ډارن او د وخت د اړتیا په اشاره نه پو هېدونکي پاچا به د هند په وړاندې راپاڅوو څرنګه چې ما فکر وکړ چې اوس نو له دې جا به ماته په پارس کې ژبانه اړنيا ليدله کېږي نو د تګ پرېکړه مې وکړه.

زما د ډلې هندي او ترکي ملګرو سره مو مخالفت پيدا شو څکه چې هغوی د تېر خل د دښنو اوږده سفر ډېر ستړي کړي وو خو زموږ جرمنی پرېکړه ډېره کلکه وه سره له دې چې افغانانو او په تېره بيا د امير او ورور يې نصرالله په هر ډول زموږ د تګ مخالفت کاوه، ددغه ستر سړي لخوا له ګڼو ډاليو سره زموږ سره مخه ښه وشوه دده هغه کلمې پر ما ښې ولګېدې چې د جرمني د ليرې ملګرتيا هيله يې څرګنده کړه زموږ د دښمنانو خبرې چې هغه ګوندې موږ په زوره سره له خپله هېواده شړلو بېخي ناسمې دي امير زه د کړکۍ پر لور بوتللم او هلته يوې ويجاړې ماڼۍ ته يې ګوته ونيوله او ويې ويل:

(( تاسو ما د انګرېزانو د يو ملګري په توګه ګڼئ، هغه اولس چې داسې يوه نښه يې موږ ته پرېښې ده د هيڅ يو افغان لپاره نه شي دوست کېدلای دغه پرېکړې چې ما کړې دی باور وکړئ چې په بل ډول مې نه شوای کولای ښايي چې تاريخ به زما دغو پرېکړو ته په ښه سترګه ونه ګوري))

موږ په دې باوري وو چې دا کار به همداسې کېږي. ما له نصرالله خان سره په زړه پورې ښه مخه ښه وکړه. هغه ماته خپل زړه راتش کړ او راته څرګنده يې کړه چې د خپل ورور له سياسي چلند سره په هيڅ ډول موافق نه دی نوموړي چې په دغه وروستۍ شېبه کې ماته څه وويل هغه سخت د احساساتو راپاروونکي وو. هغه هم د يوداسې چا له خولې چې زموږ په څېر له ستونزو او کړاونو سره نه و مخامخ شوی موږ هغه څه وکړل چې يو انسان يې کولای شي موږ خپل کار سرته ورساوه.

موږ ته د تګ پرېکړه ډېره سخته وه خو له هغه څخه سخت يې سرته رسول وو. زموږ ګر چاپېر دښمنان پراته وو. دابنکاره خبره وه چې له کابل څخه زموږ په روانېدلو به هغوی ډېر ژر خبرېدل په دې توګه نو داخبره بېخي ناشونې وه چې موږ دې په يوه واحده پوځي ډله کې له دې هېواده ووځو. لکه څنګه چې ورته راغلي وو. ددې امکان ډېر و چې زموږ د ډلې لږ تر لږه يو تن خان خپلو لښکرو او يا خپل هېواد ته ورسوي او له هغه ځايه زموږ د بون په برخه کې هلې ځلې پيل شي په دې ډول نو موږ د خپل تګ داسې يو پلان جوړ کړ چې افغانانو ته مو په بشپړه توګه نه


Ketabton.com

و ښودلی "فویکت" چې تر اوسه یې ماته ارزښتمند کاروانه تر سره کړي وو او س دغه وخت رارسېدلی و چې سره جلا شو هغه باید له یو څو هندیانو سره د غزني او کندهار له لیارې په لویدیځه غرنۍ افغاني سیمه کې "تایوري"* پر لور تللی وای. دی باید هلته ماته او با زمانورو لاربنودنو ته په تمه وای "پاشن" باید د هرات په لوېدیځ کې له پولې څخه د اوښتلو هلې ځلې کړای وای او پارس ته ور اوښتی وای د ډلې پاتې کسان: هینتیګ، روبر، واګنر او زه باید له یوځي ډلې له تولو سامانونو سره شمال ته د هندوکش پر لور خوځېدلی وای هنتیګ باید بیا د پامیر له لیارې چین ته او زه د افغانستان د شمال له لیارې لویدیځ ته تللی وای زه باید په یوه غوره برخه کې د روسیې او یا پارس له پولې تیر شوی وای واګنر باید له یو لوی کاروان سره هرات ته تللی وای نو موږ باید هلته پاتې شوی وای او زمونږ اوامرو ته په تمه وای.

له بده مرغه موږ تر اوسه پورې په دې بریالي نه شولو چې خپل اتریشي ملګري له زندان څخه راخلاص کړو د هغوی شمېر اوس سلو تنو ته رسېدلې و له همدې کبله باید موږ خپل یو څو نږدې ملګري په کابل کې په ناخوښۍ سره پرېښي وای. جګړن شراینر موږ په خپله خوښه پر خپل استازي توب هلته پرېښود.

د (۱۹۱۶) کال د می د یوویشتمې (۲۱) نېټې سهار د وخته زه یو ځل بیا د یعقوب قبر ته ورجګ شوم په ځینو پخوانیو وختونو کې به موږ د هغه د ارامتیا په اړه له هغه سره رخه کوله. بیا نو زه پر خپل اس "لوران" چې اسمعیل راته راووست سپور شوم او تر یو ځایه د اتریشي افسرانو په بدرګه د شمال پر لور د روان شوي کاروان خواته وروخو ځېدم.

---

* Taiwereh



Ketabton.com

## (۱۵)

# د سکندر پر پلونو

**د سکندر د لارې جيوپولتيکي ارزښت، د هندوکش په پښو کې، د پنجشېر په دره کې مځکې تګ، له هينتيګ سره مخه ښه، خوړندې لارې، د پرېمانو واورو پر لاره، ددرې په زړه پورې استوګن، د باختريانو په سيمه کې، سپېڅلی مزار، د ښارونو "مور"**

موږ پر يوې له وياړه ډکې لاره روان وو. په داسې يو موسم کې پر دې لاره روان وو چې نږدې په همداسې يو موسم کې د نړۍ تر ټولو ستر غاصب هم پر همدغه لاره تير شوی و. دا له ميلاد څخه(۳۲۹) کاله پخوانۍ خبره ده دغه غاصب د "سکندريې" له ښار څخه را روان شوی و چې ده جوړ کړې او د همده په نوم نومول شوی و. دی بيا د قفقاز د غرونو له ليارې د هندوکش د غرونو لړۍ ته را ورسېد چې دلته دغه غرنۍ لاړ تر ټولو ځايونو تنګه او نرۍ ده. ده غوښتل چې باختر تر خپلې واکمنۍ لاندې راولي په دغه سيمه کې بيسوس Bessus د شمال سکانو پر ملاتړ نوې جنګي هلې ځلې پيل کړې وې او ددغه زړور مقدونيايي له خوا نيوليو شويو سيمو ته يې ګواښ راولاړ کړی و. دا داسې يوه سيمه ده چې نن هم موږ ته خپل جغرافيايي – سياسي (جيوپولتيک) ارزښت راڅرګندوي مځکې له دې چې ماته اجازه راکړل شي چې د سکندر پر دغه لاره چې د ايران تر غرنيو سيمو او نږدې ختيځ پورې هم غزېدلې ده روان شم، نو د دغې سيمې پوځي جغرافيايي او ستراتيژيک ارزښت د ليدلو په اړه مې ځانګړې لېوالتيا لرله د هغه وخت او نن ورځې په موسم او جغرافيايي ارزښتونو کې کوم توپير ته تر سترګو کېږي. دغه سيمه خورا ځواکمن طبيعت لري او ددې ځای ټولو استوګنو ته يې د ژوند يو ډول ښه ور په برخه کړېده په دې لړکې هغه کسان هم راځي چې په ځواک سره يې دغه ځايونه نيولي دي او يا هغه هم چې دغه ځای يې د خان د ساتنې (دفاع) لپاره غوره کړی دی. دلته سړی په دې هم باوري کېدای شي چې وخت پروخت د حالاتو بدلون او په اسيا کې د نويو ډلبنديو جوړېدو ددې سيمې حالات خرابول او ددې ځای د پرمختګ خنډ کېدل. د نوې تخنيک له رامنځ ته کېدلوسره بايد دغه لاره نوره هم



Ketabton.com

ښه شوی وای خو په سر چپه ډول دغه خبره دلته د ویجاړتیا سبب شوې ده. ایا پر نویو او موډرنو تخنیکي وسایلو سره به دغوسیمو کې چې د روسیې اسیایي او د هند ژورې برخې سره نښلوي، له نوي وخت سره سم لیارې جوړې شي کنه؟ ایا تر هغې پورې چې انګریزان په هندوستان کې ناست وي له سیاسي پلوه به ددې کار څه امکانات پیداشي؟ د هندوکش د غرونو لړۍ چې لوړه څوکه یې اووزره متره لوړوالی لري، له خپلو جنوبي او شمالي موازي غرونو سره یوه ټینګه او نه ماتېدونکې دفاعي پوله جوړوي، څوك چې یو ځل ددغو غرونو پر څوکو واکمن شي بیانو هغه دواړه ژور ملکونه تر خپل واك لاندې راوستلای شي. د سکندر دغه تګ او د واك ټینګښت کومه "اکتشافي" مانا نلرله بلکه ددې سیمې د جغرافیایې سیاسي (جیوپولتیك) ارزښت یوه نښه هم ګڼل کیږي. زموږ کاروان د میلمه پال امیر پر لارښودنه د اړتیا وړ هر ډول څیزونه لرل اوس نو زموږ دغه بهیر یو نوي میلمه پال لاره چې تل به زموږ خدمت ته چمتو و نوم یې "شجاع الدوله" و دا د نوموړي لپاره اسان کار نه و چې په دغه لاره کې موږ ته د خوراك څیزونه او د شپې تېرولو غوره ځایونه ومومي ځکه چې پر دغو سمیو کې ډېر خلك نه اوسېدل خو موږ ددغو شیانو د کموالي په سوچ کې نه وو اوس نو موږ په خپله خوښه ددې هېواد د ژوند د حالاتو سره ځان روږدي کړې و او کومې ځانګړې غوښتنې مو نه لرلې موږ به له دې وروسته خوشاله وو چې پر زین کښېنو او خپل یون ته دوام ورکړو موږ هر ډول ځاني ستونزو ته تیار وو خو دا مو نه وه خوښه چې په کوم ځای کې ارام کښېنو او خپل ماغزه وخورو.

له دریو ورځو یون وروسته موږ د غوربند درې ته او هغه ځای ته ورسېدو چې د سالنګ او پنجشېر سیندونه سره یو ځای کېږي په کوم ځای کې چې د غور بند سیند پای ته رسېږي او د هندوکش او پغمان د غرونو اوبه هم له ځانه سره ګډوي یوه ډېره ښکلې له ونو ډکه سمسوره سیمه وه چې شمالي ډډې ته یې امیر خان ته یوه کلکه ماڼۍ جوړه کړې وه ددغې ماڼۍ نوم جبل سراج و ددې ماڼۍ په خوا وکې د برېښنا جوړولو د یو بند کار هم پیل شوې و چې د یو کانال له لیارې به ورته د غوربند له سیند څخه اوبه راتللې دلته نږدې باید هغه لرغوني سکندریه هم پرته وي ( )؟ موږ له دې ځای څخه د شمال ختیځ پر لور د پرتې درې پنجشېر خوا ته روان شولو چې په جنوبي برخه کې دغه دره ډېره تنګه شوې وه. زموږ لپاره په

---

ښایي موخه یې د سکندر د راتګ لیاره او یا دلته د هغه د استوګنې ځای وي (ژ)



Ketabton.com

ډبرینو غونډیو تېرېدله سهیلي ژورو سیمو یې ښکلي انځور جوړاوه او په زړه پورې منظره یې لرله مورږ په بېړه د غرونو دغې لړۍ ته رسېدلي وو له هغه وروسته چې مورږ له کومو ستونزو پرته د دربند تاڼې ته وروختلو نو دغه دره نوره هوارېدله. هلته د کر ډېرې زمکې او کلي وو چې استوګن یې له مغولي او اریایي نژادونو څخه وو او مورږ ته یې په ښه توګه ښه راغلاست ووایه.

د هندوکش غرونو مورږ ته په شمالي څوکو کې د واورو یوه ښکلې منظره راوښودله پر څلورمه ورځ مورږ یوې تنګې نالې ته ورسېدو دلته د سیند لمنې ته یو کلې پروت و چې "دشت روات" یې باله. هینتهک له ما سره تر همدغه ځایه راغلې له دې وروسته مې ورته د کاروان یوه لویه برخه وروسپارله دغه کاروان د شمال لوېدیځ پر لور خپل یون پیل کړ دغه کاروان به ددښمن ډېره پاملرنه راوړی وای دغه کار هغه د پتېدنې یو تاکتیك و هغه غوښتل چې دلته له مورږ څخه خپل ځان په یوه ناځرګنده بڼه جلا کړي. دی د روېر او زما د یو اتریشي ملګري پر ملاتړ د ختیځ پر لور روان شو هغه غوښتل چې د انجمن دروازې (پاس) له لیارې پر پامیر د چین د پولې پر لور وړاندی ولاړ شي دوی باید هلته د افغانانو په بدرګه رسول شوي وای تر دې ځایه پورې زه او هغه (هینتهک) په هر ډول خطرونو او کړکېچونو کې ملګري پاتې شوي وو دلته مو له نیکو هیلو سره یو بل ته دمخه ښې لاسونه ورکړل.

مورږ د شمال پر لور روان وو لاره ډېره تنګه وه او په دغه تنګه لاره کې هم د غرونو لوی لوی تیږې پرتې وې له یو ستونزمن پېچومي وروسته مورږ په غرونو کې پروت د خاواك کلي ته ورسیدو په دغه کلي کې یو څو غریبې او رمه والې (ګلچه کورنۍ) اوسېدلې. دغه کورونه په دري زره متره لوړوالي کې پراته وو زمورږ باروړونکې څاروی دغه ځای ته په ډېرې سختۍ راوختل او ایله د تیارې د خپرېدو سره تږلو ځانونه دغه ځای ته راورسول په دغه کلي کې یوازې یو څو کوټنۍ وې چې له تیږو او ختو جوړې وې دلته انسانان او څاروي یو ځای سره اوسېدل له مورږ سره راغلیو افغانانو به هم مورږ دغو بدبویه غارونو ته له ورننوتلو منع کولو مورږ له یخنۍ سره سره بهر په خېمو کې څملاستو زمورږ په هره خوا کې کمرونه ښکارېدل چې یو څه بوټي به پرې ولاړ وو دغه کمرونه تر دوه سوه متره پورې اخوا ته جګ په واورو کې پټ وو. د کلي له خلکو سره مو د خبرو اترو په لړ کې د سبا ورځې د سفر په اړه مشورې وکړې. زمورږ د سبا ورځې یون د خاواك په پاسنۍ برخه کې وو چې څلور زره متره جګ پروت و او پر واورو پوښل شوې و.



Ketabton.com

په نیمه شپه کې موخپل یون پیل کړ چې د واورو له دغو سترو ډګرونو څخه تېر شو څکه چې بیا نو وروسته لمر دغه واورې ویلې کولې او پستولې نن مو باید پر خپلو پښو تګ کړی وای په بوې ورې سرای کې له دمې وروسته موږ خپل یون پسې اوږد کړ په دغه ځای کې زموږ څاروي په ډېرو ستونزو سره روان و. زموږ د څاریو د پلونو له امله دغه لاره له ورایه ښه څرګنده ښکارېدله دغه پلونه که هر څومره ژور وو خو بیا هم باید د مزل په وخت کې هماغلته پښې ایښودلې شوې وای که چیرې به کوم څاروي له پلونو پرته په کوم بل ځای کې پښه کېښوده نو بیا به ټول په واورو کې ډوب و. په دغه وخت کې نو باید موږ د هغه ټول پیټی ترې راکوز کړی او په سختۍ سره مو له واورې راویستلی وای. ما به پوره په ډار سره دغه هر څه څارل څکه چې د ورځې د پیل او دلمر د راختلو ویره راسره وه یو څه وړاندې یوې ښکلې هسکې سیمې ته ورسېدلو لومړی زه خپله پاس ورو ختم او ډېر وخت لاپاتې و چې د کاروان نوره برخه هم ترما راورسي. ما ددغو غرونو د ښایست ننداري ته ډېر وخت لاره یو وینځلی او شین اسمان چې ددغو غرونو پر سر ولاړ و د ختیځ او لویدیځ په اوږدو یې یو ډېر په زړه پورې انځور جوړاوه سره له دې چې دغه غرونه د الپ * د منځنیو غرونو په اندازه هم لوړ نه وو خو بیا هم خطرناك ښکاریدل د دې له امله چې دلته غرونه ډېر دي نو سړی ترې ډېر نه ډاریږي.

اوس نو لمر د واورو میدانونه ویلي کول او پستول خو دغه تکره ډله د هوا له کمښت سره سره تر ټولو جګې برخې ته راروسېدله د واورې د ویلې کېدلو او پستېدلو سره سره لاندې تګ اسانه و له یو ساعت مزل وروسته لویدیځ لورې ته روان شولو او دغه سیمه مو شاته پرېښودله. دوه ساعته وروسته موږ یو وړوکي کلي ته ورسېدو چې سمندان Samandan نومیده او د اندراب په دره کې پروت و ستړي وو خو، کوم ځانګړی زیان نه و را اوختې دلته یوه سمسوره مېوه لرونکې سیمه پیل کېدله چې له شمال څخه ورته سیند راروان و زموږ په کینه ډډه کې غرونه شنه برېښېدل هلته به اوزبکانو خپل څاروي د څړ لپاره بیول اوس نو موږ یو نوي قوم ته ورداخل شوي وو چې له ترکي نژاد څخه وو په ورځینو اوږدو سفرونو کې موږ د وړاندې تګ هڅې کولې موږ اوس د "خارپشته" له کلي څخه تېر شولو درې ورځې سفر مو وکړ چې نهرین او بغلان ته ورسېدلو په دغو سیمو کې ګڼ شمېر خلك اوسېدل په دې ځای کې ډېر لوی ماران او څیزګي وو.

---

* Alpen: دالپ غرونه په منځنی اروپا کې تر ټولو مشهور او لوړ غرونه دي. (ژ)



Ketabton.com

د جون په لومړۍ نېټه موږ ایبك ته ورسېدلو چې دغه ښکلې او سمسوره دره له ورایه ښکاریده دا د هندوکش جنوبي اړخ ته پرته دویمه مهمه لیاره ده چې ددغو ځایونو د استوګنو په وینا ټول کال د تنګ راتنګ وړ وي او بامیان ته هم رسېدله موږ د لويو ونو په یوه لوی سمسور باغ کې خېمې ودرولې دلته موږ یوه ورځ دمه وکړه غوښتل مې چې په دې ځای کې د پخوانیو بودايي ودانیو او نورو ښکلې انځور شوې ماڼۍ وګورم او عکسونه یې واخلم د ایبك په شمالي برخه کې یوه بله غرنۍ سیمه پیل شوه دا د افغانستان- ترکمنستان د غرونو وروستۍ لړۍ وه. د غرونو په منځنۍ برخه کې بیا هم ګړنګونه لیدل کېدل دلته له غرونو څخه د شمال پر لور یوه تېزه ویاله هم بهېدله چې موږ تري باید په څو ځایه کې تېر شوی وای د تاشقرغان په سهیل کې موږ د یو لوی سیند په څنډه څنډه کې روان وو په دغه برخه کې د افغان – ترکستان او یا د پخواني باختر یو مرکزي دمه ځای و چې خُلم نومېده. له دغه دمه ځای څخه یو څه وړاندې په یوه لویه او ښکلې برخه کې چې د غره په لمنه کې پرته وه د امیر ماڼۍ جوړه شوې وه موږ همدلته ځای پر ځای شولو.

اوس نو د ورځې له خوا بیا هم ډېره ګرمي وه سره له دې چې له تېږدې غرونو څخه یخ او په زړه پورې باد را لګېده له دغې ماڼۍ پرته په تاشقرغان کې کومه بله د پاملرنې وړ ودانۍ نه وه خو لـه دغې پاسنۍ برخې څخه دې سیمې یـوه پـه زړه پورې منظره جوړوله دغه ځای د شنو پټو او سمسورو ونو انځوریزه یادونه اوس هم له ماسره پاتې دي.

تاشقرغان له ترکستان څخه د هند پر لورې د سوداګرۍ یوه مهمه لاره ده په اوړي کې چې لارې پرانستې وي له دغه دمه ځای څخه ګڼ شمېر کاروانونه تېرېږي. له بده مرغه د دغې سیمې د هوا لـه کبله زه دلته لـه یوې ورځې نه زیات نه شوم پاتې کېدای، سره لـه دې چې ماغوښتل د افغانستان – ترکستان د لارې مهم دمه ځایونه او مذهبي مقام لرونکی مزارشریف او زوړ باختر وګورم.

په دښتو او شاړو سیمو کې له دوه ورځني سفر وروسته موږ حکومتي مرکز "مزار" ته ورسېدلو والي "ګورنر" ماته د زړه له کومې ښه راغلاست ووایه لـه ماسره یې هر مذهبي ځای ته د تګ په برخه کې مرسته وکړه. څوك چې اسلامي هېوادونو ته تللي وي په دې خبره پوهېږي چې بېلا بېل مذهبي ځایونو ته د ورننوتلو او د عکسونو د اخیستلو کار څومره له سختیو ډك دی.



Ketabton.com

دغه لوی او د ګڼ شمېر استوګنو ښار- مزارشریف - د "بلخ" د یو میراث په توګه د پاملرنې وړ دی بلخ له دې ځایه د لویدیځ پر لور یو ورځنۍ لنډ سفر ته اړتیا لري "بلخ" چې پخوا یې "باختر" باله د ښکلا ښېلو یرغلونو او ویجاړتیاوو له کبله د استوګنې وړ نه و. دغې سیمې ته له سهیلې غرونو څخه راتلونکیو اوبو هم اوس خپله مخه بدله کړې وه. په دغه سیمه کې دا ډول بدلونونه زیات پېښېږي دلته د راتګ اصلي انګیزه هغه کوچنی زیارت دی چې اولس یې درناوی کوي مزارشریف نن سبا د افغانستان یو ملي - مذهبي ښار دی د شیعه ګانو او سنیانو لخوا ددې سیمې درناوې کېږي خو په اصل کې د شیعه ګانو ځانګړی مذهبي ځای و یو روایت داسې وایي چې د کربلا له جګړې وروسته د علي (رض) جسد او د هغه اوښ دلته پیدا شوي وو ما ددې خبرې پایله پیدا نه کړای شوه. چې اوس په کربلا کې د علي (رض) د قبر موجودیت ته څنګه ځواب ویلی شي؟ اولس به داسې ویل " بس موږ باور پرې لرو او پوهېږو چې دغه ځای د سلګونو کلونو راهیسې د حیرانوونکیو پېښو ځای دی" باختر او افغانستان هم باید له لرې پرتو پردیو غربي مذهبي مقامونو پرته د عبادت او درناوي یو ملي - مذهبي مقام درلودای په دغه مذهبي درناوي او عبادت کې هم "رمز" پروت دی او همدغه ټکي موږ دې ته پرېښودلو چې له اولس څخه په دې اړه نوري پوښتنې او ګروهېرنې وکړو. دغه زیارت او جومات په پنځلسمه پیړۍ کې د چنګېزخان پر کنډوالو جوړ شوي و دیوالونه یې پر ښکلې انځوریزه بڼه جوړ شوي دي د ډیرو افغاني مذهبي کسانو او په دې لړ کې د امیر شیرعلي خان (رح) قبر هم دلته و د نویو ابادیو د جوړېدو له کبله ددغه ځای د ودانۍ پخوانۍ ښېښې ډېرې نه ښکاري. هغه وخت چې موږ دغه جومات ته ننوتلو نو ګڼ شمېر خلك هم پر موږ پسې دې جومات ته راروان وو. خو په هېڅ ډول یې زموږ مزاحمت نه کاوه.

له مزار څخه مو د سهیل لویدیځ پر لور روان شولو اوس موږ د "دهدادي" په کوچني ښار ګوتې کې وو دغه ښار ګوتې په یوه ژوره سیمه کې پروت و او شاوخوا ته تړې د لسو مترو په جګوالي دیوالونه راچاپېرول دلته پر سلګونو څوکیداران ناست وو له دې ځایه سرې له مزاره تر بلخه پورې د غرونو د لړۍ یوه په زړه پورې ننداره کولای شوه دلته یو شمېر تاسیسات و چې ویل کېږي ډېر وخت پرې لرېدلې او ډېر لګښتونه پرې شوي، خو بیا هم په ګره کې د نویو (موډرنو) وسلو په وړاندې کوم ارزښت نه لري.یو دوه ساعته موږ یوې شاړې او لمر سوځولې سیمې ته ورسېدلو دا باختر و موږ د ښارونو ددغې مور په هکله بیخي بل ډول خیال لاره موږ پردغه لاره روان وو او کله چې د بودیزم د وخت له یوې جوړې شوې لرغونې کلا


Ketabton.com

څخه تېر شولو نو بلخ ته ورسېدو دلته مو په يو سيوري کې خپلې خېمې ودرولې زه دلته دري ورځې پاتې شوم ما غوښتل چې دلته د لرغونو بودايي او اسلامي دورو ودانۍ وګورم او عکاسي يې وکړم له بده مرغه دغه ودانۍ زياتې رنګې شوې وې دغه ودانۍ د يوې لرغونې افسانوي دورې شاهدانې وې هرې ډډې ته به چې سړي کتل نو کنډوالې يې تر سترګو کېدې.

اوسنۍ دمه ځای (سرای) په يوه سمسوره سيمه کې پروت دی دا د غرونو د لړۍ په سهيلي اړخ کې دی دغه دمه ځای يوازې يوه وړه کوټه لرله چې چتله او ګډه وډه وه خو همدلته د دوه زرو (۲۰۰۰) په شاوخوا کې خلك وو په دغو کسانو کې يو لړ شمېر هندوان او يهودان هم وو. دغه سيمه د ميوو د حاصل له امله نن هم ډېره مشهوره ده ددغې سيمې له اوبو څخه ددې ځای د استوګنو د ژوند په ښه والي کې د اغېزمنه ګټه نه اخيستل کېده. ما غوښتل چې د زردشت او سکندر په څېر عمل وکړم د زردشت مذهب له همدې ځايه تر ايرانه پورې رسېدلې و او سکندر هم دغه ځای د خپل يون د پای د ټکي په توګه په نظر کې نيولې و. نو ما هم له همدې ځايه د امو * شمال سيمو ته د تګ پرېکړه وکړه خو د هغوې په پر تله زما کاروان او منزلونه جلا وو په يوه ښکلي او د کاروانونو پر يوه سمسوره لاره په دوو ورځو کې د اقچې له لياري شبرغان ته ورسېدلو په لاره کې مو ډول ډول خبرونه تر لاسه کړل، موږ خبر شولو چې روسان زموږه يون ځاري او په سرحدونو کې پوره لټون کوي زموږ له دغه شمېر جرمنانو څخه د هغوې ډار موږ ته د خندا وړ و زموږ دغه کوچنۍ ډله د يوې سترې حکومتي (افغاني) پوځي ډلې له خوا بدرګه کېدله داچې زموږ دومره درناوی کېده دی کار زه خوشالولم ما په قصدي توګه همدغه لاره دخپل يون لپاره غوره کړې وه څرنګه چې له دې ځايه تر روسي پولې پورې دوه ورځې مزل و نو ما غوښتل چې د خپلې ډلې په اړه د هغوې پاملرنه راواړوم. زه په دې خبره هم ښه پوه وم چې زه هر لور ته ګام اخلم نو هلته د روسانو جاسوسان هم ناست وي او زموږ د هر خوځښت خبر له پولې آخوا رسوي. په دغو وروستيو ورځو کې ما د خپلو خلکو په وسيله ترکمني لباس واخيست دغه کالي مې پټ کړي وو او غوښتل مې چې په يوه مناسب وخت کې ترې ګټه واخلم.

د شبرغان والي چې د امير خپلوان و. موږ ته په ډېره مينه ښه راغلاست ووايه په دغه ښار کې ازبکان او يو لړ شمېر تاجکان اوسېدل دا د شمال له خوا د راتلونکيو کوچيانو لپاره يو لوی سوداګريز مرکز هم و دلته مې يوه ورځ دمه وکړه او بيا د سهيل ختيځ پر لور د غرونو په لمنه کې پراته "سرپل" ته روان شوم په دغه وخت کې ما د راتلونکيو ستونزو په وړاندې ځان چمتو کاوه.

---

* ليکوال دلته (Oxus) ذکر کړی دی چې په لرغوني زمانه کې د " امو " سيند نوم و. (ژ)



Ketabton.com

(۱٦)

# د روسیې پر پوله

**زما پلان، په سرپل کې مخه ښه، د بنې بدلون، په دښته کې، زما ترکمنان، د دښتو څاوې، د شګو مزل، نالېدونکې پوله، جل وهلو ته نږدې**

ماله خانه سره دا پرېکړه کړې وه چې په سرپل کې به خپل کاروان پرېږدم او پټ په پټه به د لویدیځ پر لور روانېږم ما غوښتل چې د قاراقورم د دښتو له لیارې په روسي سیمه کې د "پنجده" شمالي ډډو پر لور سفر وکړم په دغه ځای کې د یو سیمه ییز پاڅون مخنیوي ته روسي پوځ تیارسۍ و. د جغرافیایي او اروایي (وراني) لاملونو له مخې دښمنانو ته دلته زما ورتګ ناشونی ښکارېده. ما خپل دغه پلان له واګنر او مېلمه پال پرته له خپلو نورو ټولو ملګرو پټ کړی و. د سرپل په حکومتي بڼ کې موږ د "آب سفید" د سیندګي څنډې ته خپلې خېمې ودرولې دا د جون یوویشتمه نېټه وه ما ټوله ورځ له واګنر سره په مشوره او خبرو اترو تېره کړه واګنر باید له ټول کاروان سره په څرګنده توګه د روسیې پولو ته ډېر نږدې د مېمنې له لارې هرات ته تللی وای او هلته موقتي خنډېدلای وای "فویکټ" ته مې یو خبر ورونکې ورولېږه او ورته مې امر کړی و چې له خپل توان سره سم د پارس پر لور وخوځېږي نو موږ باید هلته هلې ځلې کړې وای چې په قاراقورم کې د پوځي ډلې پاتې برخې ته خان ور ورسوي له بده مرغه دغه پیاړوی سړی، نه شوای کولای چې د دښمن له لیارو تېر شي. زه له دې خبرې څخه وروسته خبر شوم هغه له "تایوري" Teiwereh څخه د لویدیځ پر لور روان شوی و دی له ډېرو زیاتو ستونزو او د بنې له بدلون سره "سدې" Sehdeh ته رسېدلی و. له ده سره زموږ لپاره کارکوونکي دوه هندي انقلابیان هم ملګري وو. نوموړی د اګست په پیل کې ددې سیمې لویدیځ ته د انګرېز – هندي سپرو له خوا نیول شوی او بندي شوی و هغه د یو جرمن افسر په توګه پېژندل شوی او بیا سیستان او بلوچستان ته بیول شوی و سره له دې چې نوموړی د نس خوږي په ناروغۍ اخته و خو بیا هم په ټوله لاره کې له پښو او لاسونو تړل شوی و دده جګړه د هند د "اصمدنګر" په زندان کې پای ته ورسېد. دده هندي ملګري لامخکې په سیستان کې ویشتل شوي وو. "پاشن" هم چې په دې وخت کې له هرات څخه وتلی و ډېر نېکمرغه نه و. نوموړی د دښت او غرونو له لیارې د



Ketabton.com

دښمنانو له عمومي خطر ځای څخه په "تربت حیدري" کې تېر شوی او ځان یې "تیسبس" ته رسولی و. هلته نوموړی په ناوړه حالاتو کې د پارسیانو له خوا نیول شوی او روسانو ته سپارل شوی و.

له دې وروسته نو زما ټولې آرامۍ پای ته رسېدلې وې. د د ښتې یو نوې یون پیل کېده او هغه هم د کال په تر ټولو تاوده موسم کې. ما باید په دغه سفر کې ځان یوازې پر خپل ځان سپارلی وای زه باید د روسانو د پوځي څوکۍ له لیارې تېر شوی وای. دلته نو زه د یو دښمن اولس په منځ کې راګېر وم او ما یوازې یوه تمانچه (تفنګچه) لرله زه یوازې روان وم او ښه په بیړه روان وم کله چې کاروان راسره نه وو ما ځان ته یو بل تربیه شوې او غښتلی اس پیدا کړ له خپل "لوران" څخه مې ځان په ډېرې سختۍ سره جلا کړ چې د کار تګړه توب یې په دې وروستیو کې یو څه بې مزې شوی و له خانه سره مې یو پارسي (ایرانی) چې عبدالوهاب نومېده ملګری کړ ده ته مې یو بل غښتلی اس ورکړ چې ماته د مزارشریف د والي له خوا ډالۍ شوی و. ماته د افغانانو له لورې یو ترکمن راوپېژندل شو چې د قاراقورم په دښتو او د روسي ترکستان په سیمو کې ښه بلد و. نوموړی مو خپل لارښود و ټاکه له یو څو ساعته خبرو وروسته ماته د نوموړي سپېڅلتیا او د لارې په هکله ژوره خبرتیا څرګنده شوه دغه سیمه چې زه پرې باید تېر شوی وای د انګرېزانو په نقشو کې د "ناڅرګند" په ویې "کلمه" په نښه شوی و په دی توګه نو زه یو ځل بیا لکه یو کشف کوونکی لاروی داسې شوم سره له دې چې دغه کار راته په زړه پورې نه و.

اوس نو ما خپلې ترکمني جامې په پټه خپلې خېمې ته راوړې کمیس یې تر پښو پورې رسیده یو پرتوګ او یو یې هم تر پرتاګه لاندې نېکر درلود نیمه موزې یې کلکې او څېرې وې یوه اوږده کمیس ډوله (چپن) او یوه خولۍ چې د پسه له پوټکي جوړه وه یوه متروکه هم ورسره وه په ماسپښین کې مې خپل اتریشي ملګري ځان ته راوغوښت هغوی ته مې وویل چې زه پر یوه بله لاره روانېږم او څو ورځې وروسته به بېرته کاروان ته راستنېږم تر هغه وخته به "واګنر" د قوماندان په توګه دنده تر سره کوي زما د لاس په ورکړه (مخه ښه) کې باید هغوی پوه شوي وای چې اصلاً خبره بله ده هغوی سرونه وخوځول او په کراره له دې ځایه ووتل ما غوښتل چې خپله ښه بدله کړم له واګنر او مېلمه پال سره له خبرو وروسته مو پاتې سامان اتریشیانو ته ورساوه، هغوی د کاروان پر چمتو والي بوخت وو. ما خپل سر پاک وخرایه او بریتونه مې تور کړل بیا مې له خپل غاښ څخه د سرو پوښ رالېرې کړ او



Ketabton.com

د خولۍ په يوه څنډه کې مې کښېښود له واګنر سره مې د زړه له کومې مخه ښه وکړه او بيا نو روان شوم د خپل ترکمن لارښود په مشرۍ چې څو خپل قوميان يې د مرستندويانو په توګه له ځانه سره ملګري کړي وو روان شولو د شپې له خوا مو د شمال پر لور مزل کاوه زما کاليو (جامو) له ما څخه داسې څوك جوړ کړې و چې ان خپل همدغه ترکمن هم ونه پېژندلم او زموږ د سفر پای پورې نوموړي په دې پوه نه شو چې زه هماغه اروپايي يم چې په خېمه کې مې ورسره اوږدې خبرې کړې وې. ما په دې باور لاره چې اوس نو د روسانو ټوله پاملرنه زموږ د هغه کاروان پر لور وه چې له ځايه خوځېدلې و له دې امله نو زه د شبرغان ختيځ خواته د دوه ورځني سفر په لړ کې په شمال کې ترکمني شاړو سيمو ته ورسېدم دا د (۱۹۱۶) کال د جون د (۲۲) نېټې شپه وه چې د جون د (۳۳) پر لور روانه وه له دغو شاړو سيمو او ترکمني دمه ځايونو له لياري زه د خپل لارښود کور ته ورسېدم ددې ځای استوګنو موږ ته په زړه پورې هر کلې ووايه لارښود مو غوښتل چې له خپل ځانه سره نور پنځه تنه ملګري هم مله کړي تر هغو چې دغو نورو کسانو ځانونه تيارول نو د جون (۲۴) نېټه شوه په دې وخت کې نو زه يو څه دمه شوی وم ددې ځای د استوګنو د ژوند بڼه هم د پارس او د افغانستان د ژوند له بڼې سره ورته وه. له يو په زړه پورې وړانديز سره سره ما خپل غښتلی اس له يو بل شکمن اس سره بدل نه کړ د جون د (۲۴) نېټې وروسته د اسمان ستورو زموږ لارښوونه کوله ځکه چې د سوځنده لمر له لاسه موږ يوازې د شپې له خوا سفر کولای شو تر څو چې زموږ ټول ترکمنان چمتو کېدل او موږ خپل سفر پيلاوه ما له ځانه سره سوچونه کول چې څومره لاره به وهم چې خپلو پخوانيو ملګرو ته ورورسېږم ما دغه ټولې ورځې او شپې شمېرلې چې پر زين به ناست وم او په پټه به مو سفر کاوه د راتلونکو ستونزمنو حالاتو اټکل زما غوښې ځيږ کړ. تر ټولو ښه لاره دا وه چې سړی ددغو حالاتو په اړه هيڅ فکر ونه کړي او يوازې د منزل په فکر کې وي. په مروه کې له زندان څخه يو راتښتېدلی مجارستانې مخې ته راغې هغه چې د افغانستان له پولو راوښتې و موږ ته يې کيسه وکړه چې د قاراقورم په دښتو کې لوړې ژورې ډېرې دي سره له دې چې ده ډېرې ستونزې زغملې وې خو موږ له ځانه سره اټکل وکړ چې که دی تری راتېر شوی دی موږ به هم پرې ورتېر شو خو هغه دغه سفر په يوڅه سړه هوا کې تر سره کړی و څرنګه چې اوس ډېره ګرمي وه نو موږ بايد د خپل سفر په وخت کې دغه لاره ښه ترا پېژندلې وای موږ بايد له داسې پولو اوښتې وای چې هلته د څوکيو وېره نه وای دلته سړي کولای شول چې په يو يا دوه ورځني سفر له پولې اخوا يا دې خوا



Ketabton.com

خلکو سره هيڅ اړيکې ونه ساتو. په ډار سره مې له خپلو موزو څخه نقشې راوکښلې په دغه نقشه کې يوازې درې سيندونه وو چې يو يې د شمال د دښتو پر لور بهېده او د افغانستان له لوېديځ څخه راته بل يې مرغاب و او بل هم د روسيې او پارس پر پوله بهېده.

ماغوښتل چې له خپلو ترکمنانو څخه و پوښتم چې موږ به ددغو دريو سيندونو د يو ځای کېدو په کومه برخه کې له سينده تېرېږو. زه ايله د خپل سفر په دغه پيل کې په دې پوه شوم چې زما لارښود د لارې په اړه هيڅ نه پوهېږي له همدې کبله نو ما بايد د خپل يون مشري او لارښودنه بېرته پر خپله غاړه اخيستې وای ما د ستورو په ليدلو خپله لار پيدا کوله ځکه چې ترکمنانو لاره نه پېژندله تر يو ځايه پورې هيڅ ساکښ نه ښکارېده په همدغه ځای کې موږ د روسانو پر پوله ورواوښتو د راتلونکو ليارو په هکله مو هيڅ معلومات نه لرل نه پوهېدلو چې ښي اړخ ته لاړ شو او که کيڼ ته خو د ببلابېلو لاملونو له کبله مو د سهيل لاره غوره کړه. دا ډېره د خوښۍ خبره وه چې روسي عسکرو موږ ته لاره نه وه نيولې ځکه چې هغوی هم د ډېرې تودوخې له لاسه په خپلو دمه ځايونو او قاغوشونو کې وو زموږ مخې ته بيا هم د افغانستان د غرونو څوکې ښکاريدلې دلته نو زموږ اوبه هم خلاصې شوې وې د هوا تودوخه په غرمه کې پنځوس درجو ته رسېدلې وه او هغه هم په سيوري کې نږدې وه چې جل مو ووهي. زما د ډلې خلك زياتره له ما نه ورروسته وو. اوس نو ما د خپل د ژوند د وروستيو شېبو په هکله سوچ کاوه. ددغو حالاتو په باب مې په ذهن کې يو تلپاتې انځور جوړ دی. هغه ترکمن چې له مانه لږ څه وړاندې روان و ډېره زياته خوشالي يې څرګنده کړه لږ وروسته زه هم وررسېدم او يو څو ځاګانې مې وليدی دانو زموږ لپاره يوه لويه نيمګرغي وه اوبه دومره مالګينې وې چې زموږ اسونو هم له زياتې تندې سره سره په ډېره سختۍ څښلې پر ډېرو ځارويو ددغو اوبو له څښلو وروسته خولې راماتې شوې او ټول بدن به يې لړزېده زموږ لپاره د يو شپون په کور کې د يوڅه لږې مالګې اوبه پيدا شوې شپون مې له اوبو سره د پاتې کسانو مخې ته ولېږه چې يو پر بل پسې راروان وو. يو سړی بايد دلته پاتې شوی وای ځکه چې اس يې له منځه تللی و موږ د اتيا کيلو مترو په شاوخوا کې مزل کړی و دغه ځای ته شپانه د" کته کودوك لويه څاه" نوم ورکوي دلته يوه اوونۍ ترمخه د روسانو د ځارنې يوه ډله راغلې وه.


Ketabton.com

(۱۷)

# په سوزنده لمر کې

**د قراقوم په سوزنده لمر کې، په سپیو کې یو سپی، د غلو او روسانو له لیارې، ترکي پولې ته، اصفحان- زموږ عمومي تم ځای، د لوط دښتې له لیارې، ویجاړېدل، له شیراز نه د زایلر تېښته، د غلو له خوا مشرتوب.**

زه اوس په داسې یوه سیمه کې وم چې لـه جغرافیـایي پلـوه یـې ځانـګړې جوړښت لاره زیاتې شکې یې لرلې او دغه لرې د پامیر شمالي غرونو او ترکسپین پورې رسېږي... دلته د دښتو په منځ منځ کې ماته ترکمنانو وویل چې نـور نـو وړاندې سفر نه شي کولای ځکه چې اوس نو بـاید لـه داسې نورو ترکمني قومونو څخه تېر شوي وای چې د دوی اړیکې ورسره ښه نه وو. دوی ته ویل شوي وو چې په دغو سیمو کې روسان پراته دي او که چیرې زموږ پـه څېر وسله وال کسان پرې پېښ شي ناوړه چلند ورسره کوي دوی دلته زیاته هڅه کوله چې له ما څخه تصدیق تر لاسه کړي ځکه چې له داسې تصدیق پرته دوی د افغان والـي (ګورنر) مخې تـه نـه شول ورتلای له ډېرو خبرو اترو وروسته ما هغوی دې تـه اړ کړل چې مخ پـه وړانـدې راسره ولاړ شي خو دوی د روسـانو لـه وېرې خپلـې وسـلې همدلتـه لـه کوربـه کـره پرېښودې ایله ماسپیښین مهال و توانیدو چې خپل یون ته دوام ورکړو موږ د شمال لویدیځ پر لور روان شولو چې هلتـه د روسانو ډېرې څوکۍ وې لکه د پخوا پـه څېر مو د سبا دوو بجو دمه وکړه پـه دې وخت کې هوا هم سړېدله او موږ هـم سـتړي کېدلو.

یوه بل زړور ترکمن موږ ته په خپله کوټه کـې ځای راکړ لـه څه خبرو اترو پرتـه هغه موږ ته اشاره وکړه چې مخامخ ورته کښېنو زموږ د ډلې مشر ترکمن زیاته هڅه کوله چې د هغه پاملرنه ځانته راواړوي موږ نیمه ګړۍ ناست وو چې ایلـه یـوه خبره وشوه یوه ګړۍ وروسته موږ ته کوربه د چایو سلا وکړه هغـه چې لـه دې وروسته لـه هر چا بېلابېلې پوښتنې وکړې نوماته یې هم په افغاني ژبه یو څه وویل: زمـا ملګرو به په هر ځای کې زه د افغان په نوم خلکو ته ورپېژندلم او یوه د درواغو کیسه به یې ورته جوړوله دغه سړی پر خپل حکومت پورې تړلی سړی ښکارېده.

د شپې ناوخته مهال زما فکر یوې بلې خبرې ته واوښت د درې په بله ډډه کـې یو اورګاډې تېرېده زه نشم کښلای چـې زه بـه څومـره زیـات خوشـاله شـوی یـم د


Ketabton.com

(۱۹۱۴) کال په پای کې مې په تاوروس کې ګاډي پرېښې و او دادي دوه کاله وروسته مې په دغه سیمه کې ولید ما خپل کسان په اوبو پسې ولېږل کله چې راوګرځېدل نوراته یې وویل چې یو قاچاقبر یې هم پیدا کړی دی. هغه د شپې له خوا څوك نه بیول څکه نو موږ باید تر سبا پورې دلته پاتې شوي وای بله خبره داوه چې دلته د روسانو یو لوی پوخ پروت دی. دغه لوی پوخ په پنجده کې د خلکو د پاڅون د مخنیوي لپاره ځای پر ځای شوی و. زما ترکمنان ملګري ډېر وارخطا ښکارېدل هغوی ماته ډېر خطرناك ښکاره شول خو له بده مرغه چې په خبرو یې نه پوهېدم په سبا سهار هغوی نه غوښتل چې له ماسره د سیند پر لور لاړ شي او هیله یې کوله چې همدلته یې غوښتنې تر سره کړم داخل نو ته څه ګواښونو اغېز وکړ او نه هم خبرو اترو هغوی دلته پاتې شول او زه له خپل پارسي ملګري سره سیند ته ورکوز شوم چې له سیند څخه اخوا ته تېر شو دلته د تېرېدلو یوازې یوه لاره وه له ډېرو خبرو اترو وروسته مو له بېړۍ وال سره له سینده د تېرېدو خبره پخه کړه هغه ته لکه چې موږ نابلده ښکاره شولو له موږ څخه یې ډول ډول پوښتنې کولې لکه چې زړه یې و موږ ونیسي له دې کبله نو موږ په خپلو اسونو سپاره شولو او دده د تېرایستلو لپاره مو د اورګاډي لور ته تګ پیل کړ کله چې له هغه له سترګو پناه شولو نو بېرته د سیند پر لوري وروګرځېدو او غوښتل مو چې د سیند په څنډه کې په بوټو کې ځانونه پټ کړو.

پنځه ساعته وروسته ترکمنان بېرته موږ ته راغلل د هغوی په لیدلو زه ډېر زیات حیران شوم. دوی زه په حیرانونکې بڼه دلته پیدا کړی وم هغوی ماته خپل ځاروي راوښودل چې په ډېر ناوړه حالت کې دي ما هغو پنځو وارو ته منلیکونه (تصدیقونه) ورکړل د هغوی مشر مې له ځانه سره کړ او له ماسره یې ژمنه وکړه چې د پارس پولې ته به مې رسوي که رښتیا ووایم نو له ماسره یې بېخي لږه مرسته کړې وه. له ماسره د هغوي د راتګ اصلي موخه داوه چې ماته یو ترکمنې چاپېریال جوړ شي چې زه په کې ونه پېژندل شم. موږ دلته پارس سره په سرحدي سیمه زراخر Sarachs کې مخ په وړاندې لاړلو ما څو څله غوښتل چې په اورګاډي کې کښېنم او په مرو او سمرقند کې د اتریشي بندیانو ته ځان وررسوم خو دا کار ناشونی و ما هڅه کوله چې په جرمني او پارس کې له خپلو ملګرو سره اړیکې ټینګ کړم ترکمن او زما مزدور غوښتل چې پر شمالي لاره لاړ شي هغوی نه غوښتل چې د پارس په دغه ناوړه پوله کې مخ پر وړاندې لاړ شي.



Ketabton.com

له ډېرو ګرځېدو را ګرځېدو وروسته موږ هغه ځای ته راورسېدلو چې تېره شپه مو هلته وه له هغو شپنو څخه مو په ترخه ژبه وپوښتل:

"تاسو سپو ولی پرون موږ ته درواغ وویل او پر ناسمه لار مو رهي کړلو؟" مشر شپون چې ایله د شپاړسو کالو به و او یو غښتلی ترکمن ښکارېده په عادي بڼه یې داسې وویل:

"تاسو موږ ته دشك وړ ښکاره شوئ ښه خلك په دغه وخت کې دلته سفر نه کوي. موږ غوښتل چې تاسو ژر لاړ شئ نه مو غوښتل چې د خپلو رمو لاره درته وښیو له همدې کبله مو غلطه لاربنودنه درته وکړه" ما غوښتل چې هغه ته یو وړ خواب ورکړم خو د یو افغان په بڼه مې دا کار نه شوکولای موږ باید ټوله شپه ددغه ناپوهه هلك خبرې اورېدلې وای.

زه ډېر لیوال وم چې د نویو جنګي حالاتو په هکله پوه ترکمنان پیدا کړم. زیاترو به د روسانو د کمزورۍ هیله مندي څرګندوله او جرمنانو او ترکانو ته به یې ډېره دعا کوله. د یو زاړه ترکمن د اټکل له مخې اوس د روسانو زوال رانېږدې شوی و. اوس نو له سرحد څخه تېرېدل زما د فکر او اټکل له مخې هم زیات ستونزمن کار ښکارېده. روسانو په افغانانو او جرمنانو پسې سخته را اخیستې وه، څکه چې د هغوی لپاره دغه دواړه ډېر خطرناك وو. د هریرود په سیمه کې یوې ترکمنې ډلې د روسانو په مشرۍ څارنه کوله. دلته د شپې له خوا تېرېدل هم سخت وو. له دې امله ما یوه بله داسې ډډه د تېرېدو لپاره غوره کړه چې ډېره نرۍ وه. د شهر تپې Sehrtepeh ته چې د دولت اباد سهیلي اړخ ته پرته ده، زه یو ځل په ۱۹۱۳ کال کې د یو معلوماتي سفر لپاره هم راغلی وم. دا هماغه شهر تپه وه.

اوس موږ بلې خوا ته اوښتي وو. د یو سیند په څنګ کې د شمال پر لور روان وو چې د بلوڅانو خیمې مو له ورایه ولیدې، موږ د دغو خېمو پر لور روان شولو، بلوڅان په دې پوه شول چې موږ له څه ډول خطر سره مخامخ یو او له همدې امله یې له موږ سره ډېره مرسته وکړه، موږ د سیند هغې بلې ډډې ته کتل چې اوس پرې نږدې پنځوس تنه سپاره روان وو. هغوی د دغو خېمو پر لور روان وو او ما سوچ وکړ چې بس هر څه پای ته ورسیدل، خو بیا وروسته یې یو ناڅاپه بېرته مخ وګرځو. تر ټولو لوی خطر تېر شو، زه په خوشالۍ سره د پارس په سیمه کې وم. په یو سنید کې مې ولمبل، وروسته مې ښکار وکړ، دلته نو خلك په عادي توګه ښکار کوي. خپل ترکمنان مې همدلته پرېښودل او سوغات مې هم ورکړ. د واګنر لپاره مې یوه خبرتیا هم ورته ورکړه.



Ketabton.com

زما مزدور چې کله په دې پوه شو چې موږ دادی د پارس په سیمه کې یو، له خوشالۍ نه په جامو کې نه ځایده. خو ما د هغه خوشالي ورکمه کړه او ورته و مې ویل چې دلته د روسانو له خوا اخیستل شوي پارسیان ډېر دي او سفر مو نور هم له ستونزو ډک کېږي. تر اوسه پورې خو ټول سپورت و، خو له دې وروسته هر څه په درواغو پورې تړلي دي چې د یو اروپایي او یو عسکر لپاره په زړه پورې نه وه. اوس نو خبره داسې وه "سپی شه چې له سپو څخه بچ شي!"

په دغو تېرو دریو کلونو کې مې ډېر څه زده کړل چې دلته باید کار ترې واخلم. په ټول ختیځ پارس کې بلوڅانو خپلې سیمې لرلې. دوی له خپلو سیمو څخه تر زراخز پورې رسېږي، خوله هر ډول افغاني او روسي سیمو څخه ډډه کوي. ما له پخوا څخه دغه خلك د ساده او سپېڅلیو خلکو په څېر پېژندل. دغه بلوڅان د ترکمنانو په څېر مېلمه پال او له پارسیانو څخه ازاد او سپېڅلي خلك دي. موږ له دوی سره په زړه پورې وخت تېر کړي. دا چې دوی زړور خلك وو نو کله کله به یې غلا هم کوله. کله چې دوی نابلده کسان ځان ته نږدې کوي نو د شك د له منځه وړلو لپاره ترې اوږدې پوښتنې ګروهېږنې کوي. له همدې کبله ما پرېکړه کړې وه چې په ټوله لاره کې به له پارسیانو څخه ډډه کوم او کوچیانو ته به ځان نږدې کوم. دلته زما ډېر قدر کېده.

زه د خپل پارسي ملګري له خولې خبر شوم چې پرون دلته بلوڅانو ته روسان راغلي وو او د جرمنانو پوښتنه یې کوله. بله دا چې هغوی په اوونۍ کې دوه ځله دلته راځي، زه وډار شوم چې دادی په دې ځای کې هم له روسانو څخه خلاص نه شوم. سمدلاسه مې خپل مزدور پر خپلو پخوانیو ملګرو پسې ولېږه. کله چې هغه بېرته راګرځېده نو روسانو هغه زما د ملګري په توګه پېژندلی او نیولی وو، یو زاړه سړي چې زما ډېر عزت یې کاوه را ته وویل چې همدا وخت دی چې له دې ځایه ووځې. دلته هیڅوك له ما سره مرسته نه شي کولای دا چې روسانو په سلګونو څارګر (جاسوسان) لرل چې هره ورځ به دمه ځایونو (کاروانسرایونو) ته راتلل، نو زما هغه فکر چې په بنځینه کالیو کې به له تهرانه وځم، په همدې ځای کې پای ته ورسېد. زه له روسانو او انګرېزانو څخه دومره نه ډارېدم، لکه څومره چې یې له پارسي څارګرو (جاسوسانو) څخه ډارېدم. دوی د خلکو په منځ کې نه پېژندل کېدل او د روسانو خو خپل ځایونه څرګند وو.

ما اوس پرېکړه وکړه چې د تهران د هغې عمومي لارې پر لور روان شم چې د روسانو مرکزي اډه وه، ځکه چې دلته زما د ورتګ هیڅ اټکل نه کېده، بله خبره دا!



Ketabton.com

وه چې دلته زما ډېر ملګري وو، ما ته په زړه پورې خبرونه هم په دغه وخت کې راورسېدل. زه خبر شوم چې ترکان دهمدان پر لور را روان دي او په تهران کې د دښمنو ډلو ډار هم زيات شوی وو. دلته مې خپل د لارې ملګری عبدالوهاب پرېښود ځکه چې ډېر ناروغه و

په دغه وخت کې ترکانو همدان نيولی وو. هغوی له قزوين او ساويه (Saveh) څخه را اوختي وو او په تهران کې هم ورته خلك سترګې پر لاره وو. روسان، انګرېزان او ارمنان له دغه ښار څخه وتلي وو، جنرال باراتوف (Baratof) روسي چارواکو ته خبر ورکړی و چې هغه به د کسپين سيمه په بشپړه توګه پرېږدي. ښاغلي زومر (Sommer) دلته جرمني استازي راغوښتي وو. ما شهزاده نور الله ميرزا چې د جاندار مې افسر و، له ځانه سره ملګری کړ. له دريو اوونيو وروسته مې په خان کې د دې ځواك وليد چې وړاندې تګ پيل کړم. عبدالوهاب ته مې څه ډالۍ ورکړې او همدلته مې پرېښود. زما د يون لاره معلومه وه: همدان. د اګست په ۱۷ نېټه زه د تهران جنوب لوېديځې دروازې ته لاړم او په دې ډاډه وم چې له دوو دريو ساعتو سفر وروسته به د ترکانو لومړنيو پوستو ته رسم، خو دا ځل هم زه دومره بختور نه وم. دلته هم ځوك وړاندې نه شوای تلای، ځکه چې د غلو او روسانو له ډاره ځوك په دغه لاره نه شواى تلای. که رښتيا ووايم د غلو په هکله مې باور نه لاره، ځکه چې زه پخوا هم په دغه لاره تېر شوی يم او يو ځل هم پر غلو نه يم اوښتی.



Ketabton.com



اوسکار فون نيدرمايرد حاجي ميرزاحسين په بڼه

په يوځای کې يو څو کسانو له کنډوالو څخه پر موږ راټوپ کړ. دغه کسان وسله وال وو، دوی موږ ته د "بګرد... بګرد... (راوګرځئ... راوګرځئ) چيغې وکړې هوايي ډزې يې وکړې او له نورو ځايونو څخه هم يو څه کسان راووتل او د درېدلو امر يې وکړ اوس نو تورتم و خو ايله اوس پوی شولو چې د دښتو د غلو يوه لويه ډله راڅخه تاو ده. څرنګه چې موږ د تېښتې لاره نه لرله موږ سم ډزې وکړې د هغوی له خوا هم سمې ډزې پيل شوې په دغه لړ کې ګڼه ګوڼه او فرياد جوړ شو زما ملګري راڅخه ورك شول هڅه مې وکړه چې په (کاروان سرای) کې ځان پټ کړم چې د شا له ډډې ګذار راباندې وشو زه سمد لاسه بې سده شوم کله چې په سد شوم نو ومې



Ketabton.com

لیدل چې د څارویو په منځ کې پروت یم غوښتل مې چې خان یوې بلې ډډې ته کړم چې د څاریو تر پښو لاندې نه شم دغو غلو زه هم د هغو نورو کسانو سره یو ځای کړم خو ؤی نه ترلم زما ملګري ماته وویل:( حاجي، ښه دی چې ژوندی یې!) د هغه له سره ویني بهېدلې او نیم برینډ و هر څه ترې غلا شوي و. د غلو مشر مورږ ته وویل چې باید پر مخکه اوږده وغزېږو. دا زما د خان لومړی خانګړی لټون و. زه حیران شوم چې هغوی څومره په ښه توګه داکار وکړ. هغوی له مانه هر هغه څه واخیستل چې راسره وو ما وکولای شول چې خپل راسره (سره) چې د پتلون په ملا وستې "کمر بند" کې راسره وو، له ځانه لاندې په مځکه کې ښخ کړم. له دغې لوټونې وروسته مورږ په دښته کې له وچو لکړو سره روان وو درې ساعته وروسته په ساویه کې د سپرو یوه لویه ډله مخې ته راغلله سمدلاسه مې له ډاره سره روسي پوځ و پېژاند په دغه رڼا ورځ پتهدل نا شاونی کار وو مورږ د هغوی له خوا ودرول شولو او زه یې د یو مشر کس په توګه خپل افسر ته وروستم له ماځخه په یوه ماته پارسي ژبه کې بېلابېلې پوښتنې وشوې دغو خلکو مورږ ته خپلې نقشې هم راوښودلې چې زما لپاره ډېرې ګټورې وې د دوی د خبرو له مخې د روسانو له حالاتو څخه زه نور هم ښه خبر شوم ما یوازې همدومره کولای شول چې خان یو څه کوږ او ګونګ ورځرګند کړم او زما د مات سر له امله دغه خبره روسانو ته هم د باور وړ وه کله چې ماته هغه نقشه راوښودله شوه نو ما خپلې خیرنې ګوتې هسې یو خوا او بل خوا پرې وګرځولې چې دې کار روسي افسرانو هم یو څه وخندول خو زما لپاره د خندا حالت نه و. له و یو ساعت وروسته زه راپرېښودل شوم تر هغو چې وتلم له یو روسي عسکر څخه مې دیو سګرت غوښتنه وکړه ایله مې یو څه سا پر ځای شوه.

څو ساعته وروسته مورږ ساویه ته ورسېدلو چې د یونیم سلو په شاوخوا کې روسانو په لاس کې وه د ترکانو څه پته نه لګېدله.

وروسته له یو کاروان سره یو ځای شولو چې د همدان پر لور روان و. ماله هغوی سره پر بېلابېلو موضوعګانو خبرې وکړلې زما نوم حاجي میرزاحسین و داچې له دغو خلکو سره یو ریښتینې حاجي هم و نو دوی زما لپاره خطرناك کېدای هم شول.

د پارس له اولس سره د جرمنانو په اړه ډېر ښه نیت موجود و. خوبیا هم زایلر ته خطر متوجه و ځکه چې هلته په جرمني کونسلګرۍ او خلکو د بریدونو وېره کېدله عام اولس ځکه د جرمنانو پلوي کوله چې فکر یې کاوه ښایي په دې توګه حکومت هم بدل شي او دوی ته هم څه لاس ته ورشي ددغو پېښو او په دې هېواد



Ketabton.com

کې د نورو حالاتو په رڼا کې د جرمنانو کارونو ورو ورو پرمختګ کړی وای. د دښمنانو له خوا دغه خپره شوې خبره چې زایلر به ډېرې زیاتې پیسې لګولې ناسمه وه. هغه ته چې د سیاسي چارو لپاره څومره پیسې ورکړل شوې وې د دغو چارو د پرمخ بیولو لپاره ډېرې لږې وې خو روسانو او انګرېزانو د هغه د لګښتونو د اندازې په اړه ډېره مبالغه کړې وه. انګرېزانو په اصفهان کې یوه ډېره مهمه برخه یو اوږده وخت لپاره په لاس کې لرلې وه دغه سیمه د باختریانو په مرسته کلکه وه سره له دې چې په څرګنده توګه د جرمني کسانو شمېر لږ و خو دښمنانو په دې اړه هیڅ فکر هم نه کاوه چې د دوی پر ضد کوم تیرې کوونکی برید وکړي څکه چې داسې یو برید به د ولس افکار پارولی او خپلې واکمنۍ ته به یې هم خطر ترې پیدا شوی وای. کله چې (جاندارمې) پرېکړه وکړه چې له ښار څخه ووځي نو په ډله کې ورسره زایلر هم د سپتمبر په لومړیو کې تهران او اهواز Ahwas ته لاړ دا چې د دښمنانو له شړلو وروسته د جرمنانو هڅو ته د پای ته رسېدو په سترګونه شول کتل کېدای خو اصفهان زموږ په لاس کې و...

افغانستان ته د یون امر په داسې وخت کې زایلر ته وشو چې په اصفهان کې د هغه سیاسي هلې ځلې پای ته رسېدلې وې افغانستان ته د یون لپاره د هغه سامانونه هم دومره لږ وو چې چندان ګټه نه شوه ترې اخیستل کېدای. خو افغانستان ته د یولوی بار د ورتېرولو امکانات هم ډېر لږ وو څکه چې د روسانو او انګرېزانو له خوا د څو زره کسیزې ډلې او یو کلك استخباراتي سیستم په وسیله ټینګه څارنه کېدله د هغوی پر ضد د لسو جرمنانو، دیرشو اتریشیانو، پنځلسو افغانانو او سپکو وسلو شته والی ډېر عادي او کمزوری و. له پولې څخه په ښکاره ډول د تېرېدلو امکانات نه وو دوی کولای شول چې د دښمنو پوځونو له څارنې څخه په کوم چل ول تېر شي د نوامبر په څلوېښتمه زایلر، زما ورور والدمن Waldman فوس Fos او فیشتېنګ Fasteng د لسو اتریشیانو پنځو افغانانو او منشي سید حبیب الله (چې چندان سپېځلې سړی نه و) په ګډون اصفهان پرېښود. له دوی سره د پوځې ډلې ټول سامان مل و. له لومړیو وختونو تکې ورته باروړونکو څارویو ډېرې ستونزې پیدا کړې وې. دا چې په دې وخت کې له پولې اخوا په زړه پورې خبرونه رارسېدلي وو نو زایلر پرېکړه وکړه چې له دې خایه مخامخ د ختیځ پر لور لاړ شي څکه چې په لاره کې یې له انګرېزانو څخه ډار لازه د ده پلان په یزد کې د انګرېزانو د یو تلګراف د لیدلو له امله تکنی شو. هغه له خانه سره د زېسنس یوه زړه راډیو هم لرله چې پیتری یې له کاره لوېدلې وې. ده ته له ډېرو ورځو وروسته



Ketabton.com

بافك ته دتګ امر وشو خو په همدغه وخت کې د اصفهان له کونسل څخه زایلر ته یو خبر راورسېد چې نوموړی یې له دغو ټولو پلانونو څخه تېر کړ.

زایلر د ډسمبر په شپاړسمه نېټه له ټول کاروان سره د یزد او بهرام آباد له لیارې کرمان ته لاړ چې د دسمبر په ۲۶ مه نېټه له خپل کاروان سره هلته ورسید. لوستونکي دې د زایلر لیکنې ته پاملرنه وکړي:

"د ۱۹۱۶ کال د جنوري په دویمه نېټه د سهار په شپږو بجو باید له کرمان څخه یون پیل شوی وای دلته باید موږ څرګنده کړی وای چې خوشاله یو موږ ته ویل شوي وو چې زموږ سفر اسانه دی خو وروسته راته ښکاره شوه چې کرمان د کاونډیو کلیو په اړه موږ څه معلومات نه لرل. د جنوري په اتلسمه نېټه سهار دوخته زه خپل یو ساتونکي راویښ کړم او راته وی ویل چې لږ څه وړاندې څلوېښت تنه سپاره تېر شول کله چې د ځارنی پوستې ته وروختلم نو ما یې له ورایه یوازې سرونه لیدای شول دا چې دوی له لویدیځ څخه راغلي وو نو موږ فکر وکړ چې دا به زموږ اتریشي ملګري وي د احتیاط لپاره مو یو تن هغه کلي ته ورولېږه چې په دې اړه معلومات راوړي کله چې دغه سړی کلي ته نږدې شوی و نو دری تنه سپاره ترې راچاپېره شول او هغه یې ونیو اوس نو هیڅ شك نه و پاتې چې دغه خلك انګرېزان وو دوی په دغه سیمه کې زموږ په لټون بوخت وو او د هغه تن له نیولو سره سم زموږ پر لور راروان شول اوس نو باید موږ خانونه په بیړه چمتو کړی وای ماسمدلاسه د شاته تګ امر وکړ"

له کرمانه د دښمنانو له ویستلوسره سره د جرمنانو حالت غوره او محفوظ نه و. په شمالي او لویدیځ پارس کې روسانو خپل پوځ زیات کړی و او د ترکانو او پارسي ناسیونالیستانو سره په جګړو بوخت وو د مارچ پر څوارلسمه د زایلر ډلې په کوځو کې جګړه پیل کړه د جنګ په وخت کې پوځي قوماندانان ښارونو ته وتښتېدل او مړي یې ځای پر ځای پرېښودل.

اوس نو زایلر د ختیځ پر لورې یون ته زړه ښه کړی و دلته روسان او انګرېزان سره یو لاس شوي وو کله چې د روسانو له خوا د یزد د نیولو ګواښ زیات شو نو زایلر پرېکړه وکړه چې د پوځي ډلې پاتې سامان دې شاته د سیداباد او شېراز په منځ کې کوم ځای ته ورسول شي چې دغه سیمې په باوري توګه د جرمنانو په لاس کې وې. زایلر په یو ځای کې داسې لیکي:

د اپریل په ۱۴ مه نېټه موږ هرات ته ورسېدلو زموږ څلروي ډېر ستړي وو او موږ له ډېره وخته واښه هم نه وو ورکړي. د خپلې ډلې ډاکټر، بیکرمې په دې ځای



Ketabton.com

کې د وروستي ځل لپاره ولید په هرات کې مو له کرمان وروسته یو غوره هر کلی ولید د دغې سیمې د قوم مشر موږ مېلمستیا ته و بللو. فکر کوم دغه مشر له هغو خبرو څخه زیات او ژور پوهېده چې له موږ سره یې کولې هغه موږ ته خبرداری راکاوه چې د خپل یون په سیمو کې له زیات سوچ او احتیاط سره مخ په وړاندې لاړ شو. د اپرېل په ۱۵ مه نېټه موږ د دوو تانو پر لاره تګ پیل کړ چې اوس هېڅوک هم په کې نه وو له یوولسو ساعتو مزل وروسته یوه کلي ته ورسېدلو چې د غره په اړخ کې پروت و ددغې کلي ښځې ډېرې ښکلې وې سره له دې چې دغه وخت د پسرلي موسم و خو موږ دلته د پاتې کېدلو د وخت داړولو کار له خطره ډک ګاڼه. په بله ورځ د لمر له راختلو سره سم موږ دمه جوړه کړه دا یو وړوکې کلی و چې ارزنجان Arsendschan نومېده. کله چې دلته مو د عربو خېمې ولېدلې نو موږ هم د سهار په نهو بجو له پنځلس ساعته سترې مزل وروسته یو کنډواله شانته سرای ته ورننوتلو دشپې په دوو بجو موږ د ډزو پر اوازو له خوبه راویښ شولو خلکو موږ ته ویل چې وارخطا کېږئ مه دا ددې ځای د پولیسو احتیاطي ډزې دي...

په هر ډول چې و، موږ غوښتل چې ځانونه شېراز ته ورسوو لاتیاره نه وه خپره شوې چې د شېراز پر لور وخوځېدلو له اووه ساعته مزل وروسته یوې داسې سیمې ته ورسېدلو چې زیاته لمده او له ختیو ډکه وه زموږ لاربښود د هرات یو درویش و له څه مزل وروسته مو خپله لاره بېرته بدله کړه په ډېره خوارۍ مې له دغه لاربښود څخه ځان خلاص کړ دغه سړي له درېو ورځو راهیسې خپل اپین نه وو خوړلي. دری ساعته په همدغه شاړه سیمه کې سرګردانه وو. په بله ورځ سهار چې ما لنډ شانته چکر وواهه د یو افغان له خولې مې واورېدل چې یو زیات شمېر سپاره راروان دي ژر تر ژره مو خپل بار وړونکې څاروي کلاته راننویستل او له دغو سپروسره مو ډزې پیل کړې اوس موږ کلابند (محاصره) شوي وو زموږ یو څاروی د دروازې په خوله کې په ګولۍ لګېدلی و دا چې موږ د ډوډۍ د خوړلو لپاره څه نه لرل نو غوښتل مې چې څاروی کلاته رادننه کړم. زموږ د ډلې یوتن هم دې ته زړه نه ښه کاوه چې دا کار وکړي کله چې مو پام شو سپاره زموږ پر لور همداسې رانږدې کېږي او نور هم ورپسې راروان دي نو زموږ یو شمېر ملګرو په یوه کلکه جګړه هغوی پر شاتګ ته اړ کړل په دغه جګړه کې له موږ څخه زیات شمېر څاروي وژل شوي وو. اوس نو موږ باید دغه ځای پرېښی وای خو پوښتنه داوه چې له دې سیمې څخه څنګه وتلې وای له دې ځای څخه د وتلو یوازې یوه لاره وه او هغه هم زموږ د غلیمانو په لاس کې وه خو دغه زړورتیا مو باید کړی وای. موږ په دې اړه سوچ کاوه



Ketabton.com

چې ايا خپل سامان هم له ځان سره واخلو كه څنګه؟ موږ ته داهم په زړه پورې وه چې يوازې له خپلو اسونو سره له دې ځايه وتلې واى له ډېرو جګړو وروسته موږ د ژاندرما (جاندرما) په مشرۍ شېراز ته وروړسېدلو د "ارګ" په خوله كې مو له خپلو څارويو سره مخه ښه وكړه په دغه ځاى كې موږ د پوليسو له خوا ونيول شو او بنديان شولو دمى په اتلسمه د بلوچستان ډله هم د څو ګماير په مشرۍ دلته راورسېدله او له رارسېدلو سره سم بندي شوله څو ګماير غوښتل چې د بام له لياري زموږ له ډلې سره اړيكې ټينګ كړي شېراز ته اوس نوى ګورنر "فرمانفرما" له يو څو انګرېزي افسرانو سره رارسېدلې و. دغو افسرانو د پارسي پوليسو د زده كړو مسووليت او لګښتونه پر غاړه اخيستي وو...

زايلر او ملګرو يې د تېښتې د پلان په چمتو كولو كې څو اوونۍ تېرې كړې د تېښتې لپاره سم وخت او وړ ګام اوچتول پكار وو. دوى بايد د څوكيدار له خانګرتياوو خان خبر كړي واى دوى بايد داسې يو شمېر كسان موندلې واى چې دوى ته يې سيمه ييز كالي (لباس) چمتو كړي واى ددې لپاره ډېرې پيسې په كار وې زايلر غوښتل چې د پارسيانو په لباس كې له زندان څخه ووځي تر ټولو غوره وخت هغه و چې شپه وي او څوكيداران خپلې څوكۍ (پېره) بدلوي د زايلر له يادښت څخه به يې ولولو:

" د ماښام له ډوډۍ وروسته حسن چې زما ملګرى و زما بكس لاندې ښكته كړ او ما ته يې وويل چې په لاره كې د تلاشۍ په وخت كې به ځان د هغه د ملګري په توګه وربېژنم. كله چې تلاشۍ ته ورسېدلو نو د يو پوليس په امر تېر شولو. دغه پوليس دنوموړي ملګرى و. بيا مو نو ژر تر ژره ملګرو سره مخه ښه وكړه او له دروازې ووتلم سګرټ مې ولګاوه او زړه مې د رزا پيل كړه ماته مخامخ يو سړى راروان و چې د همدغې سېمې استوګن ښكاريده څرنګه چې سترګې مې پر سترګو نه وې نو لاره مې ښه نه ليدله حسن مې بيرته په خپلې ډلې پسې ورولېږه چې راوى باسي هغوى هم راغلل، بيا نو له حسن څخه له مننې وروسته د ښيو پر لور روان شولو د شېرا ز پر يوه لاره كې هغه وخت ډېر زيات وډارېدو چې كله مو اته تنه سپاره مخې ته راغلل موږ د يوې غونډې شاته ځانونه پناه كړل هغوى يو خوا او بله خوا وكتل او پر خپله مخه لاړل په لسو بجو موږ د اصفهان پولې ته ورسېدلو. حسن ويلي وو چې اصفهان ته يوازې نيم ساعت لاره ده خو موږ له نيم ساعت څخه زيات مزل وكړ..."



Ketabton.com

له دي ځايه څخه زايلر له خپلو ملګرو سره "فاردومبه" Faredumbeh ته روان شول په همدان کي د ترکانو د ماتي له امله يوه اوونۍ دوی همدلته پاتي شول.

زايلر د خپل يونليك په يوه برخه کي داسي ليکي:

" له (کاريز) څخه موږه د يکشنبې د ورځي د سهار په شپږو بجو روان شولو شپه بنه تېره شوی وه او له همدی کبله موږ بنه په بېړنۍ توګه سفر کولای شو له يو څه وخت مزل وروسته د اصفهان په شمال کي يو سيند ته ورسيدلو له دغه سيند څخه په تېرېدلو کي موږ ته زياتي ستونزي رامخي ته شوي موږ بايد په څنګ کي په يوه پراته کلي ته تللی وای چي د تېرېدلو لاره مو پيدا کړی وای زموږ د ډلي لارښود نصرالله په لاره کي له يو چاسره په شخړه اوښتی و دغه سړی يو روسي قزاق و زموږ کارونه نور بنه وو. خو يوازينۍ بدمرغي مو داوه چي لاره مو ورکه کړی وه. نه راته د لاري پيل ښکاره و او نه هم پای تول په دي فکر کي وو چي دا څه کاته راباندي شوي ده؟ خو وروسته زما پر وړانديز تول پر هماغه لاره روان شولو چي پري راغلي وو له څه مزل وروسته موږ اصفهان ته نږدی شولو په دي توګه نو موږ اوس د دښمنانو په منځ کي پراته وو خو اوس موږ په دي ډاډه وو. دغي بې اوبو دښتي ته په موږ پسي څوك نه راځي".



Ketabton.com

(۱۸)

# د یون پای
# او
# د سفر د پلونو نښې

د ۱۹۱۶ کال له بدلېدلو سره په دغو غرنیو سیمو کې دوه جرمني پوستې ځای پر ځای وی یوه یې د شیراز اوبو شهر په غرنۍ سیمه کې وه چې اوس یې هم مشري د واس موس پر غاړه وه بله هم د افغانستان په لویدیځ کې وه هلته په هرات کې واګنر زما لارښودنې پلې کولې. واس موس په دې پوه شوی و چې خپله پوسته تر ۱۹۱۸ کاله پورې باید وساتي سره له دې چې له ده سره څه ځانګړې (فوق العاده) وسلې نه وې خو بیا یې هم په بوشهر کې له پرتو انګرېزانو سره کلکه مبارزه کړې ده دده په هکله د مخالفینو خبري اژانسونو او مطبوعاتو دجنګ په مهال کې زیات خبرونه خپرول زه د هغه د هلوځلو په هکله اوردې خبرې نه شم کولای ځکه چې همداسې یو بل کتاب ته اړتیا پیدا کېږي، خو یوه خبره چې زموږ د مخالفینو له خواه ویل شوې ده هغه راوړوم په "ډیلي میل" نومې ورځپاڼه کې لیکل شوي وو:

" واس موس د سړو خلکو (ظالمانو) د خطرناکو جرمني موخو د پلي کولو لپاره په دغو سیمو کې د ظلم یو سمبول دی د ۱۹۱۴ کال د نوامبر په میاشت کې موږ هڅه کړې ده چې نوموړی ونیسو خو دی له موږ څخه لکه د یو غشي په توګه ورک شو نوموړی زموږ لپاره یو جنګي ګواښ او یو سیاسي ګواښ و چې موږ باید ورسره لاس او ګرېوان شوی وای هغه خپل کارونه په یوازې ځان په ښه توګه تر سره کول له. له دې امله باید موږ په پارس کې انګرېزي ځواکونه زیات کړي وای سره له دې چې موږ خپل هر یو تن سرتېري ته په بل ځای کې زیاته اړتیا لرله)

په هرات کې پرته پوسته باید موږ د ډېر وخت لپاره ساتلې وای ځکه چې انګرېزانو په دغه سیمه کې. د خپلو ګټو پر بنسټ ناوړه موخې لرلې. په پارس او الجزیره کې د راتلونکي پېښو له امله دغه پوښتنه د ذخیره ځای او ډیپو په توګه هم د پاملرنې وړ وه په دغه ځای کې د افغانستان ډلې خپل ارزښتناک سامانونه او لوازم ذخیره کول له افغانستان سره له ښو اړیکو سره سره واګنر پارس ته تللی و دا



Ketabton.com

چې افغانانو ورته ډېره لېره د ګرځېدو راګرځېدو ازادي ورکوله او دی له پوځي اوسیاسي حالاتو څخه زیات نه خبرېده نو هغه له څوتنو اتریشیانو او افغانانو سره وکولای شول چې له پولې واوړي په جنوبي خراسان کې نوموړي د پارسیانو له خوا کلا بند شوی و او له هغوې سره یې ډېرې جګړې کړې وې واګنر د شمال له لیارې لومړی تهران او بیا د کردستان له لیارې ترکیې ته تللی و چې د ۱۹۱۸ کال په پای کې یې هلته زما لټون کاوه په افغانستان کې اوس زموږ ګټې او هیلې اتریشي ملګرو سرته رسولې.

دا پارس او افغانستان ته د جرمني د پوځي ډلې د یون پای و چې غلیمانو ته یو ګواښ و که نن سړی ددغو جګړو په اړه د انګرېزانو کتابونه ولولي او زموږ په هلکه په کې کومه یادونه شوې وي نو کنځلې او ترټنې به ورسره یو ځای وي دغه خبرې له یو "جنټلمن" اولس سره نه ښایي خو هغه کتابونه چې له جګړې وروسته کښل شوي دي په هغو کې ددغې پوځي ډلې د کړو وړو په هکله یو څه رښتینې خبرې شوې دي.

موږ په لږو پوځي امکاناتو سره باید لویې سیاسي او پوځي بریاوې تر لاسه کړي وای موږ باید له هغه څه څخه چې وو زیات او ستره څرګند شوي وای په دې توګه نو باید موږ لاپې او باتې وهلې وای. نن دا خبره بیخي څرګنده ده چې دغه کارونه مو په ډېره ښه بڼه تر سره کړي دي. کېدای شي چې له دغې ډلې سره دغه هوښیارتیا ملګرې وه چې وکولای شي انګرېزان و داروي په هغه مهال کې د محوري ځواکونو او مذهبي سپېڅلي جنګ په اړه سړي له مخکې څه اټکل نه شوای کولای. د جرمنانو دغه ګوزار د انګرېزي ښکېلاك په داسې یوه حساسه سیمه کې و چې هلته انګرېزي او روسي ځواکونه په یوه او واحده ګته کې نه شول سره یوځای کېدای. دغه راز هلته ډېر دښمن اولسونه سره اوسېدل چې د بدل اخېستلو او خپلواکۍ په تمه ناست وو دا هغه لاملونه وو چې زموږ پوځي ډلې خپل ځان دغې جغرافیایي سیمو ته ورساوه او هلته مو خپل دښمنان له یو شمېر ماتیو سره مخامخ کړل که سړی اوس ددغې پوځې ډلې هلو ځلو ته ګوري نو باید دې خبرې ته هم پاملرنه وشي چې دغه هڅې له خپل هېواد څخه ډېرې لیرې وې او موږ هلته کوم پخوانی پوځي بنسټ نه لاره موږ باید هلته خپله ځان ته لیاره موندلې وای په داسې حال کې چې دښمنانو په لسګونو کلونه هغه ټولې سیمې پېژندلې او د څارګنۍ پیاوړی سیستم یې درلود داچې د منځني پارس ځینې دغه سیمې زموږ په لاس کې



Ketabton.com

وي او دغليمانو اغېز مو له منځه وړی و او ددغو ځايونو د استوګنو ولسونو نظر مو پر خپله خوا را اړولی و تو دا زموږ لپاره يوه د پاملرنې وړ بريا وه.

دلته بايد زه خپلو لوستونکيو ته يو څو تکې څرګند کړم سرايډموند بيرو Sir Edmnnd Barraw د هند د کونسل غړی چې د الجزيرې په هلکه يې ويلي وو " زه بايد ددغې خبرې سپيناوی وکړم چې له کوت Kut څخه کيسپون Ktesiphon ته زموږ يون او بريد له دې امله وچې موږ په داردانيلين Dardanellen کې خپله ماتې جبران کړو. بايد ووايم چې زموږ دغه بريد په پارس کې د حالاتو په اړه او دغه راز هند ته يو خطر و دا داسې يو وخت و چې هند په يو کمزورې پوځي دريځ کې و د هند په پولو کې د مسلمانانو د راپيدا شوې ګواښ له امله موږ په تشويش کې وو. او دغه زياتره ګواښونه د پارس او افغانستان له پولوسره موږ ته متوجه وو"

په پارس او افغانستان کې ددغې پوځي ډلې د هلوځلو پايله له اوږدو جګړو وروسته په ښه توګه ليدل کېدای شوه. دا به د هند د حکومت (سيمله) او د انګرېزي جنګي دفتر (سپين ټالار)** له مخالفتونو څخه ښکاره کېدای شول څرنګه چې د هند په شمال لويديځه سرحدي صوبه کې د جرمنانو او اسلام اغېز زيات و نو هغوی دې ته اړ وو چې د اوږدې مودې لپاره په دغه سيمه کې پياوړی جنګي ځواک وساتي او خپل پوځونه له نورو پوځي ډګرونو څخه را جلا او دلته يې راوغواړي هغوی په پارس او افغانستان کې د مخالفينو سياسي هڅې ډېرې سترې ګڼلې چې د جنګ له دفتر سره په ټکر کې راتللې. خو زموږ لپاره دې خبرې توپير نه لاره چې کوم اړخ يې په دې اړه رېښتيني و. موږ ته له دغو پېښو څخه په ښه توګه جوتېږي چې ددغې پوځي ډلې کاورنه ستر ګڼل کېدل زموږ د د ښمنانو د نظر له مخې خو زموږ هڅې له هغه وروسته هم رواني وې چې زموږ کار پای ته رسېدلی و. له جګړې وروسته په افغانستان او پارس کې د خپلواکۍ غوښتنه زموږ د هڅو د اغېز يوه برخه وه. دغه راز زموږ د هڅو له مخې په دغو سيمو کې د انګرېزانو او روسانو لويې تېروتنې څرګندې شوې. دغو هڅو ډېرې نورې پياوړې اغېزې لرلې چې له جګړې پخوا ورته موږ هيڅ ډول سياسي يا پوځي چمتووالی نه درلود.

سره له دې چې زموږ ددغې جرمني پوځي ډلې د پښو پر پلونو زيات ګردونه لوېدلي او اوس هغه پلونه ورک شوي دي خو موږ دوه ويشت زره کيلومتره په سوزنده دښتو او شاړو سيمو کې اوږده سفرونه کړي چې ښايي بيا به يې کوم اروپايي په اسانۍ سره تر سره نه کړای شي. اوس موږ په دې پوهېږو چې زموږ دغه هلې ځلې او سربښندنې بې ګټې نه وې.

---

** White Hall



Ketabton.com

# نښلونې

## افغانستان ته د جرمني پوځي ډلې د سفر په وخت کې څو مهم تاریخي لاسوندونه (اسناد) او تړونونه


Ketabton.com

د اوسکار فون نیدرمایر پر دغه یونلیک چې تاسو یې متن ولوست د رنیاتا فوګل (Rinte Vogel) په نوم یوې مېرمنې یو علمي کتاب لیکلی دی ددغه کتاب نوم دی «پارس او افغانستان ته په ۱۹۱۵ - ۱۹۱۶ کې د اوسکارفون نیدرمایر د پوځي ډلې یون» د پوځ د تاریخ پوځ پوهنې او د شخړو څېړنې په اړه د جرمني د منونستېر د ښار د "ویلهلم" په پوهنتون کې ددغې موضوع په اړه نوموړې علمي اثر د یادې شوې لیکوالې د لوړو زده کړو د څېړنیز اثر (پایلیك) په توګه لیکل شوی دی دغه اثر په ۱۹۷۲ کال کې په پوهنتوني سطحه چاپ او خپور شوی دی.

مېرمن ریناتا فوګل په خپل دغه څېړنیز اثر کې پارس او دافغانستان ته د جرمني د پوځي ډلې د یون پر موخو ماتو او بریاو په تفصیل سره بحث کړی دی او د پوځي او ستراتیژیکو څېړنو په رڼا کې یې د فون نیدرمایر ددغه یونلیك جاج اخیستی دی په کتاب کې مېرمن فوګل دغه خبره څرګنده کړې ده چې د نیدرمایر په یونلیك کې د دوی د خبرو اترو او د یون ځینې پټ او بنسټیز اړخونه نه دي لیکل شوي دغې خبرې ته خپله نیدرمایر هم په خپل یونلیك کې اشاره کړې ده نو موړې مېرمن هڅه کړې ده چې ددې سفر دغه بنسټیزې برخې هم یو څه رابرسېره کړي او بحث پرې وکړي. زما په نظر دا غوره وه چې د نیدرمایر د یونلیك په پای کې له دې کتاب څخه هم یو څه مهم لاسوندونه (سندونه) په پښتو را وژباړم او په دې ډول ددې پوځي ډلې د یونلیك ارزښت نور هم زیات شي. ما له دې کتاب څخه په پیل کې په ډېر لنډیز سره د امیرحبیب الله خان د واکمنۍ په بهیر کې له انګرېزانو سره د اړیکو او د جرمني ددغې پوځي ډلې په اړه د هغه د نظر او هدفونو په باب د لیکوالې د څېړنې ځینې برخې ژباړلې دي. بیا افغانستان ته د جرمني پوځي ډلې د یون د بریاوو یو څو مهم تاریخي لاسوندونه راغلي دي تر کومه خایه چې ماته معلومه ده دا به لومړی خل وي چې زموږ په افغاني مطبوعاتو کې دغه تاریخي سندونه دبشپړو متنونو په توګه خپرېږي لیکوالې دغه سندونه د جرمني د بهرنیو چارو له وزارت او ارشیفونو څخه تر لاسه کړي او په خپل کتاب کې یې راوړي دي. هیله لرم چې د دغو برخو پښتو ژباړه به دغه کتاب نور هم ستاسو لپاره په زړه پورې کړي.

«خوشال انځور»



Ketabton.com

# امیرحبیب الله خان
# انګرېزان،
# روسان
# او د جرمني پوځي ډله

د حبیب الله د واکمنۍ له پیل سره د افغانستان په اړه له انګرېزانو سره دا ډار پیدا شوی و چې افغانستان به په اسیا کې د هغوی له ستر غلیم روسیې سره ځان نږدې کړي او له همدې امله دوی ته په هر ډول چې کېدای شوای د افغانستان ملګرتیا ورته مهمه وه او له دې څخه ورته دا غوره وه چې له انګرېزي هند سره یو ځای شوي وای او د هند په دفاعي سیستم کې داخل شوی وای.

حبیب الله د خپلو خلکو پر فکر د پوهېدلو او په دې خبره د پوهاوي له امله چې کېدای شي کرزن (د هند مرستیال واکمن) یې په دې اړه تړونونو ته اړ کړي. انګرېزي هند ته د هغه بلنه ونه منله. نوموړي دغه بلنه له دې امله رد کړه چې مرستیال واکمن دې د ۱۸۸۰ کال پر تړون بیا ځلي فکر وکړي په جون کې کرزن د دویم ځل لپاره هغه ته د ورتګ بلنه ورکړه د ۱۹۰۲ کال له جون څخه تر اکتوبر پورې دغه دوه لیکونه چې بې ځوابه پاتې شول نو د پاچا مرستیال د اکتوبر په دریمه نېټه ددغو لیکونو ځوابونه وغوښتل. د اکتوبر په پنځمه نېټه د امیر په لیک کې د مرستیال واکمن او دده ترمنځ د لیده کاته په هکله هیڅ نه وو لیکل شوي. دغه کار ایله په نوامبر کې وشو او امیر په کې بیا هم هند ته خپله مېلمستیا رد کړې وه. امیر په دې خبره خپګان څرګند کړی و چې د پلار له مړینې وروسته باید هغه تړون نوی شوی وای.په دغه لیک کې د نورو لیکونو په پرتله د کرزن په وړاندې سخت انتقادي چلند شوی دی په دغه لیک کې د افغانستان په اړه تاریخي شواهدوته إشارې شوې وې چې د مرستیال واکمن دغه ډول دریځ ورته د منلووړنه و.

د ۱۹۰۳ کال د سپتمبر په میاشت کې ایله بیله د انګرېزانو ددغو غوښتنو ځینې برخې ومنلې امیر هند ته د سفر په اړه داسې څرګندونه کړې وه چې دده



Ketabton.com

پرځای به هلته دده کوم زوی یا ورور لاړ شي له بده مرغه دی خپله نه شوای تلای لکه څنګه چې انګرېزان له کابل څخه خبر شوي وو نو ښايي دده له تګ سره دده د واکمنۍ تاج ته کوم ګواښ راولاړ شوی وای کرزن د امیر پر دغه دریځ او وړاندیز په هیڅ ډول نه و خوښ، څکه چې د حبیب الله د زوی یا ورور هلته تګ به یوازې تشریفاتي بڼه لرله خو د مرستیال واکمن لپاره سفر د تړونونو یو سفر و چې یوازې د امیر د ورتګ په ترڅ کې دغه کار کېدای شوای.

داچې کرزن پخوا افغانستان ته د یو انګرېزي پلاوي د تګ پلوي کوله چې له حبیب الله سره خبرې اترې وکړي اوس چې امیر ددغه مرستیال واکمن ټول بلنلیکونه رد کړي وو نو کرزن داسې یوه غوښتنه وکړه چې امیر دې کابل ته د یو انګرېزي پلاوي د ورتګ وړاندیز وکړي په داسې حال کې چې په هند کې خلك د حبیب الله د زوی عنایت الله ورتګ ته سترګې پر لاره وو له دې سره سم باید کابل ته یو انګرېزی پلاوی رسېدلی وای حبیب الله هم ددغه وړاندیز پلوي وکړه.

له امیر څخه د انګرېزانو دغوښتنو مهم ټکی دا وو چې د افغانستان پر بهرني سیاست بشپړ کنټرول ولري او په هغه صورت کې چې روسیې پر افغانستان برید وکړ نو د انګرېزي هند پوځي سالاکارانو ته دې افغانستان ته د تګ اجازه ورکړل شي دغه راز انګرېزانو ټینګار کاوه چې د دوی له خوا افغانستان ته سپارل شوې وسلې دې دافغانستان سرحدي قبایلوته نه ورکوي او په کابل کې دې د انګرېزانو د استازیو حالات ښه او دریځ پیاوړی شي. حبیب الله په دې خبره زیات ټینګار کاوه چې نورې خبرې اترې به هغه وخت تر سره کوو چې له عبدالرحمن خان سره د شویو تړونونو د بدلون په اړه فکر وشي څرنګه چې انګرېزانو دې کار ته زړه نه ښه کاوه نو خبرې اترې اوږدېدای نه شوې. څکه خو د انګرېزي حکومت استازي ( ډان ) Dane ته لارښودنه وشوه چې د امیر غوښتنو ته غوږ کېږدي په کابل کې د ډان له خبرو اترو سره په یو وخت کې انګرېزانو کابل ته د سبسابډي د ورکړې لاره خپله کړه څکه انګرېزان په دې ډارېدل چې حبیب الله غواړي خان د دوی له اغېزو بچ کړي حبیب الله دا وروښودله چې نوموړی د خبرو اترو یو ستونزمن اړخ (پلو) دی له انګرېزانو سره ددغه مخالفت له امله یې په کورني سیاست کې د خان لپاره غوره دریځ ګټلې و. ډېر کلونه یې د واکمنۍ د پای ته رسېدو ګواښ نه تر سترګو کېده کله چې حبیب الله په کورني سیاست کې خپل دریځ پیاوړی کړ او پر انګرېزانو یې د خپلو غوښتنو یوه برخه ومنله نو خپله یې هند ته د میلمستوب خبره رامنځ ته کړه. ددغه میلمستوب لپاره امیر د ۱۹۰۷ کال د جنورۍ په نهمه نېټه د هند اګرې ته ورسېد.



Ketabton.com

په دغه میلستوب کې د انګرېزانو له هر ډول سیاسي خبرو څخه ډډه کوله څکه چې په سن پترزبورګ کې د افغانستان او پارس په اړه د انګرېزانو او روسانو د دریځونو د یو ځای کېدلو خبرې روانې وې د روس او جاپان جګړې پر دغو خبرو اترو خپل اغېز خپور کړ. روسانو فکر کاوه چې د جاپان د دغه سیاست تر شا انګرېزان ولاړ دي فکر کېده چې جاپان نه شي کولای د انګرېزانو له پوځي ملاتړ پرته جګړې ته زړه ښه کړي. د هندوستان حکومت له روسانو سره د انګرېزانو د اړیکو د ښه کېدلو هرې هڅې ته په شك کتل افغانانو هم ددغو هېوادونو د دریځونو د یو ځای کېدلو مخالف وو. هغوی له داسې پټو تړونونو څخه ډارېدل چې کېدای شي هېواد یې ورته تجزیه کړي او یا یې اوسنې حالات خراب کړي. وای د بې احترامۍ خبره خو لا داوه چې په پترزبورګ کې دا خبرې داسې وخت تر سره کېدلې چې حبیب الله هند ته د میلمه په توګه راغلی و. له افغانستان څخه ددغو ډېرو ضروري خبرو اترو په اړه نه پوښتنه شوې او نه یې په دې اړه څه خبرتیا لرله. حبیب الله د خپلې واکمنۍ په بهیر کې د ځان او خپل هیواد لپاره د انګرېزانو له دغه ډار څخه ډېره ګټه اخیستې وه چې هسې نه افغانستان له روسانو سره لاس یو کړي.

مرستیال واکمن، امیرحبیب الله په اروپا کې د جګړې له پیل څخه د ۱۹۱۴ کال د اګست په ۱۷ نېټه خبر کړ او ورته یې وویل چې ناپېلې دې پاتې شي لکه څنګه چې انګلستان غوښتل داسې روسانو هم غوښتل افغانستان دې دجګړې په بهیر کې ناپېلې پاتې شي او نه یې غوښتل چې دوی د انګرېزانو یا روسانو پر ضد جګړې ته لاس کړي. ددغه لیك په ځواب کې امیر د کلك ناپېلتوب ډاډ ورکړ خو د افغانستان اولس پر خپل هېواد ددغې جګړې د اغېز له امله په تشویش کې و او زیاترو داسې انګېرله چې روسانو پر افغانستان د یرغل کوم پلان جوړ کړی دی. د هند مرستیال واکمن امیر ته ډاډ ورکړ چې که چېرې تاسو ناپېلي پاتې شئ نو روسان پر تاسو د برید خیال نه لري. مرستیال واکمن غوښتل امیر په ښېړنۍ توګه په دې وپوهوي چې دې جګړې ته د ترکیې راداخلېدل کوم دیني او مذهبي لامل نه لري دغه جګړه د لږه ګیو له خوا د ډیره ګټو پر ضد پیل شوې ده انګلستان او فرانسه به د مسلمانانو سپېڅلي ځایونه وساتي په لومړۍ نړیواله جګړه کې افغانستان ته د جرمني پوځي ډلې ورتګ د افغانستان او انګرېزانو پر اړیکو اغېز څرګند کړ. هلته د دوی له ورلېږلو سره سم دا ډار پیدا شو چې دوی به پر دی وتوانېږي چې پارس او افغانستان جګړې ته راکاږي په هغه سیمه کې د ترکانو هلوځلو ته چا دومره اهمیت نه ورکاوه لکه د جرمنانو دغې ډلې ته یې چې ورکاوه. داځکه چې تر شایې د



Ketabton.com

جرمني د دولت سياسي، مالي او پوځي ځواك ولاړ وه. د ۱۹۱۵ د جولای پر شپږمه نېټه مرستيال واكمن امير ته خبر وركړ چې جرمني استازي په دغو هڅو ليګيا دي چې افغانستان ته درشي او هلته كړكېچونه راپيدا كړي او لكه د پارس په څېر به دغلته هم هڅه كوي چې تاسو جګړې ته راګډ كړي. نوموړي له حبيب الله څخه غوښتنه وكړه چې دغه پردي كسان ژر تر ژره ونيسي. هارډينګ Hardinge ددې كار مخالفت وكړ چې دغه جرمنان دې هندوستان ته وروسپارل شي ځكه چې افغانستان خپل ناپېيلتوب اعلان كړی و او له امير سره يې دا فكر پيدا كاوه چې دوی غواړي دده او د جرمني دولت تر منځ شخړه پيدا كړي حبيب الله، مرستيال واكمن خوابدی نه كړ او تر اوسه هم ناپيلي پاتې و. سره له دې چې په هرات او كابل كې بې ددغې ډلې آزادي يو څه محدوده كړې وه خو ددغې ډلې غړي په هيڅ ډول بې وسلې او بنديان نه شول امير مرستيال واكمن ته وويل چې دی به په هر ډول ناپېلي پاتې كېږي خو خپله غواړي پوه شي چې جرمنان څه ويل غواړي.

اوس نو حبيب الله ددغې ډلې له غړيو سره خبرې اترې پيل كړې وې او له هغوی سره د مالي او پوځي مرستې په اړه غږېدلې و. د هند حكومت په افغانستان كې د خپلو استازو له لياري خبر شوی و چې دغې ډلې د افغانستان پر پوځ د انتقاد له امله ډېر دښمنان پيدا كړي دي امير بايد په دې پوه شوی وای چې دهند مرستيال واكمن دده د ناڅرګند سياست مخالفت كوي. سره له دې چې دامير دغې ډلې چندان پايله ونه لرله چې دغه ډله د انګلستان پر ضد ولوېوي خو بيا يې هم ددې ډلې وتل نه غوښتل اوس يې هم دا هيله لرله چې داسې يوه شېبه تر لاسه كړي چې دغه ډله د فشار د يوې وسيلې په توګه وكاروي له فون نيدر ماير او فون هينتينګ سره په خبرو اترو او له مرستيال واكمن سره د ليكونو له لياري، د سولې په كنفرانس كې د استازيتوب خبره ډېره مهمه وه. مرستيال واكمن په دغه وخت كې امير ته په يو ليك كې كښلي وو چې افغانستان د سولې په كنفرانس كې برخه نه شي اخيستلې ځكه چې دغه هېواد په جګړه كې نه دی داخل، خو ددې په څنګ كې انګلستان دا ډاډ هم وركړ چې دسولې په يوه كنفرانس كې به هم د افغانستان د هيلو پر ضد كوم څه تر سره نه شي. د جرمني دغې پوځي ډلې له وتلو وروسته، د هند حكومت د امير په وړاندې خپل دريځ پياوړی ګاڼه. هندوا نو اوس د افغانستان ددغه دريځ په وړاندې هغه ته خپل زور ورڅرګندوي اوس يې نو د هغه پر دريځ په څرګنده توګه نيوه كې پيل كړې.

داچې د روسيې د نوي سياست او په جګړه كې د جرمني د ماتې له امله د



Ketabton.com

انګرېزانو دريغ پياوړی شوی و نو اوس حبيب الله نه شواى کولاى چې هماغې نا څرګند دريغ او سياست پر مخ بوځي. اوس نو ده ته ښه موقع په لاس ورغلې وه چې له انګرېزانو سره جګړه پيل کړي داسې يوه جګړه نصرالله، امان الله، عنايت الله او محمود طرزي له پخوا څخه لاغوښتله. سره له دې چې انګلستان ددغې جګړې په ګټونکيو کې شمېرل کېده خو بيا هم کمزوری شوی او له جنګ څخه ستړی شوی و او ښايي نوي جنګ ته يې زړه نه واى ښه کړاى. خو حبيب الله اوس هم له انګرېزي هند سره په جګړه کې د بري کوم چانس نه ليده.

د سولې په کنفرانس کې د افغانستان او پارس د انګرېزانو د مخالفت له امله شامل نه کړاى شول که سرې د جګړې په دوران کې دغه دواړه هېوادونه سره پرتله کړو نو زيات توپير په کې ليدل کېږي. افغانستان ددغې جګړې په دوران کې د هيڅ ډول پر ديو پوځونو په لاس کې نه و هيڅکله د جګړې ډګر نه و، خو پارس بيا د ناپېيلتوب له اعلانولو سره سره داسې نه و.



Ketabton.com

# د افغانستان امیر ته د جرمني د پاچاله خوا پر خپل لاس کښل شوی لیک

محترم، قدرمن د پاچاهانو ملاتړ، د دنیایي او دیني واکمنۍ ګټونکی، د افغانستان د ټولو ولایاتو پاچا امیرحبیب الله خان ته خدای ﷻ دې دده دولت او حکومت تلپاتې لري.

زموږ یو ډېر تکړه استازي (واسموس) ته دا دنده ورکړل شوې چې دغه د خواخوږۍ او ملګرتوب لیک تاسو محترم او دافغانتسان ننګیالي او نامتو ولس ته وړاندې کړي.

ما خپل استازي ته امر کړی چې په دغه لیک کې د لیکلو شویو ټکو په اړه له تاسو سره مخامخ هم خبرې وکړي.

د سلګونو کلونو په اوږدو کې، په اسیا او افریقا کې، یوه لویه برخه مسلمانان د اروپایي اولسونو تر تیري لاندې دي. دوی په دغه تیري سره په چل ول او څرګنده ناروا دغه اولسونه د خپل ظلم په منګولو کې نیولي دي د اروپا له دغو اولسونو سره زه اوس پر یوه سخته جګړه بوخت یم. زما د دښمنانو د توطیو له امله زه دغې جګړې ته اړ شوی یم د خدای ﷻ په مرسته، ما او زما تکړه پوځ وکولای شول چې ټولو دښمنانو ته سخته او کلکه ماتې ورکړي.

د خدای ﷻ په مرسته به زما دا پاچاهي ټول دښمنان، چې د اسلام کلک دښمنان هم دي، ډېر ژر ختم او پر ګونډو کړي.

خلیفه او دیني مشر (خلیفة المسلمین – Titular) سلطان محمد رشید، چې زما کلك ملګری دی هغه به هم دې جګړې ته راداخلېږي او ټول به لاسونه سره ورکوو او ددغو ګډو دښمنانو پر وړاندې به جنګېږو.

اوس چې د دغو اولسونو لاسونه ما د اروپا د جنګ په میدان کې تړلي دي نو دا امکانات ورته نه دي پاتې چې له اروپا سربېره په کوم بل ځای کې خپله پوځي خواکمني څرګنده کړي ځکه خو اوس دا وخت رارسېدلی دی چې مسلمان اولسونه هم چې اوږده موده یې ددغو یرغلګرو ظلم او زور زغملی دی له خپلو لاسونو دغه زنځیرونه وشلوي.

زه په دې باوري یم چې تاسو محترم به هم له دغې ارزښتناکې شېبې څخه ګټه واخلئ او وبه غواړئ چې د خپلو ګاونډیانو، انګرېزانو او روسانو څواکمنۍ له خطر



Ketabton.com

خخه چې ستاسو پاچاهۍ او د افغانستان اولس ته، ګواښ جوړوي خان بې غمه کړئ زه باور لرم چې ستاسو دولت په خپله نړدې سیمه، هند، بلوچستان او روسیې - اسیا کې د یرغلګرو تر ظلم لاندې پرتو اسلامي اولسونو سره د هغوی د خپلواکۍ په جګړه کې د خپل تنګیالي افغان پوځ له لیارې مرستې ته چمتو دي.

لکه چې تاسو ته څرګنده ده له پخوا څخه زما دا هیله وه چې ټول اسلامي اولسونه آزاد او خپلواك ووینم. په دې توګه نو زما په زړه کې یوازې اوس دغه هیله نه ده چې له اسلامي اولسونو سره د خپلې ازادۍ په جګړه کې مرسته وکړم بلکه په راتلونکې کې به هم د خپل جکومت له لیارې مرسته ورسره کوم.

زما اولس هم له ماسره په دغه خواخوږۍ کې شریك دی چې مسلمان اولسونه پرمختګ وکړي د جرمني اولس او د مسلمانانو ترمنځ دغه اوسني په زړه پورې اړیکې به له جګړې وروسته هم همداسې په زړه پورې پاتې شي زه به په تلپاتې توګه له اسلامي اولسونو او په ځانګړې توګه له محترم خلیفه او تاسو محترم سره ملګری یم زه خدای ﷻ ته دا دعا کوم چې ستاسو په پاچاهۍ کې دې د بري لمر د وړیځو له شپول پرته، تلپاتې لري.



Ketabton.com

# د جرمني پاچا ته د امير ليک

## ۱۹۱٦ کال- د سپتمبر ۱٦

**(۱) دليک پر پاکټ:**

که خدای(ﷻ) غواړي نو دغه د ملګرتوب ليك دې د جرمني قدرمن پاچا ته عزت ورکړي چې پاچاهي يې پراخېږي او قوت او زور يې لوی دی.

دغه ليك د ۱۳۳۴ (سپوږميز) کال د ذولقعدې مياشت په ۱۷ نېټه چې د ۱۹۱۶ ميلادي کال د سپتمبر مياشتې له ۱۶ سره سمون خوري، د افغانستان او پر هغه پورې د تړليو سيمو د لوی پاچا سراج الملة والدين له خوا کښل شوی دی.

**(۲) دليک متن:**

دغه ليك د جرمني دولت ځليدونکي، لوی، قدرمن، د زور او قوت لرونکي پاچا ته د عزت ورکولو هيله ده چې د ملګرتوب پر بڼکه ليکل شوی دی.

ستاسو له عزته ډك، ښکلی او د ملګرتوب ليك چې ستاسو خواخوږي هم ورسره ملګروه راورسېد او د ملګرتوب د ډالۍ په څېر مو ومانه.

زه هم ستاسو ملګری، تاسو ته د ملګرتوب سلامونه درلېږم. ستاسو د محترم ليك او د خواخوږۍ د احساساتو په ځواب کې پردې تکي ټينګار کوم چې له موږ سره ستاسو په ملګرتيا کې دې خدای برکت واچوي.

په پای کې دا هيله لرم چې د عزت، د هيلو د تر سره کېدلو او د پاچاهۍ او واك ورځې دې خدای (ﷻ) اوږدې کړه

د ۱۳۳۴ د ذولقعدی مياشتې ۱۷ مه نېټه

چې د ۱۹۱۶ ميلادي کال د سپتمبر له ۱۶ سره سمون خوري

ستاسو د پاچاهۍ خواخوږی ملګری

امير حبيب الله خان سراج الملة - والدين



Ketabton.com

# د جرمني دولت او افغانستان تر منځ تړون - اکتوبر، ۱۹۱۶

د افغانستان او جرمني د مشرانو او ولس دا هيله او برخليك دى چې په راتلونکي کې په خپلو سيمو کې خپلواك ژوند وکړي او له خپلو عنعنو او قوانينو سره سم و اوسېږي ددغو دواړو پاچاهانو د هوښيارتيا پر بنسټ، دوى په دې پوه شول چې د اولسونو د پرمختيا او سترتوب لپاره بايد له نورو آزادو اولسونو سره سوداګريزه او اقتصادي ملګرتيا وکړي چې د همدغو لاملونو له مخې دواړو درنو پاچاهانو:

محترم سراج الملته - والدين امير حبيب الله خان د دولت خدا داد - افغانستان پر پاچاهۍ پورې تړليو دولتونو پاچا او محترم د جرمني امپراتور او د پرويش پاچا د جرمني دولت په نوم دغه پرېکړه وکړه چې دغه لاندې تړون سره لاس ليك کړي چې خداى (ج) دې په کې د پاچاهانو او اولسونو لپاره برکت واچوي.

## لومړۍ ماده:

زه د جرمني پاچا په ډېرې خوښۍ سره په دې خبره پوه يم چې د افغانستان محترم امير حبيب الله خان د لوى عبدالرحمن خان زوى او د بارکزى ټبر غړى چې له پخوا راهيسې يې د افغانانو ملك ته اميران ډالۍ کړي دي د خپلو پلرونو تاج يې په کابل کې ساتلى دى او له خپلوګاونډيانو څخه په پوره آزادۍ او خپلواکۍ کې خپله واکمني چلوي.

له دې امله زما لويه هيله داده چې د امير يو استازى، لکه د نورو ازادو مشرانو استازي چې زما ترڅنګ دي، دلته راشي او په دايمي توګه يې په خپل څنګ کې ولرم د نومړي له خوا به زه خبرېږم چې دده مشر زما او زما د هېواد په اړه په ښېلابېلو چارو کې څه خيال او سوچ لري نومړي استازي ته به د جرمني د پاچاهۍ له خوا لکه د نورو ازادو هېوادونو د استازو په څېر خپل حقوق، ازادي او عزت ورکول کېږي.

## دويمه ماده

زه حبيب الله خان د افغانستان د ټولو ولاياتو امير دغه هيله لرم چې د جرمني د واکمنۍ استازي ته به راغلاست ووايم او په دايمي توګه يې د خان په څنګ کې وګورم زه به نومړي ته هر ډول ازادي، مرسته، حقوق او عزت ورکوم،



Ketabton.com

لکه نورو ملګرو او ازادو حکومتونو ته چې ورکول کېږي. دده له خوانه په زه په هره برخه کې دده د مشر له نظره خبرېږم

## درېمه ماده:

له ديپلوماتيکو استازو سربېره دواړه لاسليکوونکي حق لري چې د يو بل په هېوادونو کې د تګ راتګ او سوداګرۍ د اسانتياوو لپاره قونسلګرۍ پرانيزي په هغه بل هېواد کې د کار له پيل او منلو مخکې به د ديپلوماتيکو چارو استازي په دې اړه وړانديز کوي ددغو کسانو ساتنه به لکه دديپلوماتيکو استازيو غوندې کېږي.

## څلورمه ماده:

له يو څخه تر دريو پورې استازيو ته به د خپل پاچا له خوا يو لاسليک شوی سند ورکول کېږي چې هغه هېواد ته له رسېدو سره سم به يې د خپل کار له پيل څخه مخکې مسئوول مقام ته سپاري تر دې وروسته چې دوی ومنل شول او د کار اجازه ورکړل شوه نو دوی کولای شي چې د خپلو هېوادو پر بېلابېلو چارو پورې اړونده څانګو سره اړيکې ټينګ کړي او هلې ځلې ورته وکړي.

## پنځمه ماده:

د پرېکړه کوونکو هېوادونو استازي چې د يو او بل په هېواد کې اوسي، دا حق لري چې هلته له تعقيب پرته په ازادۍ سره د سوداګرۍ اعلانات او سفرونه وکړي د دوی د تګ راتګ په لاره کې به خنډونه نه جوړېږي.

## شپږمه ماده:

دواړه پرېکړه کوونکي هېوادونه به ددغو استازيو سر او مال محفوظ ساتي او د خوندي ساتنې ډاډ به ورکوي.

## اوومه ماده:

دواړه پرېکړه کوونکي هېوادونه به د يو او بل استازيو ته ځانګړي حقوق ورکوي او مرسته به ورسره کوي په ځانګړې توګه به ګمرکي امتياز ورکول کېږي لکه د نورو هېوادونو استازيو ته چې ورکول کېږي.

## اتمه ماده:

د جرمني د دولت کسانو او استازيو ته به دا حق حاصل وي چې په افغانستان کې د هر ډول مخابراتو او د اړيکو د ټينګولو له وسايلو څخه په هغه بيه



Ketabton.com

گته واخلي چې ددې هېواد د اوسېدونکيو او يا نورو هېوادونو کسانو لپاره تاکل شوې ده

## نهمه ماده:

دغه اوسني تړون به دايمي بڼه لري او د پرېکړه کوونکو هېوادونو د راتلونکو حکومتونو لپاره به اعتبار لري. که کوم پرېکړه کوونکي هېواد او يا د هغه راتلونکی څوك ددغه تړون پای ته رسول غواړي نو بايد يو کال مخکې د خپل استازي په وسيله دويم هېواد ته خبر ورکړل شي.

دغه تړون به له هغې ورځې څخه يوه مياشت وروسته د عمل ډگر کې کېږي چې د جرمني د واکمن له خوا په جرمني کې د يوې لوې جشني لمانځنې په لړ کې لاسليك شي او د افغانستان د ټولو ولاياتو پاچا امير حبيب الله خان هم دغه تړون ومني.

د افغانستان د ټولو ولاياتو پاچا امير حبيب الله خان او د جرمني د دولت استازی به د دغه تړون دوه کاپي ولري.



Ketabton.com

# د جرمني دولت او افغانستان ترمنځ تړون

## چې په کابل کې د فون نیدرمایر او فون هینتینګ له خوا تر سره شوی دی - جنوري / ۱۹۱۶

د افغانستان د لوی حکومت او د جرمني د لوی حکومت ترمنځ د ملګرتیا راتلونکی تړون به د افغانستان د پاچا او د جرمني د پاچا له خوا ترسره کېږي. دغه تړون به په اوسني او راتلونکي وخت کې د افغانستان او جرمني د حکومتونو لپاره لازښود وي

(۱) د افغانستان حکومت به د خپلې خپلواکۍ او سیاسي آزادۍ اخیستل پیلوي.

(۲) د جرمني حکومت په دا ژمنه کوي چې د افغانستان له حکومت سره به هومره مرسته وکړي څومره چې یې وس رسېږي، د افغانستان خپلواکي به مني. ده اتریش، ترکیې او بلغاریا حکومتونه به دې ته اړباسي چې دغه حکومتونه یې هم په رسمیت وپېژني

(۳) د افغانستان حکومت به د خپلې پوځي ځواکمنۍ لپاره هلې ځلې کوي او له پارس، هند او روسي ترکستان سره د د سیاسي اړیکو د ټینګولو هلې ځلې به هم پېلوي.

(۴) د جرمني حکومت دې ته چمتو دی چې د افغانستان حکومت ته یو لک (۱۰۰۰۰۰) نوې ټوپکې، درې سوه توپې، هر ډول لویې او وړې وسلې – له خپلو مرمیو سره او ددې په څنګ کې د جنګ نور هر ډول سامان الات او لس میلیونه پونډه ورکړي دغه شیان به د مرستې په توګه وي. ددې لپاره باید د پارس لاره خلاصه شي چې افغانستان ته د افسرانو، انجنیرانو او نورو کارکوونکو لپاره د راتګ لپاره بې خنډه وي دغه کسان به د افغانستان د حکومت په واک کې ورکول کېږي، د افغانستان له خوا به منل کېږي او د افغانستان د حکومتي مامورینو په څېر به چلند ورسره کېږي.

(۵) د افغانستان دولت به په داسې وخت کې له دغو څېزونو څخه کار اخلي چې ډېره اړتیا ورته ولري او کارول یې بیخي ختمي دي.

(۶) که چېرې افغانستان جګړې ته راداخل شي او یا د هېواد پوځي او کورنیو سیاسي حالاتو په اړه ښېرنې ګامونه اوچت کړي نو د جرمني حکومت دې ته چمتو دی چې د افغانستان د حکومت په خوښه په جنګ کې د بایلل شویو



Ketabton.com

سیمو او یا د غلیمانو له خوا د نیولو شویو سیمو د بېرته اخیستلو په کار کې ملاتړ وکړي.

(۷) د افغانستان حکومت، فون هینتهنگ د جرمني د استازیتوب د سکرتر په توګه مني او خپل یو استازی پارس ته لېږي چې هلته په پټه د جرمني، اتریش او ترکیې له استازویو سره اړیکي ټینګ کړي او هر کله چې مناسب وخت راورسېد نو خپل ځان به د افغانستان د وزیر په توګه ورپېژني. د سولې د تړون په وخت کې به یو کس چې دسولې د کنفرانس لپاره مناسب وي د افغانستان په استازیتوب ونډه اخلي.

## (۸) پر استازیو پورې اړه لري:

الف: د استازیو ساتونکي (محافظین) به له شلو څخه تر دېرشو کسانو زیات نه وي.

ب: د استوګنې لپاره ورته د څلوېښت زره متر مربع زمکې د اخیستلو اجازه شته دی چې د استازیوو لپاره دفتر په کې جوړ کړي.

ځ: د دولتونو استازیو که په افغانستان کې کومې ځانګړې غوښتنې لرلې، نو د افغانستان د قوانینو له مخې به یې پرېکړه کېږي او پر استازیو پورې کومه اړه نه لري. د بېلابېلو سوداګریزو او نورو چارو په اړه چې تر اوسه پورې په افغانستان کې کوم قوانین نشته، نو د افغانستان حکومت به ورته نوي قوانین راباسي.

(۹) له عمومي سولې وروسته به د افغانستان او جرمني د حکومتونو له خوا د سوداګرۍ یو داسې تړون لاسلیک کېږي چې د دواړو خواوو پرې توافق شوی وي.

(۱۰) دواړه هېوادونه به ددې تړون په اړه هغه وخت ځانونه ژمن بولي چې د افغانستان د حکومت استازي ته، په پارس کې د جرمني د حکومت له خوا ددې تړون د منلو داډ راورسېږي.

## د لوی پاچا لاسلیک

زه د افغانستان د لوی دولت په نوم دا هیله لرم چې د جرمني له محترم حکومت سره دغه تړون تر سره شي.

سراج الملة والدین

د ربیع الاول /۱۸ نېټه



Ketabton.com

د کیمان نید رمایر او هینتهیگ لاسلیکونه

د افغانستان حکومت د جرمني له حکومت سره ملگرتوب غواړي او هغه هم په یورسمي تړون کې زه ددې تړون یوه کاپي د جرمني حکومت ته لیږم. دا چې ما افغانستان په خپلو سترگو ولید نو دا هیله او غوښتنه لرم چې د جرمني حکومت به دغه تړون ومني

د ۱۹۱۶ کال د جنوری ۲۴

د نیدرمایر لاسلیک — د هینتهګ لاسلیک



ACKU
Ketabton.com

# بېتمن هو لوېگ ٠ ته
# د نصرالله لیک

ستاسو د دولت استازي او پوځي افسر فون هېنتېګ ستاسو محترم لیک، زما قدرمن پاچا ته وروسپاره او هغه زما لوی پاچا ته "راجا مهندراپرتاب" هم ورو پېژانده لوی پاچا هغوی له خپل ځان سره په ځنګ کې کېښنول او د افغانستان د حکومت په سپېڅلو مېلمنو کې یې شمېري. قدرمن راجا مهمندر پرتاب مورساني خپلې هلې ځلې پيل کړې دي او د افغانستان د حکومت له خوا ورسره پوره ملاتړ او مرسته کېږي.

ستاسو له لورې په رارسېدلي لیک کې ستاسو د شاهي دولت له خوا دغه هیله ځرګنده شوې ده چې که خدای (ج) وکړي د افغانستان د پیاوړي دولت او د جرمني دولت ترمنځ د ملګرتوب همېشني اړیکي ټینګ شي. دسره یو ډول (ورته اهدافو له امله باید ددغو دواړو هېوادونو د ځواك او واکمنی ریښا وې تلپاتې وي.

ستاسو د دولت استازي فون هینتیګ ته په ګوته شوې ده چې د اوسنیو جنګي حالاتو د خینو ضروري تکو جاج واخلي او د افغانستان د دولت او د جرمني، اتریش، هنګري او ترکیې د اړیکو د پیاوړي کولو لپاره هلې ځلې وکړي چې د اړیکو دغې پیاوړتیا ته تاسو سترګې پر لار یاست. ښاغلي هنتیګ ته له لوی پاچا سره د خینو مهمو پوښتنو د ځواب پیدا کولو دنده هم ورپه غاړه ده. محترمه، ستاسو د جرمني د پاچاهی او حکومت ددغې هیلې له امله زما پاچا او د افغانستان حکومت ډېر زبات خوشاله شول.

د افغانستان دولت هم د جرمني له دولت سره د زړه له کومي د اوږدې ملګرتیا غوښتنه کوي او هیله لري چې د دواړو هېوادونو د ګډو موخو (هدفونو) له کبله او د دواړو هېوادونو د ګټو لپاره باید دغه ګډه ملګرتیا د یو تړون له لیارې لاسلیك شي.

قدرمنه، د افغانستان حکومت له فون هینتېګ څخه غوښتنه وکړه چې د افغانستان د حکومت او د جرمني د پاچاهي حکومت ترمینځ د ملګرتوب تړون ژر تر ژره ترسره شي. هینتیګ په دې اړه خیني شرطونه لرل. هغه وویل

---

* Bethmann Hollweg د جرمني پاچا و او دغه لیك د نایب السلطنه نصرالله خان له خوا ورته کښل شوی دی (ژ)



Ketabton.com

په رسمي توگه زه ځېله داسې يو تړون نه شم کولای خو زه به يې د جرمني پاچاهي حکومت ته وړاندې کړم. که چېرې ما او يا کوم بل چاته دا اجازه راکړای شوه نو بيا به د افغانستان د حکومت او د جرمني د حکومت دغه تړون رسمي بڼه غوره کړي

داچې هينتيګ هيله کړې چې خپل هېواد ته د تګ اجازه ورکړای شي نو زه تاسوته دا ليک کاږم او ورسره د افغانستان د پاچاهي حکومت له خوا د همېشنی ملګرتيا هيله ملګرې ده. په دې ليک کې دا هيله هم مله ده چې د افغانستان د حکومت او د جرمني د حکومت ملګرتيا ژر تر ژره له خبرو څخه د عمل پړاو ته ورسېږي.

ستاسو روغتيا او سلامتيا زما لويه هيله ده.

PROPERTY OF ACKU ۹۱۱۹

PROPERTY OF ARIC Established 1989



Ketabton.com



## خوشال انځور

(Khoschal Anzor)

پر ۱۳۵۹ لمریزکال په کابل کې زېږېدلی دی.
لومړنۍ زده کړې یې په کابل اوبیا په پېښور کې ترسره کړې دي. له شپږوکلو راهیسې د جرمني دکولن په ښار کې اوسېږي او دلېسې په لسم ټولګي کې زده کړې کوي.
دایې لومړنۍ چاپېدونکې ژباړه ده او همدارنګه یې له جرمني ژبې څخه یو شمېرلنډې کیسې پښتوکړي . دغه رازیې یو شمېرپښتو لنډې کیسې په جرمني ژباړلي اودټولګو په توګه یې چمتو کړې دي.
دشعریوه ټولګه هم لري او یوشمېر لنډې کیسې یې هم لیکلي دي.

ACKU

Ketabton.com

دنیدرمایر په دغه یونلیک کې دلومړی نړیوالې جګړې په بهیرکې دافغانستان دمعاصر تاریخ په اړه ډېر نوي ټکي راڅرګندشوي او ددې ژباړې په پای کې دجرمن- افغان د سیاسي اړیکو لومړنی پانې دلومړي ځل لپاره په تفصیل سره راغلې دي.

جنرال نیدرمایر دلومړی او دویمې نړیوالې جګړې برخه وال و او دجرمني له ماتې وروسته په جرمني کې دروسانو له خوا بندي او دهمدغو روسانو په زندان کې یې له نړۍ څخه یې سترګې پټې کړې.

دافغانستان دکلتورې ودې ټولنه – جرمني
VEREIN ZUR FORDERUNG DER
AFGHANISCHEN KULTUR E .V
دخپرونو لړ : (۱۴)



Ketabton.com